SHAFAQ

شفق

ارگان نشراتی حزب اسلامی افغانستان



ددي خبري هسي تصورهم بيځايه دي
چي دروس اوامريکا په توافق به په
افغانستان کي کوم حکومت منځ ته راشي

فضل حق "مجاهد"

دتهجد بدله

حضرت ابوبکرصدیق رضي الله تعالی عنه فرمایي : لهٔ ماسره یوځوان غلام و ، نوموړی ډیرعابداوپه شوګیروعادت و،تهجدیي ډیرپه اهتمام سره اداکول اوروږی یي هم زیاتي نیولي .

یوه ورځ راغي اوخپله پیښه یي داسي بیان کړه چي دشپي مي خوب لیدلي دي ، دشپي له خوامي ونه شوکړای چي د تهجدلمانځه اداکولوته پورته شم ، په خوب کي څه ګورم چي څوتنه ډیري ښکلي نجوني رابښکاره شوي ، خویوه یکي ډیره بدرنګه هم وه ،ماله هغونښکلوپیغلوویوښتل تاسي څوك یي ؟

اودهغي بدرنګي نجلي په باب مي هم پوښتنه وکړه . ویل یي ......

موږتولي ستاتیري شپي یواوهغه بدرنګي ته یي په اشاره کولوسره وویل دادي نن شپه ده .

۲- یوبل بزرګ‌فرمایي ،یوه شپه داسي دروندخوب راغي چي سترګي مي نه خلاصیدي په خوب کي مي یوه ښکلي خوش رنګه پیغله ولیده چي په‌ژوندانه کي مي ترهغي ښکلي او ښایسته نه وه لیدلي له ښوبویونو ډکه وه داسي ښه بویونه تري راتلل چي په‌ژوندکي مي کله هم احساس کړي نه وو.

ماته‌وړاندي شوه اویولیك یي راوسپاره ،ما هغه ولوست ، پکي یي دري شعرونه لیکلي وو چي مطلب یي په لاندي ډول و:ته دخوب په مزوکي ډوب شوي یي اودجنت له ماڼیوبي پروایي ، حال داچي همالته به تل اوسي .

له خوبه پاڅه ،له ویده کیدلوپه تهجدکي قرآن لوستل ډیرغوره دي .....

تردي پیښي وروسته به چي کله خوب پرماغلبه وکړه نوسملاسي به هغه پیښه رایاده شوه اوخوب به مي وتښتید.

۳۱- شیخ مظهرسعدي ،رح، یوه شپه په خوب کي ولیدل چي دیوه ښکلي نهرپرغاړه ولاړدي ، دنهر پرغاړه ډیري تروتازه او ښایسته ونې ولاړي دي هوایي تازه اوتنګي ښاخونه ورو ورو ښوروي اوڅو ډیري پیمخي اوتنکي تنکي پیغلي په لوړاوازدخدای (ج) په حمد اوثنامشغولي دي .

شیخ تري په حیرانتیاسره وپوښتل ؛ تاسي څوك یاست ؟ په ځواب کي یي هغوسپیڅلیوپیغلودوه شعرونه ولوستل ، مطلب یي داو چي مونږ دبندګانو څښتن اودمحمد صلي الله علیه وسلم پروردګاردهغوخلکولپاره پیداکړي یو ، چي په شپه کي دخپل خالق په حضورکي ولاړوي اوثنایي وایي .

،،دادري واړه پیښي علامه بجویري نقل کړي ،،

شرح پشتي : دهي که ازجانب کمونستان وطن فروش خلق وپرچم بمباردشده به ویزانه یي مبدل ګردانده شده وساکنین آن آنهائي که ازبمبارد جان به سلامت برده اند ،راهي دیار هجرت شده اند .

بسم الله الرحمن الرحيم

شفق
SHAFAQ

ارگان نشراتي حزب اسلامي افغانستان

دوره دوم ، سال پنجم ، شماره دهم ، برج ثور ۱۳۶۹ ش سال تأسيس ۱۳۵۹

PROPERTY OF ACKU

مدير مسؤول :
فدامحمد "فايض"

اعضاي نويسنده :
محمدرحيم "خنجر"
فضل مولا "لتون ، هاشمي"

كمپوزران :
عبدالقدوس "هوتك"
خواجه محمد اسحاق

نمبر تلفون : ۶۳۷۸۹
مديريت مجلهٔ شفق

فهرست

پيغام شفق
نجيب دگور باچوف انگي
اواوس دهيروئينو دتجارت اتهام
پرتاجكستان يوځي يرغل ؛ خو ...
گنجينهٔ تاريخي بلخ
فضل حق خالقيار دكمونيزم په چوپړكي
دظفرفونو پازوال فضل حق مجاهد سره مركه
آفاتي كه نهضت اسلامي را ...
په اسرائيلوكي دروسي يهودانو ... ...
په تاجكستان كي داسلام دبيا را ژوندي
كولوغورځنګ
په اسلام كي حكومتي نظام
حكومت اسلامي چگونهٔ ساخته ميشود؟
دافغانانو معنوي پسرلي
اسلامي انقلاب دادب په ورانگوكي
دزوي جنازه
پرتصوني پولوه علامه اقبال تنقيدي مورچلونه
مفاهيم دين وشريعت
حكومت سه قدرتي روسيه
حقايقي پيرامون چگونگي نزول قرآن
آراي علماومفكرين درمورد شب قدر
داسلام سخي پيژندنه
داحد غزا
اسلام واوضاع سياسي ما
افغانستان په تيره ميوي مياشت كي
دماركسيزم پيژندنه اوګيرنه
داستان تزار
په ختيزه اروپاكي دبدلونوافيزي

سربده ، سرمسپار!

اگــــر تـــــاریـــــخ کشورشهید پروروسلحشورما باد قت مطالعه شود دیده می شودکه کوه وکتل دارد وفرازونشیب دارد . از اسکندرمقدونی گرفته تاچنگیزوانگریزوبعد تاروس وحشی وجنایتکارهمه به امید تسخیراین قلب آسیا دست به سوی آن درازکردند تاباشد باافتح آن همه براعظم آسیارابدست آرند وحتی روس می خواست ازین راه غرب رانیز تحت محاصره خود قراردهد وبرمناطق نفت خیز شرق میانه نیز سینه اندازد به همین اساس بتاریخ ۷ ثور۱۳۵۷ باسرنگونی رژیم داود خونخوار غلامان اصیل خویش را درافغانستان بقدرت رساند وبعد خود باتوپ وتانك وارد کشورماشد .

طوری که دیدیم همانسان که استعمارگران پیشین ازخاك ما مایوس ونا امید برگشتند وجز خجلت وشرمساری چیزی باخود نبردند ، همانگونه استعمارسرخ سیل پیاس بررخش خورد وپوزش باخاك مالیده شد وحال قدرت وتوانمندی نظامی روس افسانه یی بیش نیست .

ملت مومن مادرنخستین لحظات دست درازی روس به کشورما دست بجهاد ومبارزه زد، سرداد وسرنسپارید . دادن یك ونیم ملیون شهید

درمبارزه بادیواستعمار برای حصول آزادی کشور واقامه حکومت قرآن کارسهل وساده یی نیست اگر خون یك ونیم ملیون انسان رایکجا کنیم آیا سیلی ازخون تشکیل نخواهد شد؟ جواب مثبت است ولی باید عرض کرد حال فرصت آن رسیده است که باخدای ناخواسته این سیل خون به هدررود ویانتیجه مثبت تحویل دهد _ ملت برای آنچه قربانی داد آنرا بدست آرد .

حال وقت آن است که ملت مومن افغانستان بیش ازهروقت دیگر هوشیار باشد، جریانات ومسایل جهانی درارابطه باانقلاب خونبارافغانستان را باید وبصیرت مومنانه ببینند وتعقیب کنند . گرچه مابه نصرت خداوند(ج) وایثاروقربانی خویش توانستیم روس را ازخاك مان برانیم ولی این نیز واقعیت است که اکنون درمرحله مهم انقلاب وتاریخ قرارداریم .

روس وامریکا همراه با اعوان وایادی شان متفقاً درکمین نشسته اند تانگذارند انقلاب اسلامی افغانستان به پیروزی برسد . زیرابحکم حدیث پیامبربزرگواراسلام علیه افضل التحیات والتسلیمات کفرملت واحد است ودردشمنی بااسلام متفق هستند- وازجانب دیگر بلاك غرب وشرق بیش ازهمه

ازبمیان آمدن یک مرکزیت مسلمانان سخت هراس دارند ودرین شکی نیست که امروزهمه مسلمانان جهان چشم به پیروزی انقلاب اسلامی افغانستان دوخته اندودرین را ازهیچگونه کمک باماددریغ نکردند وحتی درادعیه نمازهای پنجگانه نیز مارافراموش نکردند.

خلافت ترکیه عثمانی وداستان سقوط آن مثال عمده یی است برای ما گرچه خلافت عثمانی ممثل صددرصد مواصفات خلافت اسلامی نبودولی تنها همین نام استعمارسیاه وسرخ رابرآشفت ودرراه استیصال آن تلاشهای پیگیر ومداوم براه انداختند، توطیه ها بکاربردند تابه آرزوی نامیمون خویش رسیدند. آنهامیدانستند که همین مرکزیت فرددارای همه مواصفات خلافت اسلامی می گردد وآنگاه استعمار آرام نخواهدماند.

تقریباً دوسال قبل دیدیم که طیاره حامل جنرال ضیاء الحق رئیس جمهوراسبق پاکستان طی توطیه استعمار (که اغلباً ازطرف گماشتگان سی آی ای بدستورآن سازمان شیطانی صورت گرفت) سقوط داده شد که درنتیجه آن رئیس جمهورمذکورباجمعی از صاحمنصبان ارشد اردوی پاکستان به شهادت رسید. مبصرین یکی ازعوامل عمده یی که سی آی ای رادربرابر جنرال شهیدبخشم آورد ودست بچنین جنایت بزرگ زد نظریه «پان اسلامیزم» میدانند که قلب جنرال ضیاء الحق برای تحقق آن می تپیدولی استعمارحتی بودن این نظریه درمغز وسینه یک مسلمان راتحمل کرده نتوانست ودرین شکی نیست که درشهادت جنرال ضیا «کاجی بی» نیزباسی آی ای همنظر وهمیاربوده است.

مایکباردیگر ملت مجاهد وقهرمان خودرا متوجه می سازیم واتمام حجت می کنیم که نگذارندثمرانقلاب اسلامی ماکه نهال آن به خون یک ونیم ملیون شهیدواشک صدها هزاربیوه ویتیم آبیاری شده بدامن اغیار بریزد راه ثمرگیری ازانقلاب اسلامی ما وحدت صفوف وتزکیهٔ آن ازعناصرناپاک وخاین به دین وملت ومیهن وتصمیم قاطع وخلل ناپذیردرراه ساختن حکومت اصیل اسلامی است.

آبادی بتخانه زویرانی ماست
جمعیت کفرازپریشانی ماست



دمومند دری دجبهی مجاهدین ددښمن پرپوستودعملیاتو په نیت روان دی

سياسي تبصره

"سباوون، مومند"

نجيب دګورباچوف انګی

ګورباچوف چې نن سبا يو غرپربل ولی، دايې دوخت او حالاتو غوښتنه ګڼلای شو.

که تراوسه، خطريوازی کمونيزم ته متوجه و، اود هغه دژغورنې له پاره به روسی واکمنو لاس وپښې وهل؛ نوپه دې وروستيو کې يوه بل خطرهم روسی واکمنو ته پټون وتپاوه. او هغه دايللو اولسود آزادی غوښتنې غورځنګونه وو، چې بالاخره دروسی امپراتوری پرويش اوتجزيې منتجيدل. نواوس روسی واکمن په دووکې راګيررو: يايې بايد دکمونيزم لکې راټينګه کړی وای، چې پدی صورت کې له کمونيزم سره روسی امپراتوری هم سرخوړ، اويايې بيا دروسی امپراتوری ژغورنې اوبچاوته کارويلی وای، په دی صورت کی که کمونيزم سرخوړ، ورځه امپراتوری خوله دړی وړی کيدو بچيده (!)

ګورباچوف په خپل وار ترخپلو پخوانيو اواسلافوزيات دی دويمنی صورت ته ترجيح ورکړه، او داځکه چې دده دواکمنی په دوره کې دبل هروخت په نسبت دروسی امپراتوری ددړی وړی کيدو خطرغاښونه تيره کول. دسره پوځ دنه ماتيدو ريکاردپه افغانستان کې مات شوی و، نوردپخواغوزندی ورځنی دچا دومره سترګه نه سوه.

که څه هم ځينی دګورباچوف اصلاحات (!) په يوه بله پنه دکمونيزم د وړاندی کولو او انځورلوپه لارکی يوه پرګای هڅه ګڼی. لکه دبوټو دوخت دماليې وزير (؟) ډاکتر مبشر حسن چې په يوه ليکنه کې د ګورباچوف اصلاحات د« لوتر» اصلاحاتو ته ورته بولی، او ليکی: لکه څرنګه چې دلوتر اصلاحات له مسيحيت څخه د سرغړاوی په عنوان نه وو وړاندی شوی، همداسی دګورباچوف دا، هم کمونيزم نه نفی کوی؛ بلکی په يوه نوی اومعقوله بڼه دهغه دوړاندی کولو تکل دی.

خولکه چې دمبشر حسن خان ديته نه دی پام شوی، چې لوترد« پروټستانټ » مذهب په رامنځته کولوسره د«کاتوليك » اوکه بهترووايو دمسيحيت ستنې ولړزولی. داسهی ده چې نوم خوهماغه دمسيحيت و؛ خوتقدس يې پايمال شو. همدغسی ګورباچوف هم دخپلو اصلاحاتو په عنوانولو سره کمونيزم ته سخت ګوزارورکړ، چې لاتيری يې دلوتر پرعکس، دخپل مسلك له دايری، چې کمونيزم دی، دوتوزيری هم ورکاوه.

داچې دګوربناچوف اصلاحات ترکمونيزم زيات دروسی شاهنشاهی دبرم اوپرتم دژغورنې په خاطر ګڼو، دخپلی دغی ادعا داثبات له پاره ګڼ دلايل هم لرو. دلته يوازی زموږ داتليو اوسربندنو په رڼاکی دی موضوع ته يوځغلند نظر اچوو:

پيړۍ نيمه به کيږی، روسی ښکيلاکګر زيارباسی چې لکه دخپلو نورو اتمارو او سپورميو

زموږ مسلمان هیوادهم پرخپله سپوږمۍ بدل کاندي . چې لا له هغه څخه دهندسمندر ته درسیدو په لارکې دیوه پله په توګه کاراخیستل هم غواړي . شاعراسلام علامه اقبال (رح) دخپل یوه شعر په ترڅ کې ، په دغه هڅه اوموخه کې سره زاریان او بلشویکي کمونیستان ورته ګڼي ، لکه چې ویلي یې دي :

کشمکش برسرهنداست
تودردرګه آن
این سخن توصیه از«پتر» به
«لینن» باقیست .

نوددغه کرغیړن مرام دترسره کولو له پاره روسي واکمنو زښت زیات مشکلات پرغاړه واخیستل . دداود اوتره کي کودتا ګاني یې وکړې ، اوچې پرهغو ونشوه ؛ نوپه خپله یې پایڅې رابډوهلې ، اوپه رنهاورځ یې دټولو نړیوالوموازینوپرخلاف زموږ پرمیړني هیواد یرغل راووړ .

خواوشالس کاله دوه دوه نیم لکه سره پوځ زموږ هیواد ولوټاوه . په دې لس کاله کې به یې دمسکو پروپاګندې ماشین په پرله پسې توګه راتګ اوپاتیدل انترناسیونالیستي دنده ګڼله . دکابل راډیو ډندورچیانوبه هم ورته بیخرته دغه راز اصطلاحات کارول . که وویل شي چې دمحدودوقطعاتو اصطلاح خوبه په شواروزکې ترزر کرتوهم زیاته استعمالیده ، بیځایه به نه وي .

لیکن ، یو دم یوسل اتیادرجې شاګرځ وښودل شو . ګورباچوف دتوقع پرخلاف افغان ربړه دروس له پاره « ناسور» وګڼله .

روسي پارلمان دسره پوځ یرغل وغانده ، اوان چې یوشمیر هغو صاحبمنصبانواوعسکروچې په افغانستان کې جنګیدلي وو، ورکړای شوي بهادري پرځمکه وویشتې اودهغو ساتنه یې دځان له پاره عاروګڼله .

خولکه دمخه موچې ورته نغوته وکړه ، داټول هرڅه دمجبوریت له مخې وشول .

اوکه ددغه مجبوریت په پام کې نیوو سره دګورباچوف شاګرځ کومه بې ننګي ونه ګڼله شي ، اوسوي (لیټکی) ورپسې رنانکړای شي ، دومره باك نلري . مګر نجیب شاه څرنګه دخلکو په سترګو کې ورننوځي، اوپه کومه خوله پرافغانستان دروسي پوځو یرغل غندي؟ دې خوروسي ټینك افغانستان ته راووړ. دده اقتدار خو پرولوی دورځي په نرخ خوړل پکاردي . نوځکه یې له ځانه دګورباچوف انګیږ جوړه کړیده . هغه چې څه فرمایي ، دی یې لکه دلوډسپیکر انتقالوی . له تحلیل سره یې دده غرض نشته . که ویل یې چې ورځ ده ، ورځ ده . اوکه فرمایل یې چې شپه ده نوشپه ده . هغه دپارسي ژبې دنوماندشاعر حضرت سعدي علیه الرحمه خبره چې ؛

اګرشاه روز راګوید شب است این
بباید ګفت اینك ماه وپروین .

دانګې اولوډسپیکر خوله تحلیل اوتجزیې سره څه کارنه وي ، اوبیا چې انګۍ هم دنجیب شاه غوندې مزدور اواجیر شخص وي؛ نوراشه که یې ګوري !

دانګې اولوډسپیکرخوله تحلیل اوتجزیې سره څه کارنه وي ، اوبیاچې انګۍ هم دنجیب شاه غوندې مزدوراواجیرشخص وي ؛ نوراته که یې ګوري !

دیرغلګرروسي پوځ پوروړي اومرهون منت دی . رښتیا خبره داده چې له ده سره خوداورخبرې ډیرې بې مناسبه بریښي . خو څه وکړو؟ اخیر دې هم مجبور دی؛ مزدور اواجیردی کنه !

دې نیرخولکه چې دخان اوبانجانو دکیسې په مفهوم ځان ښه پوه کړیدی خان پروټ یرغل تائیداوه، اونن یې ردوي . زموږ دخان دنوکر هم له دې سره څه کارنشته چې یرغل معقول و، اوکه نه ؟ خوچې خان وغانده ، له دې یې دنه معقولیت ښه دلیل بل کوم کیدای شي ؟ دده خو دامین ، هونیکر اونورو له انجامه هم‌دازده کړي ، چې

هسې خو فرانسوي معاصر اګزیستانسیالیست فیلسوف اولیکوال « ژان پل سارتر» په خپل یوه اثرکې دختیز هیوادو د روښانفکرو په باب کاږي چې : موږدغه ښاغلي (۱)د فرانسي ، انګلیستان اونورو غربي هیوادوپوهنتونوته راولو، اوورته زموږ دکړنود پېښواوتقلید چل ورزده کوو. کله چې پوه شوو چې نوریې ځانته دلوډسپیکربڼه غوره کړې ؛ نوبیرته یې خپلوخپلوهیوادوته استوو. بیا چې موږ څه وایو، هغه دوی هم وایي ...

خوزموږپه اند دسارترد مقلدینو اودنجیب ترمنځ یوعمده توپیرشته ،

اودهغه پراساس ، هغوی دنجیب
هومره گرمول نه دی پکار .
هغوی چی دخپل ټولنی
نیمگړتیاوی اوورسره بیاپه غرب
کی یوڅه نسبی آزادی گوری ؛
نودیته اړکیږی چی دغرب هره
داپه زړه پوری وگڼی .
دومره سیاسی بصیرت خولری
نه ، چی دغرب کرغیړنه څیره
پری ولیدای شی .
خوددوی پرعکس نجیب چی
دروسی پرغلگرپوځ په لاس
دخپلو(!)
یونیم میلیون افغانانو دوژنی
اوشهادتو شاهد هم دی ،
اوبیاهم دوست اودوښمن سره
نه بیلوی ؛ نودهغوی په پرتله
دده سرسپردگی دزیاتی
غندنی وړده .
چی لا دااجیر بیا کله
دسمونوال اومصلح پوزهم ځانته
غوره کوی . ملت مخاطبوی ، له
وسله وال اپوزیسیون (!) او
افراطی ډلو (!) څخه خبری
کوی ، دملی پوخلاینی نغاره
ډنگوی ، اولنډه داچی څه یی
ورته باداروایی ، یی له کوم
کموالی اوزیاتوالی یی انتقالوی .
گورباچوف اونجیب چی څه
کوی ، ورڅه ، دخپل غرض
رانده دی .
هغوی خوله خپل غرض پرته
اصلاً نورڅه وینی نه (!)
طرفداریانتیا وړداده چی دنوری
نړی دضمیر سترگی څله لیدل
نه کوی ؟ ددغسی یوی
بروبنوونکی فاجعی عاملین
اورامنځته کوونکی څرنگه
مصلحین گڼلای شی ؟ دغربی
نړی مطبوعات دی چی

نجیب دگورباچوف دلوړسپیکرحیثیت لری څه چی هغه وایی .دی یی انتقالوی .

درگرده دگورباچوف صفتونه
کوی ، نه پوهیږو دگورباچوف
پرکړنو ولی پرده رااچوله
کیږی ؟ ددوی نظرله ظواهرو
ولی نه تیریږی ؟!
دگونددسکرترجنرالی له
پاره دگورباچوف دکاندیند
ولوپروخت گرومیکو ویل و ،
چی : « په ظاهره
خودگورباچوف خوله له خندا
ډکه ښکاری مگرغاښونه یی
داوسپنی دی ». دی غاښو چی
څومره وگړی په افغانستان ،
تاجیکستان ، آذربایجان او...
کی داړلی اوله ژونده یی
محروم کړی ، پرهغو ولی
سترگی پټیږی اوپه ډاگه
گورباچوف ته ولی دا نه ویل
شی چی : هغه دانسان په
جامه کی یوځیروونکی شرمښ
دی .
هلته چی په پولینډکی
دیوڅه وخت له پاره ، دغربیانو
په اصطلاح بشری حقوق
تر پښو لاندی کیږی ؛
نواعتراضونه غوړوونه کیږی ، ته
به وایی چی خدای(ج) مکره
آسمان راپرېوتلی دی . همداراز
بیاکله چی دمسیحی مذهب
لیتوانیاوالو له روسلی واکمنو
سره جزپ پیښیږی ، په خپله
گورباچوف هلته ورځی ، ورسره
کښینی ، اوپرستونزو ورسره
غږیږی . څکه گورباچوف
پوهیږی که داسی ونکړی ،
امریکا پری سترگی راپرگوی
خوورسره جوخت بیا چی په
آذربایجان کی دغه راز ستونزه
راپیداکیږی ، له یوی دغسی
دافهام اوتفهیم په فضا کی
ورسره دخبرو اترو پرځای
ټینکونه ورلیږه شی .
دالاښه ده چی په دغو ټینکو
سره یی په افغانستان کی سوبه
نه ده په برخه شوی ، گڼی بیا
خوبه تېری دنړی په یوه گوټ
کی هم چا دغځیدلیو پښو
خوب نه وای کړی . له بده
شامته دآذربایجانی وینه ، وینه
نه ده . که توئیږی پروانلری .
اخیر ، دابشری حقوق چی
غرب پری نازیږی ، دکوم
مرض دواده ؟ اوکه نه
دایوازی دمسیحی بشر له پاره
دی ، دعام بشریت له پاره نه
دی ؟!
دآذربایجان په اړه ، غرب
په خپل بی پلاره موضعگیری
ښه داوښوده چی له اسلامی
امت سره یی لاوس هم معامله
دصلیبیت داصولو پراساس ده .
سره له دی چی موږته خودا
وایی چی نوربایډ ددین
اومذهب په نامه جنگ جگړی
ونشی ، ددغسی خبرو وخت
نورتیردی ؛ خوپخپله هرکارچی
کوی دمسیحیت دلیدله زاویی
یی کوی .
غرب خپله کرغیړنه څیره په
افغانستان کی دبدلانه اوتحول
راوستو دډنډورو دغږولو
پروخت ښه تراوښوده .
ظاهرشاه څولاڅه چی داشپی
ورځی دنجیب له پاتیدوسره هم
سرخوځوی .
زموږله اسلامی انقلاب سره
دغرب دمیرځی اودوښمنی
تردی غټ ثبوت بل څه
کیدای شی چی له موږسره په
راتلونکی حکومت کی ، چی
نوم به یی اسلامی وی ، په
روسی ټینک کی دراوړل شوی
نجیب شاه پرکښینولو ټینگار
کوی . دغرب له خوا دظاهرشاه

پاتی په (۹۹) مخ کی

اواوس

دهیروئینو دتجارت اتهام !

په دې شپږو ورځو کې چې دمسکو او واشنګټن ترمنځ دافغانستان دلغیې په سر دخائنانه سازش امکانات ورځ په ورځ دزیاتیدو په حالت کې دي ، دمجاهدینو اوخاصتاً دحزب اسلامي پرخلاف دغربي آژانسونو زهرجن اودرواغجن تبلیغات هم دهمدې سازش دامکاناتو دزیاتیدو په تناسب زیاتیږي ، څومره چې مسکو او واشنګټن یوبل ته نژدې کیږي همدومره دحزب اسلامي په ضد تبلیغات زیاتیږي .

دحزب پرخلاف داتبلیغات له اوږدې مودې راهیسې پیل شوي ؛ خوالحمدلله دښمنان نه دي توانیدلي له دغو تبلیغاتو څه نتیجه ترلاسه کړي ، حزب تضعیف کړي او په افغان اولس کې دهغه ژوراعتبارته صدمه ورسوي .

خواوس غربي آژانسونه په بې شرمۍ سره حزب دهیروئینو په تجارت کې په لاس درلودو متهموي ، اوامریکائي مقاماتوته د جدي اقدام توصیه کوي .

داتبلیغات ښيي چې امریکا دحزب اسلامي پرضد دکوم تروریستي اقدام لپاره لیاراواروي اوذهنیتونه برابروي غواړي ، دهیروئینو دتجارت الزام د (سي آی ای) اختراع اودتروریستي اقداماتو لپاره ددې شبکې په لاس کې پراخني توجیه کوونکې حربه ده .

امریکا پردې ښه پوهیږي چې په حزب اسلامي کې دافغان اولس ترټولو صالح بادیانته ، دمذهب پابند اواصولو ته مطیع افراد راټول شوي دي .

هغه حزب چې افرادیې حتی دسګرټ څکولو نه ځان ساتي ، او دملک دآزادۍ اوداسلامي حکومت دتأسیس لپاره یې دمؤسسینو اودلومړیو کلونو دفعالو غړو څخه په سلوکې په شهادت رسیدلي ، اوله ابتدا نه ترننه پورې دمقاومت په لومړیو لیکوکې ترهرچادمخه اوترهرچازیات جنګیدلي ، اود ښه تنظیم ، په جهادکې دسترو رول اودصالحو افرادو په روزلو کې پرنورو ډلو دبرلاسۍ په وجه دافغان اولس غوڅ اکثریت دهغه په لیکو کې منظم شوي اودمنوري طبقې په سلوکې ۷۰ دحزب ملاتړ کوي ، څنګه امکان لري داسي یوحزب دې ، چې په داسې بې ره ښنیع اوقبیح عمل لاس پورې کړي اوداڅېره کوم عاقل انسان منلی شي چې پداسې عمل کې ملوث حزب دې وتوانیدای شي دیره مجاهدلوم غوڅ اکثریت ترلاسه کړي .

حقیقت دادی چې داسلام پرخلاف دیهودي متعصبو حلقو تعصب اوله اسلامي حکومت نه داستعماري طاقتونو ویره ، دامریکا حکومت دحزب اسلامي په خلاف دې تبلیغاتو ته مشغول ، هغوی پوهیږي چې یواځې حزب اسلامي په فکري ، تنظیمي ، اوعمل لحاظ ددې کفایت اواستعداد لري چې په افغانستان کې اسلامي حکومت قائم اوجهاد په خلاف داسلام ددښمنانو خائنانه توطئې شنډې کړي . که حزب ضعیف وای غاړونو ته تسلیمیدای ، اوداسلام اوخپل هیوادپه سرئې سازش منل ، هیڅکله به دهغه پرخلاف دومره تبلیغات نه کیدل .

دحزب اسلامي سرتیري اومومن مجاهدین به ددې دروغجنو تبلیغاتو دڅه

پرواساتلو پرته ، د تل په شان دیوه منتخب اسلامي حکومت د تأسیس لپاره خپل جهاد ته ادامه ورکوي او د ظلم ، فقر ، جهل ، بیسوادي ، اخلاقي فساد ، اودمخدره موادو داعتیاد پرخلاف په خپله مبارزه جاري ساتي .

حزب اسلامي به ترهغې خپله وسله پرځمکه کښېنږدي ترڅو چې د پردیو له تسلط اولاس وهنونه آزاد افغانستان جوړکړي اوپه اسلامي عدالت مبتني ، د اجتماعي مظالمو اواخلاقي فساد نه فارغه ټولنه تأسیس کړي .

داسې ټولنه چې په هغې کې هیڅوک د حرامو لیارو نه د ثروت او شتمنیو د لاس ته راوړلو هیڅ امکان ونشي موندلای .

د رشوت ، اوپه ملي شتمنیو کې د خیانت له لیاري د دولت حاصلولو ټولي لیاري تړل شوي وي . د قمار ، د وکي اودمخدره موادو د تجارت له لیاري ګټلو د نورو له ژوند سره لوبې ونشي کولای .

حزب اسلامي غواړي چې زمونږ د هیواد راتلونکې منتخب حکومت د افغان ولس د مظلومو اومحرومو وګړو په خدمت کې وي د افرادو د مرفه اوله عزت نه ډك ژوند شرائط تامین کړي دمخدره موادو له اعتیاد نه پاکه ټولنه جوړه کړي ، د شراو فساد طالتونه وتړي ، نه یواځې دمخدره موادو د کرنې او زراعت مخنیوی وکړي ! بلکې د دې موادو له داخل او خارجي قاچاق برانو سره چې د مرګ سوداګران دي جدي اوشدید برخورد وکړي اومظلوم انسانان د دوی له شرنه وژغوري باید دې خبري ته هم متوجه وو چې دغربي ملکونو سیلانیان ونشي توانیدای د سیاحت ترنامه لاندي دغربي ټولنو اجتماعي اواخلاقي امراض اودمخدره موادو داعتیاد بیماري په افغاني ټولنه کې خپره کړي ، او له غرب نه د پوډرو د جوړولو خبیثه تیکنالوجي په دې منطقه کې خپره شي ، باید د دې تکنالوجي د ورود اوخپریدو په کلکه مخنیوی وشي .

حزب اسلامي له ټولو هیوادونو سره دمخدره موادو دکرنې اوتجارت دمخنیوي لپاره هرراز تعاون ته تیاردی .

غربي ملکونه باید په خپلو هیوادونو کې د دې موادو د خرڅلاو مارکیټونه ختم کړي ، دغربي قاچاق برانو منظمې بین المللي ډلې وتړي ، اوپرینږدي د دوي کرغیړنه تیکنالوجي آسیائي ملکونو ته انتقال شي ، نه داچې دمخدره موادو سره دمقابلې ترنامه لاندې د نورو هیوادونو په کورنیو چارو کې لاس وهنې وکړي اوخپل سیاسي رقیبان بدنام کړي او د هغوی پرخلاف د تروریستي اقداماتو لپاره بهانې جوړې کړي .

په غربي هیوادونو کې ژوره فکري خلا او له دین نه لري والي پردې منتج شوي چې خلك د خپل اضطراب اوعدم سکون ختمولو لپاره مخدره موادو ته پناه یوسي ، اودمخدره موادو سترستر مارکیټونه هلته پرانستل شي ، دغربي هیوادونو مخلص مفکرین باید د دې خلا ډکولو لیاري ولټوي اود دې بیماري د خپریدو اصلي عوامل پیدا اودهغې علاج وکړي . خودغرضه سیاستمداران د دې اجتماعي بیماري له علاج نه عاجزدي .

زه جناب بوش ته وایم چې اوبه له هغه ځای نه خړې چې ته ولاړ یې ، له مونږ سره د هغه چامعامله کوه، چې له ده نه د نهرکوزې خوا ته ولاړکس تهدیدوي اوهغه ته سترګې برګوي ، چې ماته اوبه مه خړوه .

قوماندان دیدارخپلومجاهدینوته نظامي زده کړه ورکوي

پرتاجکستان پوځي یرغل،
خولتوانیا ته اقتصادي ډبکي
دګورباچوف د" یوبام اودوه هوا"
منافقانه سیاست

فضل ولي ناګار

دکی چی بی په خونړی میدان کی لوبیدلی تجربه کارروسی مشر ګورباچوف هغه وخت دکمونستی امپراتوری دواکمنی پرګدی کیناست ، چی پرنړی لږڅه کم یوه پیړی باررروسی رعب اوحیثیت دتش

لاسو خومومنوافغان مجاهدینو ، په بیساری قربانی ر له مرګونی کلابندی سره مخامخ و. ګورباچوف دخپلو سیاسی معتقداتو اودروس دګدوی وړی ، غیر فطری جغرافیادبچ ساتلو لپاره اړو، چی په څه ابتکارلاس پوری کړی ، اوپه دی منځ کی خپل لویدیز سیالان خپل په اصطلاح جمهوریت پالی اودیموکراسی ر ته په ورته میلان بنه پوه ، اودهغبی مننی ته وګوماری . لویدیزوال اوپه تیره بیا امریکا چی له یوی خوایی لادویتنام ویره له زړه نه وه وتی، اوله بلی خوا دمجاهدینو له معجزه ډوله بریالیتوبونونه ، داسلام دبیا احیاخیالونو په خوب کی بوګنوله ، اوپردی سربیره یی د خپلونامشروعو بچو(یهودو) پرضد د(انتفاضی) خوځښت چی

دافغانی شاه ځلمو دجهاد وړانګی ګڼل کیږی ، هم ترمخ و، اوبیا په لړتوپیردایران له انقلابه سره داتیولی نړیوالی اسلامی هنګامی دتوحیدپولی ته رسیدل یوداسی کارو، چی پانګوالان اودکمونیزم واکمنان یی دحفظ ماتقدم په ډول دتحلیل اوسازش یوه میزته کینول . په افغانستان کی دمجاهدینوداسلامی حکومت جوړیدل، رښتیاهم دخوښولو ، محکومو اوسره لیری ساتل شوو مسلمانانو لپاره داسرافیل شپیل دپوکولوځانګا لرل ،. اوله شك پرته دهند له نیمی وچی نیولی کشمیر، بنګله دېش ، پاکستان ، افغانستان ، ایران اوترکیه چی سره غاړه غړی دی ، اوپه ډیرکم وخت کی یی دیوه اسلامی خلافت دبیرغ لاندی دراغونډیدلو اټکل اوپیش بینی کیدلی شی، او داکار دروس لپاره له مرګ کم

ځکه نشی ګڼل کیدلی ، چی دخپل ځان دننه دمسلمانو ځواکونو له سختی کرکی اومقاومت سره لاس وګریوان دی ، او بیا لاپدی جساس

پراوکی چی دمنځنی ر آسیا دمسلمانانو دجهادی پالنی مسئوولیت اوکفالت دمجاهدینو انقلابی سربندونکی ځواك پرغاړه واخلی، نو ماتی خوړلی روس به ډیر ژرله پښو وغورځیږی ، اوداماتی به یواځی پوځی نه وی ، بلکی دمحکومومسلمانانو په کلونو کلونو لوټلی اقتصادبه هم نجات وموسی ، اوله دی لاری به کمونیزم ډیرژرله کم خونی سره مخ شی .

په همدی ارتباط دګورباچوف چغی اولویدیځ ته ددوستی ر لاس ورغځول تصادفی خبره نه وه، بلکی دایوه اړتیاوه ، چی دختیځ او لویدیځ ترمنځ دمحکومو ولسونو اوبیا په تیره دمسلمانانو پرسرپه سازش سرته ورسیده . یهودچی دتیولو کفری طاقتونو اوبیا په تیره دامریکا په رګونو کی دناست شیطان دنده ترسره کوی ، داکله زغملی شی چی په افغانستان کی دمجاهدینو واکمنی اویالوترلږه دمنځنی آسیا مسلمانانو ته دی ددینی ودی سهولتونه چی

بالاخره دنړیوال اسلامي بلاك په
ځواکمنتیاتمامیږی ، ورکړل شي
دمجاهدینو حکومت به دایران
دانقلاب په پرتله دځواکمن
هنګامه لرونکي پیغام خاوندوی ،
او داځکه چې دلته داهل تشیع
پرځای اهل سنت اکثریت لری ،
او که دوخت په تیریدو ایرانی
انقلابیان خپلوسهووته پاملرنه
وکړی ، نوبیایي له نورومسلمانانو
سره دتوحید ستونزی له منځه
وځی ، او ډیر زراسلامی امت

غورځنګ خپل نړیوال حیثیت
جوړتولی شی ، یاسرعرفات که
هرڅومره ګوډاګو افغانی کمونستان
غوندی دکمونیزم دیهودی
سیاست ښکارشی خوله ښه
مرغه « انتفاضه » دافغانستان
دشهیدو شاځلمو دخوځښت

کېږدی ، دنړی له هرګوټ ، او
همدااوس پخپله له روس نه هم
روسی یهودیان فلسطین ته
وررسیدلی ، اویادتګ په حال
کی دی ، که سړی ځیرشی ،
نوپه‌دی خبره رسیږی ، چې
ګردطاغوتی ځواکونه که
مذهبیان دی اوکه بې مذهبه ،
دپلانونواوپروګرامونوتغذیه یې
له یوی چینی نه کیږی .

دیهودودکړوالی غوندی پیښی
په تاجکستان کی هم تکراریږی
، هلته دښارونو په نویو
اوښکلوکورونو کی ګډوال
روسان اوعیسوی ارمنیان
وردننه کوی ، اوپه‌دی توګه له
دی کاره دوه ګټی اخلی ،
یوداچې داسلامی هیواد مرکزبه
دنامسلمانوپه لاس کی چې

خوماشتی دمخه خونړی
خوځښت وچلاو سورېوځ په
ورننوتلو اړوت ، که څه هم
ترډیرو وینو توئیدلووروسته په
نسبی ډول داغورځنګ غلی شو،
خودطاغوتی نړی لپاره دایوبل
ګواښ و، چې دموډو، مودویوه
محکوم مومن هیوادله خواپری
وشو، او هغوی یې پردی ښه
باوری کړل ، چې دکمونیزم
ګردو حربو، ضربواوچلوټو لا
اسلام نه دیوځلی اوله ډیر
وخت په درانه خوب ویده
دافغانی مجاهدینو په یوه
تکبیرراوېښیدلی شی،
داداسلامی نړی لپاره ډیره
دافسوس خبره ده ، چې هیڅ
منظم ، متشکل متحداوبیا په
تیره په نړیواله سویه داسی
یوځواکمن جوړښت نه لری چې
پداسی وخت کی تری که
پوځی نه وی ، دسیاسی
اثرورسوخ. کاراواخیستل شی ،
اوپه‌دی ډول له یوی خواپری
اسلامی تحریکونه تشجیع اوله
بلی خوا سرغړوونکی ښکیلا
کګران ورته په لومړی قدم
کی په حسه امتیازاتو ورکولو
اړباسی .
دتاجکستان له پیښوسره
جوخت لتوانیاهم خپله آزادی
اعلان کړه ، اودروس نه یې
وغوښتل چې دهغوی داړواحق
ومنی ، ورپسی سم لتویا دالاره
تعقیب کړه ، لویدیزو خپرونو
په ډیر شدت دا پیښی تبلیغ
کړی ، اودامریکا په ګډون
ټولو تری وغوښتل ، چې باید
روس /له پوځی لاسوهنی
پرهیزوکړی . دلتوانیا اولتویا د
هیوادخلکو له خپلو سیاسی
مشرانو سره په پوره
زړورتیادګورباچوف مخی ته
ودریدل ، روسی مشرتوب په
مکرر، ډول وغوښتل چې باید

په افغانستان کې دمجاهدینوداسلامي حکومت جوړیدل
ونبتیاهم دخوبولومعکومواوسره لیري ساتل شویو
مسلمانانولپاره داسرائیلي شپیلی د یو کولومعنالرله .

انځوراورنګ ښکاری ، چې
دفلسطین په خاوره کی
راټوکیدلی دی ، نودلته وو، چې
دلاسپنیزوغاښونو لرونکی
ګورباچوف لویدیځ ته دیهودو
د منځګړیتوب له خپل منافقانه
پوښکا سره ورمخ شو، اود
ملاتړ خوړلی کمونیزم دبل ډول
تعبیرلپاره یې خپلو مرستوته
ملاوتړل . اودادی، نن کمونیزم
له یهودیت اومنحرف عیسویت
سره داسلام پرضد دګډمقاومت
ټکیو ته رسیدلی دی ،
تاسیوګوری ، یهودو دانتفاضی
تیرو ته دانقلاب ، پخپلوټولیو
پیاوړتیانو اوامریکایی وسلوونه
تکیه شو، نواوس یې دمحکوم
فلسطین په اکثریتی مسلمانو
سیمو کی دکډوالو یهودو بهیر پیل

ښایی ډیر زریې پکی اکثریت
کړی ، په لاس ورشی ، اوله بل
اړخه که مخ‌ل خلك دآزادی
اوداسلام دمبارك دین
داحیالپاره کوم جدوجهد کوی
، هغه به پرهمدغوکډوالو، چې
متوقع پوځ تری تشکیل دی ،
ټکوی ، اوپه همدی ډول به
هلته هریوداسی دینی غورځنګ
چی دآزادی لپاره سرراپورته
کوی ، دنړیوالو اوبیا په
ځانګړی ډول دمسلمانانو دپام
اړونی په خاطر به دنژادی
شخړوپه نامه دکمونیزم د بی
رحمه پنجی سره مخامخ کیږی
، اوپه‌دغه بهانه هلته هیڅکله
داسی یوبهیربشپړتیاته
پرینښودل شی ، اوهمداسی
وشول . دتاجکستان خلکو

خپل د آزادی اعلان بیرته واخلی، خو هغوی تری سخته انکار وکړ. او ددی ولسونو د آزادی غوښتنی هڅی پسی دوام لری، اوس پوښتنه داده چی د کمونیزم تر ټولو پراخ نظری او د سولی دعوه دار مشر گورباچوف اخر ولی د تاجکستان پاڅون د ټانکونو لاندی کوی، او د لتوانیا خلکو ته اقتصادی دپکی ځپکی مخکی کوی، او هغوی ورته هیڅ اعتنا نه کوی، دا په یوه هیواد کی دوه بوله قانون له کوم ځایه راغی، دا «د یو بام او دوه هوا» خبره څنگه ممکنه شوه، د گورباچوف ددی «موراومیری» د سلوک ترشا کوم پټ لاس کار کوی؟

ځواب بالکل روښانه او څرگند دی، د لتوانیا د پاڅون ترشا پانگوال عیسوی هیوادونه ولاړ دی، او د کمونیزم وسله وال عکس العمل یی تهر او غضب راپاروی شی، که گورباچوف دا کار وکړی، نو دی سیند، اخیستی ته به د لاس اچولو لپاره د یوتو پرځای ځگ پاتی شی، او پردی سربیره له لویدیزو، پانگوالو نه د گورباچوف یوه هیله دا هم ده، چی هغوی به د روس په پانگونو کی د پانگی اچول پیل کړی، او پدی بول به د روس ملا ماتی اقتصاد، رغون وموهی. د ختیزی اروپا له بدلونونه تر لتوانیا او لتویا پوری که سری څیر شی، نو دا به ومنی، چی د اسلام او مسلمانانو انقلابی هیئت په باب نړیوال کفر یوی پریکندی پریکړی ته رسیدلی دی، او د وارسا او ناټو پخوانی سیالی بیخی کمه شوی او که همـــــــداوس د دواړو المانو د یو کیدلو ریړی او د ختیځ او لویدیځ دریځ په نظر کی ونیسو، نو تری د لمر غوندی څرگندیږی، چی په راتلونکی کی به د نړیوال طاغوت د پوځی تکنالوژی مخه د مسلمانانو هیوادونو پر لور وی، او بس. عیسویانو ته امتیازات ورکول، او پر مسلمانانو د ټانکونو غوبل جوړول له سازش پرته نوره څه مانا لری؟، د گورباچوف دامن کوتره په یهودی وزرونو الوځی، او دا ځکه ورته انسانیت دښمنه لویدیځ خوشاله دی.

گورباچوف چی د یهودو په سرمشری د نړیوالو او پخپله د روس دننه د محکومو ولسونو د غولولو لپاره د «خلاصو دروازو» تش په نامه سیاست پیل کړی و، نن سبا پری پښیمانه ښکاری، د روس خلکو د می «د میاشتی په کارگری پراخه مظاهرو کی گـــورباچـــف او ددہ د ملگرو پرضد لـه کرکـی ډک شعارونه ورکړل، گورباچوف په همدی ارتباط پخپله یوه وینا کی وویل، چی د خلاصو دروازو سیاست نازک پړاو ته رسیدلی، او له هغی نه بیلتون پالی او افراطی عناصر ډیره بده گټه اخلی. بلکه ورځ یی د پوځ مشرانو او جنرالانو ته پخپل خطاب کی له پوځ نه نارضایی څرگنده کړه، او غالباً دا لومړنی کمونستی مشر دی، چی په اصطلاح نه ماتیدونکی سور پوځ غندی په افغانستان کی تر ماتـی وروستــه خو د گرد و نړیوالو په ذهن کی د سره پوځ مورال راغورځیدلی ښکاری، خو حساسیت یی د روس دننه کمونستان په انتقام اخیستی اړ ایستی، گورباچوف په همدی غونډه کی اعلان وکړ، چی ملا ماتوونکی پوځی لگښتونه به راټیټ کړی، او په همدی هیله یی د« دلاسی »لپاره د روس د دفاع وزیر ته د دوهم نړیوال جنگ د تلین پر وخت د مارشالی رتبه لوروله ده.

موږ د خپل تحلیل په رڼا کی ویلی شو، چی گورباچوف د خپلو اسلافو په پرتله تر ټولو زیات منافق او د همدغه نفاق له کبله مذبذب شخصیت دی، اوس ورته د «خلاصو دروازو سیاست» په مرگونی تبه پروت او حالت یی حساس گڼی، خو ډیر زر به د منځنی آسیا د اسلامی رغون پر اس د ناروغی د همده میلمنه کوی، او بیا به د مردود «تره کی» غوندی په ناڅاپی او مفاجاتی مرگ مری. خو دا د مسلمانانو او اسلامی نړی وظیفه ده، چی نور دوست او دښمن وپیژنی، مسلمانان خپل مرکز لری، خپله رغنده ایدیولوژی لری، خو متاسفانه پر تختونو ناست شیطانان یی د لادینیت چاری سمبالوی. وگوری! لتوانیا او لتویا لویدیزوالو د روس له پوځی یرغله وژغورله، خو د اسلامی انقلاب دعوه دار ایران چی پدی لنډ وخت کی یی له روس سره، اړیکی ډیری گرمی هم دی، د تاجکستان د وینو توئیدلو د مخنیوی لپاره پر روس هیڅ گواښ ونه کړی شو، او نه یی کومه اغیزه ولرله، په همدی بول د عربی نړی « بعثیان » باید خبر شی، چی نور کمونیزم او سوسیالیزم خپل ـــ خوړلی، او خپل ځای به خامخا د اسلام مقدس دین ته پریږدی، کمونیزم او لویدیز پانگوالی هغه دوه کوځبی دی، چی سرپی د یهودیت په اسلام دښمنه کنډلیدلی دی.

گنجینهٔ تاریخی بلخ

آثارهنری طلایی ناب طلاتپه - درزمان خلقیها کشف
ودرزمان پرچمیها به ماسکوانتقال داده شد

پوهاند حبیب الرحمان "هاله".

روسها، این دزدان بری، دردوره های تزارهاوکمونیست ها دارایی های مادی ومعنوی مردمان دربند استعمارکشیده آسیای شمالی، آسیای مرکزی، واروپای شرقی رابه کاربرد نیرنگهای گوناگون به یغما بردند.

تزارهای استعمارجو وتوسعه طلب، درقرن نزدهم، مرزامپراتوری راتاشمال افغانستان به پیش کشانیدند وکمونیست های حلقه بازپس ازبیرون رفت انگلیس ها ازنیم قاره هند وپس ازردرخواست کمك نظامی افغانها از سوی ایالات متحد امریکا، چشم طمع خودرا به پرکردن جای خالی شده از انگلیس به سوی آسیای جنوبی دوختند. پس از بازدید رهبران حزب کمونیست روسیه ازکابل، در دوره صدارت داود، وامضای قراردادهای دوستی وهمکاری دست تطاول روسها بسوی افغانستان درازشد.

پس از آنکه نفوذروسها درافغانستان به رخنه کردن آغاز نمود آنهابرای زمینه سازی تسلط آینده شان به آسیای جنوبی وایجاد مرز جدیدی درکنارآب گرم بحرهند تمویل یك عده پروژه های افغانی چون اعمار شاهراه کابل - حیرتان، تفحص واستخراج معادن ازجمله گاز، پروژه انکشاف وادی ننگرهار، پروژه برق نغلو، تهیه اسلحه وتربیه پرسونل نظامی، اعمار شفاخانه نظامی، اعماروتجهیزپولی تخنیك وتخنیکم ها، واعطای سخاوتمندانه بورسهای تحصیل را متقبل گردیدند. برای تحقق سریع دکتورین بریژنف درآسیای جنوبی داود راکه مانع تلقی می کردند فوری ازمیان برداشتند وببرك راکه سالها پروریده وتمویل نموده بودند نصب کردند. پس ازآن روسها وکارگزاران ببرك به رویای دیرینه شان دست یافتند. بنابرآن هرچه خواستند، درزیرماسك مشاورانجام دادند وهرچه راخواستند بلامانع بردند.

این نبشته برمبنای مقاله یی برشته تحریرمی آید که رئیس هیئات باستانشناسی روسی درافغانستان در« نیشنل جیوگرافیک میگزین » نشرکرده است.
درین مقاله تلاش بخرج داده شده که بروی دزدی روسها پرده افگنده طوری وانمود سازد که گنجینه آثارطلایی طلاتپه هنوز درکابل موجود است .
البته ، امکان دارد مردمان خوش باورجهان رافریب دهد اما فریب دادن مردم افغانستان ناممکن است . زیرا آنها همه به چشم سرمشاهده کردند که دزدان روسی نه تنها دارایی های عامه بلکه دارایی های شخصی مردم را دستخوش چپاول قراردادند چطورممکن است که چنان آثار گرانبهای نایاب رادرکابل مانده باشند .
پس برای اینکه خوانندگان گرانقدر ازارزش آن آثارآگاهی حاصل نموده باشند هم تصاویر آن آثاروهم تفصیلاتی پیرامون آنها خدمتشان تقدیم می گردد .
درسال ۱۹٦۹ یك هیئات انستیتیوت باستانشناسی ماسکوبه افغانستان آمد تایکجا باهیئات باستانشناسی افغانی! استوپه های واقع درسرزمین هموار جنوب رود آمورا، که درنقطه تقاطع راهی قرارداشت که شهرروم راباشهرهای آنسوی دیوار بزرگ چین پیوند میداد، مورد کاوش قراردهد . هیئات یك دهکده شبرغان را مرکز تحقیقاتی خود انتخاب کرد . نخستین کارکاوش ازخرابه های شهری آغاز گردید که در یمشی تپه قرارداشته وتاریخ آن درحدودآ قرن اول میلادی میرسید .
دربین دیوارهای این شهرکافی به نظرمیرسید که ممکن محل اقامت حکمروای بوده باشد که دهکده های کوچك دوروپیش توابع آنراتشکیل میداد .
بقایای آن دهکده هنوزهم به شکل توده های گل آفتاب سوخته به نظرمیرسید .
دکتور ایوانوویچ سریانیدی ، رئیس هیئات باستانشناسی روسی، می گوید : « من روزانه ازتپه یی به تپه دیگر میرفتم ودرصددپیداکردن چیزی بودم که به عصرمفرغ ـ ساحه تخصص من ، تعلق داشته باشد، روزی در یکی ازین تپه ها پارچه سفال نقشداری نگاهم رابخودجلب نمودکه باثر تجربه قبل درآسیای مرکزی دریافتم که آن پارچه زندگی مردم این ساحه آسیارا تابه آغازهزاره دوم مسیحی میرسانید ، کشف عجیبی ! درحالیکه دیگران دریمشی تپه گرم کاوش بودندمادرتپه مجاور میدیدیم که درزیر آن چه وجود دارد . درمیان قشرفوقانی آن دهکده یی راپیدانمودیم که مطابق حدس ما باقرن سوم قبل ازمیلاد تعلق داشت ، ازقشر پایین آن بقایای عمارت عظیمی نمودارگردید که درمیان دوقطارستونهاقربانگاه خاکستراندودی دیده می شداین معبد یقیناً، ۳۲۰۰ سال قبل برای پرستش آتش اعمارشده بود . »
« ازآنجاییکه درافغانستان سنتی یك جمهوری سوسیالستی اعلام شده بود جنگ داخلی روزبروز کسب شدت میکرد . چنانچه دراواخر سال

۱۹۷۸ یک روزماسرگرم کاربودیم یک گروه سواره قبایلی طلاتپه را درمحاصره گرفتند وازماسوالات تند وتیزی بعمل آوردند . کارگران که ازوضع آگاهی داشتندازماالتماس نمودند درمقابل حرفی بزبان نیاریم وگرنه هدف گلوله قرارخواهیم گرفت .

باثر خاموشی ماسواره دیری نپاییده ناپدیدگردیدند متناسب به فزونی یابی خطرجنگ ، علاقه مندی مابه دوام کاربیشترمی شد . هوا روبه سردی میرفت وابرهای توفنده ازنزدیک شدن برفباری دوامدار زمستان حکایت می کرد . روز۱۲ نوامبر دانه های ریز ریز باران مارا واداشت که سرازفرداچاشت کارراقطع کنیم . صبح روزدیگر ماچندین پارچه زنگزده آهنی راپیداکردیم که میخها ازآنها برون شده بود . یکی آنها بزاویه قایمه خم شده بود ومعلوم می شد که بیک تابوت تعلق داشت .

« وقتیکه هواروشن گردید کارگری ناگهانی قرصی راکه دربین کلوخه های مرطوب میدرخشید بدست آورد . طلابود طلا! درحالیکه قلبهای مامیزد آنرا با آب می شستیم . هنوزکندن کاری ادامه داشت که اززیر کلنگ هاوبیل ها قبری نمودارگردید . حفره های چشمان جمجمه بانوی جوان ۲۵ – ۳۰ ساله ، که شاید شاهدختی بوده باشدبما خیره خیره نگریست . دردوروپیش او براده یی که ازلباس پوسیده او بمیان آمده بود پراگنده بود . درخشش زیورات طلایی اومارا به شگفتی اندرساخت .

آوازه پیدایش آثارهنری طلایی بزودی درسراسرمنطقه پخش شد . سیل تماشاگران . باشندگان دهکده ها، جهانگردان وماموران دولتی، سرازیرگردید . بعض سواربرمرکب وبعض دیگرپیاده راه پیموده غرض تماشای عجایب فرهنگی می آمدند . دهقانی که مزارع پنبه اودرجوارکاوشگاه قرارداشت پیوسته می آمد وافسرده می نشست . اوباری اظهارداشت : زنم ازپیدایش زیورات از اینجا آگاه شده ملامت کنان بمن گفت که درتمام زندگی مرادرغربت نگهداشتی درحالیکه طلاهمیشه درزیر قدمهایت جاداشت ».

هشت مقبره :

درطلاتپه هشت مقبره پیداشد که درپنج آن بانوان ودریکی آن جنگجویی دفن گردیده بود . دوی دیگر آن هنوز مطالعه نگردیده بود که هیئات باستانشناسی کارراقطع نمود . درعکس ذیل شماطرح قبرستان وجاهای قبرهای پیداشده راملاحظه می فرمایید .

طوریکه طرح نشان میدهد درقشر اول بالایی تپه یک تعداد مردم خویشاوندان شانرا دفن کرده اند بدون اینکه بدانند که درقشرهای پایین و پایین ترآن چه قراردارد. درقشردومی هـای موردنظربه مشاهده میرسد.

درین قبرها که قبرستان خانوادگی یک شهزاده نشین بزرگ کوشانی است بانوان مدفون درین قبرهاعموماً جوان بودند ویکی که برسرتاجی دارد کدام شاهدخت است . عکاس فوق را هنرمند اریمایکسمووه پس ازچندسال بدنبال مطالعه موقعیت واندازه زیورات وزردوزی ها وهمچنان دانستن شیوه لباس مردمان قدیم آسیای مرکزی تنظیم کرده است . اکثر جواهرات این زنان درزندگی روزمره استفاده می شد .

درقبر چهارم یک جنگجو، یگانه مرد، مدفون بود . آثاری که بهمراهی این مردبود بیشتر وگرانبها تراز آثار مربوط به زنان بود . مرد بادوخنجرویک شمشیر دفن شده بود درنزدیکی اوبرسم کوچی هابقایای اسپ اوقرارداشت . از روی مطالعه بقایای اودرقبرلباسش دوباره سازی شد . که درذیل می بینید :



عکس جنگجو



گل کمربند او

يك جنگجودرزره يونانی باختری وخودسبك مقدونی استاده است . اوشايد ايرس اله جنگ يونان، ياويريتراگنه ، معادل پارسی آن . درحاشيه، دورادور اودرختان وحيوانات ديده می شود که درهنر سکايی ها رواج بوده نه درهنر يونانی و رومی .

درقشرپايين ترازقبرهای موردنظريك ايوان بزرگ باباره هاوبرجها پيداشد که نسبت به قبرهايش ازيك هزارسال قدامت تارخی داشت .

درمحدوده باره ها دوسالون ستوندار ويك قربانگاه پوشيده از خاکستر ديده می شدکه به عقيده هيئات باستانشناسی برای مراسم پرستش آتش ساخته شده بود. وقتيکه تدفين درقبرهای مورد نظرصورت ميگرفته طلاتپه يك تپه کوچك بوده است . درابتداهيئات حيران بود که چرا چنان ثروتهای گرانبهايی درقبرهای ساده دارای ديوارهای کثيف وتخته های چوبی برای حفاظت آنها بود؟ قبرها بايد مطابق شان خانواده شاهانه بوده درکدام شهر قرارميداشت . به عقيده رئيس هيئات باستانشناسی روسيه قبرها قصداً استتارگرديده وبرای حکمروايان کوشانی بايددرمحل مخفی جداگانه کنده شده باشد تاکاملاً ازحرص ودست درازی مردم درامان باشد. تمام قبرها حتماً درچشم رس يمشی تپه، ارگ نزديك وپايتخت منطقوی کوشانی ها، بايد قرارداشته باشد تا خودحکمروايان ازدريچه های قصر شان خودنيز حراست نموده باشند شايدمقابر رسمی باتابوتها درمحدوده ديوار های شهر وجود داشته باشد.

موقعيت باکتريا :

باکتريا درنقطه تقاطع راههای بزرگ تجاری قرارداشت . درقرن اول ميلادی همينکه عصر يونانی، باختری روبه زوال نهاد وامپراتوری کوشانی درحال رونق گيری بود، کاروانهای غيرمنظم اسپها واشتران دوکوهانه باختری ازلويانگ به روم درحرکت بود. آنها اموال وگنجينه های شرق احجارکريمه، ابريشم ، مصاله جات ، رابرای مبادله بااجناس غربی نقل ميدادند. راههای بحری که بربادهای مونسونی متکی بود برشمارکاروانهامی افزود.

کوچی های کوشانی عاقبت راههای تجاری قديمی راپيداکرده بحيث دلالان ازان دادوستدها استفاده بعمل آوردند. آنها دروادی رودآمومسکن گزين شده ازکاروانهامحصول ميگرفتندواموالی راکه باثر حفريات کشف شده به طريق تبادل جنس باجنس بدست می آوردند، کوشانی هابه امتدادراه شمال ، جنوب باهندنيزروابط تجاری قايم نموده بودند.

آنهاازطريق دره خيبر چوبهای صندل، عود وحيوانات خارجی رابه باختر آورده وازآنجابه بازار های بسياردورمديترانه می فرستادند.

درنقشهٔ فوق راههاي تجاري آن روزگاران رامشاهده مي فرماييد

اين علامه برنگ سرخ
سلطنت يوناني باختري
۱۵۰ - ۱۹۰ ق م رانشان ميدهد

اين علامه برنگ زرد امپراتوري كوشاني را
ازآغاز تا ۳۰۰ ميلادي نشان مي دهد
خط سرخ راههاي زميني خط آبي راههاي آبي

درنقشه فوق راههای تجارتی آن روزگاران رامشاهده می فرمایید .
چراطلاتپه مدفن شاهدخت هابود ؟
چهارهزارسال قبل نخستین قبایل زراعت پیشه ، آنهاییکه معبدپرستش آتش رابنانهادند ، درسطح هموارباختر پدیدارگردیدند .
درهزارسال دیگر معبد چندین بارمجدداً اعمارشده است .
وقتیکه متروک شده دیوارهای خشت خام آن فروریخته آنجارابه یک تپه کم ارتفاع مبدل ساخته است .
طلاتپه برای ٦٠٠ سال دیگر فراموش شده باقی ماندتااینکه یک دهکده کوچکی بربقایای معبد ازدیرفراموش شده سربدرکرد .
دهکده نیزبرای مدت زیادی به هستی خود دوام داده نتوانست .
یکباردیگر به مخروبه یی مبدل شد .
شاید ٤٠٠ سال دیگررادربرگرفت تااینکه درسال ١٠٠ میلادی قبرهای طلایی درداماں قشرتاریخی آن کنده شد .
وقتیکه طلاتپه بحال متروک درآید امپراتوریهای هخانشی ویونانی های پیروسکندرکبیرباختررامورده‌جوم قراردادند . باختر بعدهابحیث سلطنت یونانی باختری شکل مستقل رابخودگرفت . خویشاوندان وعیانی درتپه کوچك مدفون شدند که ازجانب شرق برای بغارت بردن شهرهای باختر آمده بودند ودرآنجاماندگارشدند .
درآنسوی دیگر آسیا درامه دیگری درحال آغازنقش بازی بود .

درنزدیکی مرزچین قبایل سرگردانی درحال زدوخورد باهمدیگر بسرمی بردند .
یك گروه متجاوز کوچی، که بنام کوشان یادمی شد، توسط هونها به جانب غرب پهنای بیکران سایبریا رانده شد . درآنجاگروه کوشان با سکایی هابرخوردندکه یك گروه دیگر کوچی بود که طمع شهرهای واحه ای وراههای تجاری جنوب رادرسرمی پرورانید مگربه تنهایی ازعهده این کاربدرشده نمی توانست .
همان بودکه این دوگروه باهم متحدگردیده ١٣٠ سال پیش ازولادت مسیح (ع) باغیظ وغضب براستوپه های آسیای مرکزی تاخته زمین های سوخته وانسان کشته برجاگذاشتند . وقتیکه ازرود آموعبورکردندکشتزارهای حاصل خیزیونانی ، باختری رابزمین های بایرمبدل ساختند .
این کوچی هااگرچه درابتدا زندگی شهری وفرهنگ یونانی را نکوهش می کردند مگربه تدریج گرویده ، هردوگردیدند ، آنها شهرهایی راکه خودویران کرده بودندبمیل وذوق خود دوباره آباد کرده وامپراتوری بزرگ کوشانی رابنیاد گذاشتند .
دردوره حدفاصل بین روزگاران تمدن یونانی، باختری ودوره شگوفای کوشانی تاریخ نویسان رومی ازآنجا دیدن نکردند تاتاریخ آن رانیزثبت می کردند . بهمین سبب آن دوره تاروزگاران ما درپرده ابهام پوشیده ماند .
گنجینه بدست آمده ازطلاتپه اسناد گویای آن دوره است .
گنجینه طلایی باخترجهان باستانشناسی ، مخصوصاً آنهاییٔ راکه بامرکز کوشانیان یونسکو ارتباط میگیرند، سخت تکان داد . منقدان این گنجینه هندی را همطرازگنجینه مقبره توتن خامون مصری می

شناسد . چیزمهمی که ارزش این گنجینه رابالامی برد این است که ازدکانهای عتیقه فروشی بدست نیامده بلکه ازدل خاك اصلی ویکجا بامردم اصلی استعمال کننده بدست آمده است .

آثاراین گنجینه ، که تعداد آن بیش ازدوهزارپارچه خوانده شده ، فرصت آنرا میسرساخت تابه تجارت گسترده بین شرق وغرب نگاه جدیدی انداخته شود . زیرا درهیچ جای دیگری باین پیمانه اشیای گوناگون فراورده فرهنگهای گوناگون ، آینه های چینی ، سکه های رومی ، خنجرهای سایبریایی بصورت یکجایی بدست نیامده است .
هنرمحلی باختر که درطلاتپه کشف گردید به امیدواری شناخت آمیزش فرهنگهاوهنرهامی افزاید . درهیچ جای دیگر ی چنان اثرهنری بدست نیامده که آمیزه یی ازهنرهای یونانی ، باختری وهندی باشد مجسمه کوچك افرودیت را ، که درپایین مشاهده می نماییدازنگاه فکریونانی است مگربالهای آن نمایندگی ازالهه باختری نموده وموجودیت خال درپیشانی آن متاثرازهنرمندی است .
هنرباختری دوره تاریك به ندرت خالص بودشیوه کارزرگران محلی عنعنات متنوعی راباهم آمیخته است.
این مجسمه افرودیت دربین صدهااثر هنری طلایی ازقبرششم بدست آمده است .

ازجمله آثاری که ازقبرهابدست این گلوبند مربوط به قبرپنجم ازنفاست زیادی برخورداراست . وطومارچه گونه هایی که قسمت بالایی هرقبر، قراراظهارشاهدان عینی ، ازان مالامال بوده است وفرت طلا واستحصال طلا از رودآمورا حکایت میکنند .

عکس طومارچه گونه ها

عکس گلوبند

نویسنده مقاله « نیشنل جیوگرافیك میگزین » تلاش مذبوحانه نموده که روسها راازدزدی این گنجینه ها برائت دهد. مگر ازآنجاییکه میگویندد روغگوحافظه نداردا ستدلال های ضد ونقیض همدیگر قرارمیگرد؛ مثلاً اومی گوید که هیئات باستانشناسی روسی به تاریخ ۸ فبروری ۱۹۷۹ محل کاوش راترك گفت وازآن ببعد جای موجودیت گنجینه مورد سوال قرارمیگیرد. طبعاً هیئات وقتی ساحه تحقیقات راترك میگوید که روسها یکماه قبل افغانستان را موردهجوم واشغال نظامی قرارداده است. طبعاً آنها که آثارمطالعه شده وثبت شده شش قبر رادرصندوق ها نهاده باخود به کابل آورده اندجزاینکه باخودبه مسکو ببرند به کس دیگرندادہ اند. زیرا موزیم کابل قبلاً درزمان خلقی ها، به مشوره مشاورین روسی درصندوقها انداخته شده وبه ارگ آورده شده بود درظاهر به امیداینکه ارگ رابه موزیم مبدل کرده آثار را درآنجا به نمایش گذارند.

وخودهم میگوید که بین مردم افواه شده بودکه گنجینه باختر را روسها باخود برده اند. پس اگر اودروغ نمیگوید که درسال ۱۹۸۱ دوباره آمده از آنهاعکاسی کرده چراجای آنرا تذکر نداده وچرایکبارمیگویدکه آثاربکس نشان داده نمی شد وبازمیگوید که اواز آنها عکاسی کرده است.

طبعاً آثاروجودنداشت که بکس نشان داده می شد بنابران بابهانه ها درپرده اسرارنگهداشته می شد. واینکه ازوجود آثار قبرهای ۷و۸ انکار می کند دلیل این است که آنها هنوزخوانده وثبت نشده بودند که اعضای هیئات افغانی! شاهدمی بود که چه چیزی درآنها ست. بنابران آنها را کاملاً باخودبرده اند ودزدی شدن وفروخته شدن آنها توسط سربازان افغانی یك افترای محض است. افغانها فریب اینگونه افتراهاودروغبافی ها رانخورده هرگونه مسئولیت مربوط به آن گنجینه راجزبدوش روسها بدوش دیگری پذیرفته نمیتوانند. زیرا ازیك طرف روسها درکشف آنها شرکت داشته ارزش واهمیت آنهارا می دانستند. وازسوی دیگر کمونست های داخلی وخارجی کابل را دراشغال داشتندبنابران بردن آنها برای شان کدام اشکالی نداشت. هیچ کس دیگری شاهد دزدی شان جز کمونست هاشده نمیتوانست.

پس همانطوریکه همه چیزافغانهاراروسهای متجاوز بغارت بردند گنجینه باختر نیز ازغارت آنهابه امان بوده نمی توانست. درآینده هرگاه افغانان اصیل قدرت سیاسی دولت را ازچنگ غلامان حلقه بگوش روس برون سازد درپهلوی تصفیه سایرحسابها، حساب دزدی گنجینه باختررانیز باآنها تصفیه خواهندنمود.

میاراوال

فضل حق "خالقیار" د کمونیزم په چوپړ کې

وېره ځله د نړۍ په بېلابېلو ټولنو کې هسې ستړې پېښې رامنځ ته کېږي چې په هغو کې د پېژندګلوۍ اصل مفهوم او پټ اسرار ټول را الوځي، ښکاره او بربنډ شي او تر ډېره وخته پورې په ټولنو کې د بېلابېلو پرګنو د ژوند روان بهیر، د هغو سیاسي، اقتصادي، اجتماعي او فرهنګي کړه وړه په هسې توګه روان وي چې پېژندل یې په عامه توګه کوم آسان کار نه وي.

په دغه راز ټولنو کې د وېرې پام وړ خبره داده چې ځینې سیاسي ډلې ټپلې د خپلو شومو غرضونو، پلانونو، هدفونو او مرامونو د پټولو له پاره ډول ډول ماسکونه او پردې ور پورې اچوي او په هسې ماهرانه توګه یې ورو ورو عمل کوي چې د چاخبره هغه پرې را غونډېږي شوي افراد او اشخاص هم نه شي پوهېدلای او ان دا چې د دې اټکل هم نه شي کولی چې د چا د روان بهیر په کومه خوا او لوري روان دي.

د مثال په توګه: زموږ په ګران هېواد اسلامي افغانستان کې یو شمېر سیاسي ډلې اوګوندونه هسې د خپلو پادارانو او لارښوونکو په مصلحت رامنځ ته شوي چې د ټولنې په منځ کې د لومړنۍ او جدي عکس العمل څرګندولو، پیدا کېدلو او رامنځ ته کېدلو د مخنیوي له پاره یې هسې نقابونه اغوستي او چې د چا خبره خپل هدف ته د رسېدلو له پاره تر یو سره لاندې او په تېرولي او غولولي په اوغوښتل یې چې په دې توګه خپل هدف ته ځان ورسوي.

موږ ولیدل چې زموږ په هېواد کې یو شمېر مرتد او کمونیستي او کېن اړخو ډلو ټپلو د خپلو اصلي غرضونو او هدفونو د پټولو او پوښلو له پاره په هسې نومونو ګوندونه او ډلې جوړې کړې دي چې په ظاهري توګه ورخواږه او په خوږه باطن کې ډېر تراخه او بدو چې د هماغې ترخې او بدې لارې او سفر په لوري یون کاوه.

ګڼ شمېر دغه شان ډلو ټپلو وکړای شول په مصنوعي او موقتي توګه خپل ځانونه زموږ د ټولنې د مسلمانو، دینپالو او حقپالو وګړو څخه وژغوري او د خپلو سیاسي غوښتنو له پاره زمینه برابره کړي.

خوږه دې ترڅ کې زموږ هوښیار، په سیاست پوه، بیدار او مسلمان ورونه په دې پوهېدلي چې دغه راز چپي او کمونیستي ډلې څه مرام او هدف لري؟ څه غواړي؟ په کومه لاره خپل هدف ته ځان رسول غواړي؟ له کومه ځایه ور سره مرسته او د څه له پاره کېږي؟ او دوی غواړي چې په څه ډول د ټولنې سیاسي قدرت ترلاسه کړي او بیا خپل اصلي څېرې راښکاره کړي؟

موږ ولیدل چې زموږ په ګران هېواد افغانستان کې خلقي او پرچمي کمونیستانو تر یو شمېر ماسکونو لاندې همدغه تکتیک عمل کړ او له بده مرغه چې روسان په دې ناولي پلان کې بریالي شول چې خپل خلقي او پرچمي کمونیست اندېوالان سیاسي ځواک ته ورسوي او کله چې د سیاسي واکمنۍ په ترلاسه کولو سره

دوی دخپل اصل هدف سوسیالیزم اوکمونیزم ته تګګ پیل کړ نوپه دی وخت کی زموږ دټولنی ټول وګړی وپوهیدل چی داخلقی اوپرچمی کمونستان اوس اوس څه کول غواړی ؟ هغوی وپوهیدل چی دسیاسی قدرت وږیوتګیو خلقیانو اوپرچمیانو ته دروسانو په چوپړکی هیڅ کوم څیز ارزښت نلری . نو همداو چی دروسانو په مستقیمه لارښوونه دخلقیانو اوپرچمی کمونستانو دجنایتونو او خیانتونو اورونه بل اوزموږګڼ شمیر بی ګناه مؤمن اوپتمن مسلمان وګړی په کی وریته شول .

که څه هم په افغانستان کی له اوولسیزو را په دیخوا روسی داره مارانو زموږ په کورنیو ترلاسه کولو له پاره یوشمیر کمونیست وګړی اوږلګی دریزرفی قواوو په توګه پټ ساتل و یعنی په دی معنی چی دخلق اوپرچم په ډلو کی په ظاهری توګه نه و شامل خوپه اصل کی له همدغو ډلوټپلو څخه دروسانو او کی جی بی په لارښوونه بیل شوی و او هغه له دی امله چی که سباورته اړتیا پیښه شي اوددوی خلقی پرچمي نوکران په روس پالنه کی پاتی راشي نوبیابه داپټ پالل شوی بریځي دکمونیزم له خونړیو پلانونو سره په نوی نوم اوقوت راوړاندی کیږی .

روسانو دغه پلان تریوه حده پټ وساتل شو خوچی کله وپوهیدل چی اوس دافغانستان ټول مسلمان وګړی شمیر سیاسی ډلی ټپلی دکمونیزم دپلی کولو او زموږ په مسلمانی ټولنی کی داسلام دسپیڅلی الهی دین دپای ته رسولو له پاره ګومارلی وی یو شمیر پیژندل شوی مزدوران یی هم دخپلو شومو غرضو نو له پاره پټ ساتل واونه یی غوښتل چی په آسانه توګه دی هغوی وپیژندل شی اوهغوی باید په ظاهری توګه دخلق ، پرچم اونوررروسی او کین اړخومزدورانو څخه بیل وساتل شی خو اوس زموږ مسلمانه ټولنه هومره هوښیاره بیداره اوسیاسی شوی چی هیڅ راز ترکاسی لاتدی نیم کاسه نشي تری پټیدلای .

که څه هم روسانو دخپلو دغوریزرفی مزدورو ډلو، افرادو

شیرپنځوس کلن خالقیارچي دکابل پوهنتون داقتصاد له پوهنځي څخه فارغ شوي دخپل ټول سیاسي اورسمي ژوند په بهیرکي دروسانو په لومه کي ګیراونښتي شخص ؤاودي .

اوبهرنیو چارنوکی نیغ په نیغه لاسوهنی کولی اود« کی جی بی » په لارښوونو یی یولړپراخ پلانونه عملی کول ترهغه چی د کی جی بی دجاسوسانو یوه ډله دخلق اوپرچم دمزدورانو په نوم چی په هیوادپلورنه اوروس پالنه کی بنه پیژندل شوی و دهیواد دسیاسی قدرت په غصبولوسره یی

ذواکمنی څوکی ته ورسول اوپه ذی توګه دهغوی له کرغیړنو څیرو څخه ټولی پردی پورته اودسیاسی مختوروپه شان وپیژندل شول .

په تیرودوولسو کلونو کی روسانواوپه افغانستان کی دروس دخپلوسیاسی اهدافو د اودهغوی سیاسی څواکونه دروسانو په هرراز عمل پوهیدلی نوبیی همداړلی تپلی دخلق پرچم له ډلی سره د«کین اړخ» دډلو ټپلو دائیتلاف په نوم یوځای کړی اوپه دی توګه دروس پټ جاسوسان بنه رسوا شول اودهغوی اصل څیرګمنځ ته راووتی اوزموږ دمسلمانو وګړو اومجاهدینو دلاسختی کرکی سره مخامخ شوی چی که خدای (ج) کول هغوی به هم پخپل وار اوخپل ځای زموږ د مؤمن ، اومجاهد ولس په وړاندی خپل حساب کتاب وګالی .

دغه راز که روسانو یو اواشخاصو له پاره ځانګړی پلانونه درلودل خو دلوی خدای (ج) په فضل اومرحمت هغه ټول اوبیوړل اوتورمخی جاسوسان یی له خپلو کړو، وروسره په شرمووشرمیدل .

دمثال په توګه : موږولیدل چی روسانو دکی جی بی جاسوسان لکه حسن شرق اودهغه اندیوالان دملی بی طرفه اومنل شویو اشخاصو په توګه دثوردشومی کودتا ددویمی لسیزی په کلونو کی په افغانستان کی دکمونیزم ژغورنی له پاره دحکومت په مشری یعنی دصدراعظم په توګه رامنځ ته کړخوداچی زموږ مسلمانووګړو دحسن شرق

ځرمن هم ښه پيژندله په ډيرې ميړانــې يــې دروســانــو دغــه پيژندل شوی جاسوس وراټه اودهغه په وړاندې يې هم خپل مقدس اسلامي جهاد لاتوند کړ .

اوس چې روسانو دنړيوالو دافکارو دتخديرولواوخړپړکولو له پاره يوبل لاس په نامه نوکر فضل حق خالقيار راوړاندې کړی اودنجيب په غوبکی وربنګيدلی چې داګل دانسخه وړاندې کړه بناڼی که له مرګه بچ شي، نو هغوی فضل حق خالقيار ديوه بيطرفه غيرخلقي پرچمي شخص په توګه معرفي کړی داچې موږ اوزموږ مسلمان ولس دټولو کمونيستانو اودهغوی دمزدورانو په اعمالو، کردارو، بوخت و ځکه چې زموږمسلمانه ټولنه همدومره هوښياره اوبيداره وه اودغه کاريې پيل کړي اوترسره کړي يې هم دي .

داچې نن دکابل حکومت اودلو يديځ ړنړور چيان هغه په افغاني مسلمانه ټولنه کې يوغير خلقي پرچمي دګړی بولي ، هغه ته داميد په سترګو ګوري اووائي چې خالقيار په افغانانو کې ښه نوم اونښان لري اوپخپله نجيب هم وائي چې هغه به يولړ ملي اوبين المللي بدلونونه راوستل شي دا ټولي بې ځايه ، بې مفهومه اوبې معنی خبرې دي . داځکه چې موږ دخالقيار سياسي هويت ښه پيژندلی اودهغه عمل دقضاوت معيار دی ، نه دهغه نوم « راټيټيده اوشيبه په شيبه زموږ دټولو هيوادوالو له کرکي سره مخامخ کيدلو هم .

په تيره بيا چې فضل حق خالقيار دنجيب درژيم په حکومت کې دهيواد دجنوب لويديځ زون آمرشو ده دکمونيزم دپراختيا اوټينګښت له پاره نه ستړی کيدونکې هل ځل وکړی نونجيب هغه دحکومت په کابينه کې دمشاور وزيردمقام په منلو او دزون د آمريت پرځای دهيواد دجنوب غرب دولايتونو دتنظيميه درئيس دمقام په ورکولو وستايه .

فضل حق خالقيار ورځ په ورځ دکمونيزم په چوپړکې ستړيانه منونکې هل ځل کولی او هغه دده پخوانی ورسپارلی

فضل حق "خالقيار" چې دنجيب درژيم په دوره کې دهيواد دجنوب لويديز زون آمرشو دکمونيزم دپراختيااوټينګښت له پاره يې نه ستړې کيدونکې هلې ځلې وکړي.

نيتونو ښه خبردی پوهيږی چې فضل حق خالقيار دغه دخالق اودهغه دمخلوق ستردښمن اوغدارځوک دی ؟

شپږپنحوس کلن خالقيار چې دکابل پوهنتون داقتصاد له پوهنځي څخه فارغ شوی دخپل ټول سياسي اورسمي ژوند په بهيرکې دروسانو په لومه کې ګيراونښتي شخص و او هغه دخپل کارپه ټوله موده کې دهيواد اقتصاد دروس په اقتصادي روش او تګلاره بدلول غوښتل اوله هماغه پيل څخه زموږ دمسلمانو ورونړو اوهيوادوالو ترڅارنې لاندې و اودهغه کړه وړه يې څارل اودهغه داعمالو په کنټرول خالقيار» .

فضل حق خالقيار ترهغه چې ځان يې دروسانو اوکمونيستانو له بريښتوی ملګرتيا څخه پټ ساتل و يوڅه يې دهرات ولايت په کوم کلي ياکوڅه کې کوم نوم ګټلی و چې دخلقيانواوکله چې پرچميانو په واکمنی کې دمالي وزارت دمعينيت په مقام وټاکل شو اوله هغه سره سم يې دکمونيزم دچوپړله پاره په ښکاره ملاوتړله نويې تش په نوم ګټلی محبوبيت هم له لاسه ورکړ اوکله چې دکابل دملحدرژيم په دولتي چوکاټ کې دده مقام لوړيده نويې په ټولنه کې نوم اونښان هومره شوی دنده وه اوده چې زموږ په ټولنه په تيره بيادمسلمانو وګړوپه منځ کې يې کرکه اونفرت زياتيده . په تيره بيادهرات مجاهد اومسلمان وګړی چې د فضل حق خالقيار دجنايتونو له امله چې دروسانو په لارښوونه يې عمل کول سخت له کړاواو ستونزوسره مخامخ وو او هغوی دخالقيار په بې طرفی! او ښه دريځ ! ښه پوهيږی .

دخالقيار جنايتونو زموږ مسلمان مجاهدين هسې راپارولي و چې په سپين ږګـــــــــــــــــــــــرېــــــــــــــــــــــی دزرګونوخاديانو،مليشيانو ، پوځيانو اوڅارندويانو په منځ

کی په نښه کړ اوهغه یې دجهاد په بوریو په گولیو وویشت داچی داځل هم دده اجل نه و رسیدلی بیله خبره ده اوریدل کیږي چی روغتیائی حالت یې مخ په ښه کیدودی اودنجیب رژیم دروسانو په امر خالقیارته دکمونیزم په لاره کی دوینو تویولو په بدل کی درژیم په حکومت کی دیوبل طرفه هیوادپال ، روسپال اوکمونیزم ته درستونی خدمتگارصدراعظم مقام ورکړ . داسی اټکل هم شته چی په دی برخه کی نه یواځی روسان لاس لری بلکی دلویدیځ واکمنان هم خوشاله دی چی دهغوی دواړو طرحی به په افغانستان کی پلی شی اوپه دی توگه به دخالقیار ترپردی لاندی دیوه اسلامی حکومت دجوړیدو مخه ونیسی .

زموږ مسلمان وگړی ښه پوهیږی چی دلته اوس افراد ، اشخاص اودهغه څرگندظاهری سیاسی هویت ارزښت نلری بلکی دټولو قضاوتونو معیار دهغوی عمل بولی په دی معنی چی دامهمه نه ده چی (دااوهغه !؟) چی دخلق پرچم ډلی غړی نه دی هغه به هرومرو ښه ، پاك اومسلمان سړی وی لکه دمخه چی هم ورته گوته ونیول شوه. ډیر داسی کسان شته چی دوی د کی جی بی اود(خادیاواد) غړی دی . دهغوی اعمال اوکردار دکمونیستانو په گټه اودکمونیزم له پاره چوپړدی . بنایی ډیر داسی وگړی وی چی دخلق اوپرچم له غړو څخه په جنایتونو اوخیانتونو کی دمخه وي دهغوی دښښنی له پاره په خلق اوپرچم کی دغړیتوب نه درلودل کوم سترکارنه دی داځکه چی دهغوی ایمان ، وجدان ، احساس اونور ښه صفتونه د مادیت ، الحاد ، رشوت ، خیانت ، جنایت او غداری ښکارشوی اودکمونیزم لاس په نامه نوکران دی .

داچی نن دکابل رژیم ، روسان اوغربیان په یوه خوله اویوه اواز دفضل حق خالقیار ستاینه کوی اوداوبواخستووپه ځیرگنگ ته هم لاس اچوی اودهغه په راتگ کی خپل ټینگښت اوپایښت وینی انشاء الله چی دهغوی دابی بنسټه امیدبه هم ډیر ژر ونهیږی .داحکه چی دکابل درژیم دشور دکودتا ، دهغی د بشپړتیائی پړاو، نوی فاز، ملی روغی جوړی اودغه راز نورو غولونکو گامونو لکه د اضطراری حالت دله منځه وړلو، دانتخاباتو دکولو اوله یوشمیر افرادو اواشخاصو څخه د کمونیستانو ژرغورنی یا دحسن شرق اوفضل حق خالقیار په ځیر دصدارت په مقام کی دغیرخلقی اوپرچمی وگړو دټاکلو هڅو ناکامیدلو وښودله چی زموږ مسلمان اومجاهدولس نوردد غه رازشوموددسیسو ښکار کیدلی نشی اونه به یې تردی وروسته څوك دتیرایستلو توان ولری .

زموږ مسلمان وگړی ښه پوهیږی چی داراپیښی ستونزی یواځی اویواځی په افغانستان کی هغه وخت اواریدلی شی چی دکمونیزم کمپله ټوله اودملحدرژیم پرځای یومنتخب اسلامی حکومت جوړاوفعال شی که نه نودچاخبره «هماغه دیك اوهماغه شلغم دی» اودکابل ملحد رژیم باید په دی وپوهیږی پرهغه لاره چی روان دی هغه ددوی دسپکاوی اوورکاوی لاره ده اوکه خدای (ج) کول انشاء الله چی همداسی به هم وشی.

دروسي برېڅولغوا بمبارشوي کلي

د ننګرهار د ظفر غونډ پاژواک وروړ فضل حق "مجاهد" له شفق سره په مرکه کې

د دې خبرې هسې تصور هم بېځایه دی چې د روس او امریکا په توافق به په افغانستان کې کوم حکومت منځ ته راشي

وروړ فضل حق مجاهد د شفق له غړي وروړ خنجر سره د مرکې په حال کې

پ : محترم مجاهد صیب ! هیله ده د شفق مجلې درنو لوستونکو ته ځان وروپېژنئ؟

ځ : زما نوم فضل حق او په مجاهد شهرت لرم د ننګرهار ولایت د رودات و ولسوالۍ او سیدونکی او د افغانستان د اسلامي حزب د «نظار هیئات» غړی او فعلاً د ظفر غونډ د مسئول په صفت له خپلو مجاهدو ورونو سره د جهاد په سنګر کې یم .

پ : که په خپل جهادی او مبارزاتي پس منظر لږه رڼا واچوئ ؟

ځ : د خپل جهاد او مبارزې په هکله داسې څه نه وینم چې محترمو ورونو ته یې عرض کړم ، خو دومره ویلای شم چې د اسلامي تحریک د لومړۍ قافلې سره د نا ستې پاستې او فیوضاتو نه د ګټې اخستنې شرف راته حاصل دی .

د دې کاروان د لومړي کړۍ د داعیانو دعوت ته مې لبیک ویلی او د ا د خپل ژوند لوی افتخار ګڼم . هغه وخت چې په ملک د الحاد سیلاب راروان و او د کابل پوهنتون د ننه د ځوانانو کوم تحریک د اسلام په نامه پیل شو موږ هم نوي کابل پوهنتون ته راغلي وو او د اسلامي تحریک د اهدافو او د هغه د قیادت سره د محترم وروړ څارنوال رضوان محمد په واسطه چې هغه مهال د شرعیاتو پوهنځۍ محصل و آشنا شوم په ټولو هغو چارو کې مې چې د مشرانو ورونو لخوا راسپارل شوې فعاله ونډه اخستې . په پوهنتون کې د شعله یانو ، خلقیانو او پرچمیانو پر خلاف چې

کوم اقدامات شوی په ټولوکی
شریک شوی یم خصوصاً کوم
اقدام چی دشعله یانو پرخلاف
دکابل پوهنتون دننه او دنورو
کمونستانو پرخلاف دپولی
تخنیك په لیلیه کی ترسره شوه
دیوسپاهی په حیث حاضروم .
پ : دافغانستان دربړی
داواری غوره لارکومه گڼی !
ځ : په هیواد کی جهاد
دیوواحد اومنظم جماعت
دپریکړی په نتیجه کی پیل
شو، وروسته بیا استعماردخپلو
گټوپه منظور مختلف افراد
رامنځته کړل اوس به هم انشاء
الله دهمغه تنظیم اوړلی
دقربانیو اوابتکاراتو په نتیجه
کی واحد قیادت اومنتخبه
اسلامی شورا دټول هیواد
دانتخاباتو په نتیجه کی رامنځته
اونوموړی ستونزه به حل
کیږی . له دی پرته ټول څه
هسی دوخت ضایع کول او
ځان غولول دی زمارایه داده
چی دجهاد مخلصین
اومجاهدین باید پخپلو جهادی
مشرانو زور واچوی چی دواحد
قیادت درامنځته کیدو لپاره
انتخابات ترسره شی اوددی
خبری ډاډ ورکړی چی داټول
څه ممکن دی خو دانتخاباتو
په نتیجه کی به دڅوقیادتونو
پرځای یو قیادت وی اوبس .
پ : که دروس ـ امریکا دگډ
استعماری پلان په نتیجه کی
پرافغانستان کوم غیراسلامی
حکومت تپل کیږی ستاسی
دریځ به څه وی ؟
ځ : زماپه نظرددی خبری
هسی تصورهم بیځایه دی چی
دروس اوامریکا په توافق به
کوم نظام په افغانستان کی
راشی ځکه افغانانو دابې شمیره
قربانی دمریپیتوب



وروړمجاهد په خپله کتابخانه کی دمطالعی په حال کی

دځنځیردشلولو اودالله (ج)
ددین دحاکمیت لپاره ورکړی
. جهاد یی دخپل ایمان په
حکم اودالله (ج) په اتکاپیل کړ
که په پیل کی مو دروس
اوامریکاپه اشاره حرکت کړی
وی اوس به یی هم وکړو .
دهغو خلکو حالات چی
دهغوی (استعمار چیانو) په
اشاره دجهاد له مورچل نه په
گټی اخستنی سره دسیاست
ډگرته راوتی ، همداسی
ښکاری ، چی دخپل ملت
داټولی قربانی دروس او امریکا
له خوښی قربان کړی .
نوموږ پوره ډاډمن یو چی الله
(ج) دشهیدانو وینی نه ضایع
کوی اوموږ به په دی لارکی
دبری ترپړاواواسلامی حکومت
ترراغاونی پوری خپل جهاد
ته دوام ورکوو.
پ : په افغانستان کی
دانتخاباتو دپروسی پرامکان
اوموثریت څومره ډاډه یاست ؟
ځ : هلته چی اکثرتنظیمونو
دخپل مسئوولیت له احساس
پرته دواحد قیادت درامنځته
کیدو په لړکی د انتخاباتو
مخالفت وکړ، بیایی هم داسی
مشکلات رامنځته نه کړای شول
چی حساب پری وشی . نوکه
نوموړی تنظیمونه دانتخاباتو
ترشاودریږی اوتوافق ته سره
ورسیږی نوپه پوره باور او
اطمینان سره ویلای شو چی
زموږ مسلمان ولس ددی توان
او استعداد لری چی نوموړی
عملیه دبریالیتوب پړاوته
ورسوی بیا هم کوم خلك چی
دانتخاباتو مخالفت کوی هغوی
ددی کار دعمل کیدو اوامکان
په باب اندیښنه نلری بلکی
دانتخاباتو نتایجو څخه ویریږی
نوځکه یی مخالفت کوی اوکه نه
نودکونړ ولایت انتخابات ددوی
په مخکی دټول مخالفت
اومشکلاتو ایجادولو سره سره
په پوره مطمئنه فضا کی ترسره
شول .
پ : بین المللی سیاسی فضا
دافغانستان دجهادپه اړه څه
ډول بولی ؟
ځ : زموږ دسیمې حل جهاد له
پاتې په ۹۹ مخ کې

محمدسرورهما — پیوسته به گذشته

آفاتي
که نهضت اسلامي را باشکست مواجه مي سازد

بدون شك مال ودارائی هم بزرگترین مانع درراه پیشروی نهضت اسلامی است زیراانسان راحت خواه واستراحت طلب وبنده خواهشات نفسانی نمیتواند درچوکات نهضت اسلامی بگنجد درحالیکه تعدادزیادی ازمردم جامعه دارای چنان خصلت نامرغوب وناپسند هستند که نهضت اسلامی را سدمیشوند وازحرکت بازمیدارند درحالیکه خودرا مومن هم خطاب می نمایند .

برای آنکه مسلمین ازخصایل راحت خواهی واستراحت طلبی ، تنبل بازداشته شوند وجامعه ازیك توازن خاص برخوردارباشد ازکنز وثروت اندوزی منع کرد تاامتش مانندمترفین وثروت اندوزان اقوام گذشته برخصال متذکره عادت نیابند میفرمایند : « مال ودارائی خودرا به راست وچپ صرف کنید تابرای حقدارش برسد درزندگی تنگی نکنید ، وسعت وفراخی نمائید » .

بخاطررسیدن مال به حقدارش است که خداورسولش انفاق رامکرراً یادآورشده اند « هرگز به نیکوئی نمیرسید تاآنکه نفقه کنید آنچه راکه دوست میدارید » تاآنکه محبت مال ازسرودل آدمی برود بعضی از صحابه (رض) ازحضرت رسول اکرم (ص) می پرسیدند که «ماکدام مال رادرراه خداخرج کنیم خداوند کریم خودجواب اوشانرا داده که ای پیامبر ! ازتوپرسان می نمایند کدام مال را درراه خدا(ج) خرج نمائیم ؛ بگوآن مال راکه زیاده ازضرورت خودتان باشد» .

ازین حکم معلوم میشودکه خرچ کردن برای یك مسلمان درراه خدا مقید ومحدودنیست بلکه هرچه میتواند وازوسعش میبرآید مصرف کنندنه طوریکه خودبه تنگی شدید مواجه شود وروزی دست سوال به دروازه دیگران درازنماید . مصرف کردن درراه خدا درحقیقت به اساس فرموده قرآن قرض دادن به خدا(ج) است که دربرابرش پاداش نیك واحسن نصیب مسلمان میگردد« آن کی هست که برای خدا قرض نیکو بدهد» .

خداوند جمع مال ، کنزوذخیره آنرا که همیشه ازگردش بازمانده وبه حقدارش نرسد باعث هلاکت دانسته است « روزیکه گرم کرده شود آن مال درآتش دوزخ ، پس داغ کرده شود به آن پیشانی ایشان وپهلوی ایشان وپشت ایشان گفته میشود اینست آنچه ذخیره نهادید برای خودپس بچشید آنچه ذخیره میکردید» (التوبه ـ ٣٥)

این گفته برای آنهائی است که به فردای خودمی اندیشند ذخیره مال نموده ازانفاق درراه خداخودداری می کنند وروزی دست اجل گریبان شانرا گرفته کالبدخالی می نمایندوذخایرشان برای بازماندگان شان باقی میماندبدون آنکه ازآن نفع ببرند .

حضرت اسما (رض) ازحضرت رسول اکرم (ص) نقل می نماید که : حضرت رسول اکرم (ص) برای من فرمودندخرچ بکن وشمارمکن (درراه خدا) زیرا الله تعالی نیز برتوشمارمی نمایدوتنگی نکن که خداوند برتوتنگی خواهد کردبه اندازه قدرت واستطاعت مصرف بنما . (متفق علیه)

کسیکه عضو نهضت اسلامی است درصورت مالداری مکلف است که برای تقویه بنیه مالی نهضت ازهیچگونه ایثار وقربانی دریغ نورزدودرقسمت انفاق مال به همنوعان طوری بکوشد

که درسرفهرست سخاوتمندان قرارگیرد وتجارتخودرا باخدا قایم نماید .

هرگاه افرادی باخصلت سخاوتمندانه شامل نهضت اسلامی باشد نهضت ازلحاظ اقتصادی درمضیقه نمی افتد وازسراشیبی سقوط نجات مییابد واگر روحیه سخاوتمندانه دروجود افرادیکه صاحب مال ودارائی اندنباشد وممسك بوده باشند درصورت یافتن امانت های نهضت ازیکطرف به قدرت جلب وجذب نهضت صدمه می زنند وازجانب دیگر امکان غبن وخیانت درامانت متصور میگردد زیرا این گونه اشخاص زراندوز وسرمایه پرور اند حتی خرچ درراه حلال هم براوشان سختی می نماید وقتی بحکم پیامبر گرامی اسلام که میفرمایند « تنگی نکنید » اعتنا ندارند پس ازآنها غیرازخیانت چه انتظاری خواهد رفت .

اعضای یك تنظیم اسلامی راست که ازصفت جودوسخابهره مندبوده ثروتمندانش برفقرای تنظیم کمك بلاعوض وبدون طمع داشته بحیث یك برادردینی وهم سنگر ازآنها سرپرستی نمایندتادوش بدوش هم فعال باقی بمانند ددرپهلوی افراد ثروتمند افراد نادار نهضت آسوده حال بوده گرفتار تعب وسختی نه شوند واز انجام کاری که برای نهضت لازمی است بازنمانند تاصف شان فشرده ومنظمه شان پخته شده درنیمه راه به سقوط مواجه نگردیده وغبارنیستی برویش ننشیند .

۵ ـ رغبت یافتن اعضای نهضت اسلامی بطرف کارهائیکه اورا ازفعالیت برای نهضت بازمیدارد .

کارهای گرفتارکننده انتفاعی که بحیث شغل وپیشه ازطرف اعضای نهضت انتخاب میشود تانفقه برای خودوعایله خودبدست آرند نیز مانعی برسر راه تحریك اسلامی میباشد ، هرگاه کار برای رفع احتیاجات شخصی ، فامیل ودرعین زمان کمك برای نهضت اسلامی بوده باشد ودرپهلوی خود ، تنظیم رافراموش نه نماید درآن کارعیبی نیست نه تنها ضرری ندارد بلکه درآن منافعی نیز وجود دارد که هم شخص وهم اجتماع ازآن نفع میبرد ، اگر کارانتفاعی خارج ازحیطه تنظیم بجائی رسیده باشد که دیگر نه وقتی برای کارکردن به نفع نهضت یافته شود ونه کمکی اقتصادی صورت پذیرد درآنوقت بزرگترین مصیبت برسرنهضت نازل گردیده راه زوال می پیماید زیرادیگر اعضای تنظیم ویانهضت برای ساختن حکومت اسلامی ، اتامین عدل درروی زمین ورستگاری افرادی خویش علاق ودلچسپی نشان نمیدهند وخودرا مستغنلی ازنهضت دانسته ، تنها به حیات فردی قناعت میدارد ونهضت ازافرادمستعدمحروم گردیده بطرف مرگ حرکت می کندبرای اینکه چنان مصیبتی برسرنهضت اسلامی نیامده باشدخداوند خبیر ودانا ازقبل هشدار داده میفرمایند : « شمه زندگی دنیارا ارجح میدانید درحالیکه آخرت بهتراز دنیا بوده وجاویدان است »

وهم چنان میفرمایند : « آراسته کرده شده است برای مردمان دوستی آرزوهای نفس اززنان وفرزندان وخزانه ها ، جمع ساخته اززروسیم واسپان نشانمندساخته وچارپایان وزراعت اینست بهره زندگانی دنیا (اما) نزدیك خداست بازگشت خوب ونیك ». (آل عمران ـ ١٤)

مواديکه دربالا ذکر شده است مانند نفس ، زن وفرزند ومال همه گرفتاری هائی دارد که اگر به آنهادلچسپی افراطی نشان داده شود دیگر انسانرا ازیادخدا وپرستش ذات بیچونش بازمیدارد .درآخر آیه متذکر میشود که اینها نباید مانع یادخداباشند زیرادرنهایت به نزدخدا بازگشت بوده وهمه خوبی هادرنزد خداست .

خداوند باالطاف بی پایان خودبرای رهنمائی انسان گمراه میفرماید :

« ای آنانیکه ایمان آورده اید آیا شمارا دلالت کنم برتجارتیکه نجات یابید ازعذاب دردناك ! آن اینست که ایمان بیاورید بخدا ورسول اوجهادکنیددرراه خدا(ج) به مالهای تان ، ونفسهایتان ، اگر بدانید این خیروبرکت است برای شما »
(الصف ـ ١٠ ـ ١١)

حضرت رسول اکرم (ص) تنهاکسی بودکه توانست اینگونه تجارت رابه منصه ظهوررساند

> **خداوند(ج) جمع مال ،کنزوذخیرهٔ آنراکه همیشه ازگردش بازمانده وبه حقدارش نرسد، باعث هلاکت دانسته است .**

وانقلاب عظیم وبزرگی را درمیان متعصب ترین قوم ازلحاظ جهالت بیاورد اصحاب گرامی حضرت رسول اکرم (ص) نیز برای نضج وپختگی نهضت نوپای اسلامی ازهمه چیز خودگذشتند درحالیکه بعضاً ازثروت وسرمایه زیادی بهره مندبودند، راه هجرت درپیش گرفته باسختی هاومشکلات هجرت پنجه نرم نمودند تادین شان ازتجاوز جهلای عرب درامان مانده ، وتقویه یابد که همانطورشدوتاامروزادامه دارد .

درصده اخیرکه افغانها احیاکننده سنت پیامبرگرامی اسلام حضرت محمد(ص) بوده اند چون اصحاب پیامبر(ص) برای دفاع ازدین وحفظ ایمان بخدا ، برای جلو

بیبندند ، ناسنجیدگی ها، بی تفاوتی هاورقابت های بیهوده وتعصب آمیز تنظیمی وگروهی راکنار گذاشته ازانتقادات بیموردشیرازه انقلاب اسلامی راکه برای بسر رسیدنش ۱/۵ ملیون مسلمان خون فداکرده ازهم نپاشند ، هرگاه بکاری درخارج ازتنظیم جهادی مشغول اند هم وغم شان برین باشد که چگونه میتوانند مجاهدین سنگرنشین ومهاجرین دردمندورنج کشیده راخدمت نمایند وآنهائیکه کاری دردفاتر تنظیم دارند وباهیچ وظیفه بدوش ندارند صمیمانه وبرادرانه بدون تبعیض وتعصب همکاری داشته نمونه ازاسلام باشند . کسانیکه درسنگراند ویادر کمپهایی

بخاطرسیدن مال به حقدارش است که خداورسولش انفاق رامکرراً یادآورشده اند .

گیری از بابقدرت رسیدن ارتداد والحاد ازهرچه داشتند گذشتند وراه هجرت پیمودند که این نوع قربانی وایثار درقرن چارده هجری ازشاذترین نوع ایثار بوده که شاید کمتر ملل قدرت برداشت آنرا داشته باشد .

هکذا طبق سنت پیشوای گرامی اسلام بعدازمرحله هجرت به جهاد دست یازیدند تاقدرت غول سای الحادرا که دنیاراامبهوت ساخته بودشکستاند وداغ شکست را برجبینش حك نمود .

حالا تقاضای زمان ازمجاهدین ومهاجرین که درحالت بی سرنوشتی قراردارند اینست که مهاجرین افتخارات یازده ساله جهادرادرنظرداشته کمرهمت

سوزان دیارهجرت ، متوجه باشند وبکوشند تااختلافات فی مابین خودرا به روش احسن ومطابق خواست وتقاضای اسلام حل نمایند وکارهای شخصی ازرسیدگی بکار تنظیمی وجهادی بازشان ندارد زیراجهادمال فردنیست بلکه مال جمع وعموم مردم است ، هرگاه بموفقیت نایل آیند همه ملت درتحت سایه پرچم آزادی خواهند آسودوهرگاه خدای ناخواسته به ناکامی انجامد همه بدون استثنا درآتش سوزانش خواهند سوخت »

بازپروردگارتوآنان را که هجرت کردند بعدازآنکه عذاب شد ایشانرا تاکلمه کفر بگویند بازجهاد کردند وصبر نمودند هرآئینه پروردگار تو بعدازاین (مقدمه) آمرزنده مهربان است . آن روز یکه بیاید هرشخصی جدال کنان ازطرف ذات خود وبه اتمام داده شود هرشخص را جزای آنچه کرده است وایشان ستم کرده نه شوند» .

(النحل – ۱۱۰ – ۱۱۱)

چقدرلذتبخش وفرحتزا است که همه ملت مسلمان افغانستان یکپارچه به هدف ونصب العین آغازجهادباز گردند وتنها برای رضا وخشنودی خدا مبارزه وپیکاربی امان خودرا علیه دشمن سفاک ادامه دهند واز افعال زشت وکریه چون جنگ داخل ، تبلیغات ناروا وناجایز ودسته بندی ها خود داری نمایند تاباعث اتلاف وقت واجروپاداشی که نزدخدا(ج) دارند نه شده باشد ودرنتیجه با ناکامی وبدنامی خسرالدنیا والاخره نصیب شان نگردد . ونهضت اسلامی درافغانستان زنده وباقی ماند .

۶ – راحت طلبی وتجمل خواهی :

آنتیکه حاصلات مزرعه نهضت اسلامی رابه نابودی میکشاند عبارت ازمال دوستی وثروت اندوز اعضای نهضت میباشد زیرا باتمایل بیش ازحدوبه شکل افراطی اش به مال ودارائی عادات رزمجوئی ، جوانمردی ، شور وقسوت را دروجود انسان میکشد ودرعوض رخوت ، سستی وترس راجانشین مینماید انسان نسبت به زیبائی های دنیا علاقه مفرط میابد به خوردن ونوشیدن وپوشیدن اسرافی معتاد میشود ، خوش خوری ، خوش پوشی ، و سرگرمیهای متنوع رابار آورده آهسته ، آهسته رمق ونیروی

حیاتی نهضت رافرسوده میسازد رهبران نهضت کابش رابجای کوبش بکار میبرند اعوان شان هم با پیروی از آنها درراه آرائش زندگی خودمیکوشند وکارنهضت رابرای عوام میگذارند درحالیکه تفاوت زندگی مادی میان عوام ورهبران شان درذهن نمی گنجد عوام هم بابی اعتنائی بکار نهضت پایه های نهضت را مرتشع ومتزلزل مینمایندبالاخره جامعه به فساد کشیده شده وبه طرف ویرانی حرکت نموده وشیرازه نضهت ازهم میپاشد قرآن کریم دراینمورد میفرماید :

« وچون خواهیم دهکده راهلاك کنیم عیاشانش (مترفین ، نا پرورانش ویاتجمل خواهانش) رابسیارکنیم تادرآن عصیان کنند وفسق ورزند گفتار خدابرآنها محقق شود وویرانش کنیم ویرانی کامل »
(بنی اسرائیل ـ ۱۵)

بلی ! این گفته درمورد اقوام وملل اسبق که مایه تجربه وعبرت زمانه هاست تطبیق شده است درحال حاضر هم هشداری است برای آن عده ازمسلمانان ناآگاه وغفلت زده که به برخی ازحکام جفاپیشه قبلی نظرنمی اندازند وتوجه ندارند که حاکمیت اسلامی که با فداگردیدن خون ملیونها انسان برپاشده واستقرار یافته بود چگونه ازهم پاشید ؟

تاریخ جفاکیشان اسلام دشمن برهیچ کسی مخفی نیست وهمه میدانند که حکومات اسلامی درنقاط مختلف روی زمین زمانی به بی ثباتی وپوسیدگی رسیده است که حکام درگیر عیاشی ، راحت طلبی بودند ودنبال راه وسنت پیامبرگرامی اسلام واصحاب جلیل القدرش رانپوشیدند .

امروزهم بعضی ازاشخاص ذی صلاحیت راه همان حکام بی بندوبار وعیاش رامی پیمایند ، درآرایش وپیرایش حیات مادی خود عنایت خاص دارند درحالیکه درزیرنظروحاکمیت شان هزاران مسلمان بی گناه ومظلوم به لقمه نانی وپاره پارچه محتاج است این ناآگاهان ازخدابی خبر باخوان هزارویك رنگ زندگی نموده ازسرنوشت ملل مظلوم مسلمان که درزیر چکمه های کفاربه انحای مختلف دردمی کشند ترحمی ندارند تادرراه نجات شان بکوشند .
وازصلاحیت های خود استفاده نموده به دادشان برسند ودرسرنوشت یابی شان عطف توجه دارندتاپایه های نهضت اسلامی درروی زمین بادریگرنضج گیرد .

بی تردید آنهائیکه دوست دارند تادیگران خون بدهند وبمیرند وخودحیات داشته باشند ، دیگران به مسکنت برسند وخودبامکنت ورفعت زندگی کنند بدانند که دیریازود روزگار مزین وپرجلال وجمال شان چند روزی ادامه نخواهدیافت وحتماً دربرابر محاسبه خدای قهار قرارخواهد گرفت وبه عقوبتش گرفتار خواهد آمد .

«هرکی عمل نیکی انجام میدهد برای نفس خودش است وهرکی بد مینماید عین ترتیب بخودش است »

ژباړن : سید فضل مولا "لټون ، هاشمي"

په اسرائیلوکي دروسي یهودانوځاي پرځاي کیدل

تراوسه چې په نړۍ کی څومره هیوادونه منځته راغلي دي ، په هغو ټولو کی دایوه خبره مشترکه ده چې دکومې ځانګړې سیمې خلکوته په هغه سیمه کی واک ترلاسه شوی دی، خواسرائیل په نړۍ کی هغه یوازینی هیواددی ، چې وګړي یې دنړۍ په هیوادونو کی خپاره وو او له دغو هیوادونه داسرائیلو اوسنی هیوادته راوستل شول اوهم دلته میشته شول ، اوپه دی ډول د۱۹٤۸ میلادي کال دمې دمیاشتې پرڅوارلسمه نیټه دیو آزاد او خپل واك هیوادپه توګه رامنځته شول، یهودیت دمذهب اوصیهونیت دیوی نظریې په توګه په اسرائیلوکی لا لومړۍ نسره موجودوو.

فلسطیني سیموته داسرائیلو راوستل د۱۸۸۲ او ۱۹۰٤ میلادي کلونو په منځ کی پیل شول ، چې په دغه موده کی تقریباً ۲۵ زره یهودان په فلسطین کی ځای پرځای شول چې زیاتره یې روسي یهودان وو، ددغو یهودانوپه راتګ سره په فلسطین کی دیهودانو نفوس دوه چنده شو،همدا مهال څوزره یهودان له یمن نه هم راغلل ، د ۱۹۰۵ او ۱۹۲۳ میلادي کلو نوترمنځ ۷٦ زره نوریهودان فلسطین ته راغلل، چې زیات شمیریې روسي اوپولیندي وو، فلسطین ته په دریم ځل دزیات شمیر یهودانو راتلل په ۱۹۲٤ او ۱۹۳۸ کلونو په منځ کی وشول په دې مهال درالیږدول شویو یهودانو شمیر دری لکه نهه څلویښت زره و ، دغه شمیریهودان زیاتره له مرکزي اروپانه راغلل، ځکه چې په دې مهال کی نازیان واك ته رسیدلي وو اوبله داچې د« بالفور» اعلان په ۱۹۱۷ کی هم شتوی و چې په فلسطین کی دیهودیانولپاره دیوآزادهیواد دجوړولو لپاره یې ویل شوی وو، د۱۹۳۹ او ۱۹٤۸ کلونو ترمنځ یوسل وشل زره یهودان فلسطین ته راغلل اومیشته شول ، په ۱۹٤۸ میلادي کال چې کله یهودي دولت جوړشو، دیهودانو شمیر تقریباً اووه لکه اولس زره و، داتلسو میاشتو په دننه دننه کی اسرائیلونوړو دری لکه اوپنځوس زره یهودیانو ته ځای ورکړ، په ۱۹۵۸ میلادي کال کی یوسلوشپیته زره یهودیان له افریقانه اسرائیلوته راوستل شول .

په ۱۹٦۷ میلادي کال دعربو ـ اسرائیلو په جنګ کی داسرائیلو سرحدونه پراخه شول ، ځکه چې له مصرنه یې د« سینا» ټاپووزمه ، داردن دسیندلویدیزې غاړې ، دغزې تړانګه اوبولان غرونه نیولي وو، چې په پورتنیو نیول شویو سیموکي د سیناټاپوزمه د«کمپ دیوډ» تړونونو وروسته مصرته بیرته پریښودل شوه ، له ۱۹۷۰ نه تر۱۹۸۰ میلادي کال پورې تقریباً یونیم لك یهودیان له روس نه اسرائیلو ته راولیږدیدل ، دامهال داسرائیلو نفوس ۳٦ لکه دی اوهرکال په اوسطه توګه ۲۰ زره یهودان اسرائیلوته له بیلابیلو سیمونه راځي ، تیرکال تقریباً ۲۵ زره یهودان اسرائیلوته راغلل، چې په دغه شمیر کی یې ۱۲۹۲۳ تنه له روسیې نه راغلي وو، اواوس له روس نه دیهودیانو ترټولو زیاتوشمیرلیږد اسرائیلوته پیل شوی دی ، اسرائیل پازوال هیله لري چې په راتلونکیو پنځوشپږوکلوکی داووه نیم لکه یهودیانو دراتګ هیله کیږي ،

او سرکال له اویازرونه تر یولك پوری یهودیانوراتګ امکان لري .

له روس نه ددومره زیات شمیر یهودیانو له لیږدنه هدف دادی چې تقریباً شل لکه یهودیان په روس کې میشته دی ، په روس کې اقتصادی ګوونږي هم یهودیان اسرائیلوته په راتګ اړکړي دي ، سربیره پردې په روس کې داوسنی آزادسیاست یوبدالغیز داشوی دی چې هلته دشامی حکومت مخالف اوښې لاسې مل ګوندونه پرله پسې په رامنځ ته کیدودی ، چې په نتیجه کې یې هلته دشامیانوپسر خلاف مظاهری هم وشوی ، اولادزیاتیدوامکان لري ، نوځکه له روس نه دیهودانو په راتګ کې چټکتیا راغلی امریکایانو خپل میرادته دروسی یهودانوراتګ کم کړی دی ، نوځکه دهغوی زیات شمیر اسرائیلوته ځي ، چې اسرائیل ورته لیمې لګوی .

اسرائیلوته دیهودیانو راتګ : داسرائیلوهم دانګلستان په څیرکوم لیکلی شوی قانون نشته ، خوپرپروه قانونی ماده ټول ملت متلق دی ، یعنی د(بیرته راستنید وقانون) چې په (۱۹۵۰) میلادی کې منظور شوی دی ، ددغه قانون له مخې هریهودی کولای شي چې اسرائیلو ته راشي اومیشت شي ، اوددغه میراد تابعیت خوره کیږي ، څرله روس له دیهودو اوسیدی راتګ دغه پخوانی قانون له مخې ته دی ، پرګه نورلاملونه لري :

۱ـ اسرائیلوته ترټولو ستر خطرد فلسطینیانو دنفوس له زیاتوالی نه دی ، په راتلونکیو هلو پخګه ریختو کلونوکې په اسرائیلو کې دنفوسو تناسب بدلون مومي ، دامهال داسرائیلونفوس دنیول شویو سیموسره ۳۷ لکه دی او ۲۲ لکه عرب په فلسطین کې میشته دي ، یعنې تقریباً شپیته فیصده نفوس داسرائیلو او حلوېښت فیصده عرب دي ، خودعربو زیږونده تریهودیانوزیاته ده ، په عربوکې دزرو په سر(۳۱) تنه په کال کې زیاتیږي اویهودیان دزروپه سر۱۳ تنه،داسرائیل سر شمیرنې له اټکل سره سم تر ۲۰۰۰ع پورې دیهودیانوشمیر۴۲ لکه اوعربانو شمیر ۳۱ لکه کیدونکي دي ، چې په دې حساب نوردیهودیانو نفوس × ۵۷ ته راټیټیږي ، په ځانګړی توګه په شمال سیموکې چې تر ۲۰۰۰ع پورې به د اسرائیلو نفوس × ۳۷ ته راټیټ شي ، اوپه دې حساب به تر ۲۰۲۰ پورې دعربو اکثریت شي ، اسرائیل نفوس شمیرونکي دغه خطر ته دټایم په نوم ورکړی ، د ۸۸ ع نومبر په انتخاباتو کې کارګرګوند یوه اعلامیه خپره کړه چې عمران یې د ټاکسي ته معلومه نه ده چې په لږیدیزو غاړو اوغزې په سیمه کې د پنځلس لکه عربو نفوس یوه رښتینې خطره ده ؟ پرهمدې اساس اسرائیلو ته د ۱۹۶۷ م کال نه دمخه سرحدونو ته دبیرته تللو مشوره ورکول کیږي ، د حیله پوهنتون دپروفیسور له اټکل سره سم ،

له روس نه ددومره زیات شمیریهودانو دلیږدهدف دادی چې تقریباً شل لکه یهودان په روس کې میشت اودروس داقتصاد براوږوبار دي .

یولك اویازره یهودیان دي په دغو سیموکې میشته شي ، نو دیهودیانو شمیر به په نسبي توګه زیات شي ، داسرائیل واکمنانو اټکل دی چې دروسي یهودانو په راتګ به تر دوه لسیزو پوری یهودی اکثریت پرځای پاتې شي .

۲ـ داسرائیل حاکمانو لپاره یوه مسئله د« انتفاضه » تحریك پیلیدل اودهغې برپالیتوب اوپه جذباتی توګه یې جاری پاتې کیدل دي ، دآزادۍ اوخپلواکۍ لپاره پیل شوی دغه تحریك د ټولې نړۍ پام ځانته راګرځولی دی ، په دغه تحریك کې داسرائیلو ناروا اوتیری سره سره هم کمې رانغی ، په دغه تحریك کې دکوچنیانو په شمول په سوونو وګړي شهیدان ، زخمیان او په زرونو بندیان شوي دي ، په نیول شویو فلسطینی سیموکې دهغوی په سوونو کورونه ویجاړشول .

دغه تحریك چې په ۹ دسمبر ۱۹۸۷ میلادي کې پیل شوی و داهیزو اټکل یې له دې نه کیدای شي چې داسرائیلو مربی امریکا چې تل یې فلسطینیان ورانکاری ګڼل دفلسطین دآزادی له سازمان سره خبرواترو ته تیاره شوه ، د۱۹۸۸ کال دنومبر پنځلسمه نیټه کې دفلسطینیانو جلاوطنې حکومت اعلان کړای شو ، چې تر ۱۱۵ زیاتو هیوادونو په رسمیت وپیژاند ، دفلسطینی سازمان مشر یاسرعرفات

دلومړي حل لپاره په ژنیوکې دامنیت دشورى غونډې ته وړاندې وکړه. له روس نه دلیږدېدونکیو یهودیانو په وسیله په نیول شویو فلسطیني سیمو کې ددغه تحریک دټکولو لپاره کوښښونه کیږي.

۳ـ یوبل علت یې داهم دی چې دیهودیانو پرمیشته کولو هغه اغیزې هم راکموي چې په نیول شویو سیموکې داسلامي تحریک داغیزمن کارپه بڼه ښکاره کیږي، په نیول شویو سیموکې اسلامي تحریک د«حماس» په نامه شروع دی، دانتفاضې ترشاه هم په اصل کې داسلام غوښتونکیو لاس دی، ځکه چې په نیول شویو سیموکې دفلسطین دسازمان نقش دغیرحاضروپه څیردی.

یاسرعرفات اومرستیالان یې داپللیو فلسطینیانودآزادۍ لپاره دکوښښونو پرځای دعربي واکوالو اولویدیزو هېوادونو دخوشالولو لپاره ترډې زیات کوښښونه کوي اوورسره ورسره یې دامن لپاره کوښښونو پرځای دتشدد لاره غوره کړه، په نیول شویو سیموکې د فلسطین دآزادۍ دسازمان سیاسي هڅه وال تش په نامه دی، دامهال دفلسطین دآزادۍ دسازمان په مقابل کې اسلامي تحریک مخکښ راغلی دی لکه څنګه دیوبل ایران اوافغانستان دتجربې له دخلاصون لپاره دلویدیزو ځواکونو اوداسرائیلو ښکاره اوپټو دوستانو داکوښښ دی چې له هرې لارې وي باید نیول شوې سیمې دفلسطین دآزادۍ د سازمان په لاسوکې (چې عربي دېته ګروندي) ورکړای شي اوپه دې وسیله داسرائیلو دژوندي پاتې کیدلو حق پرې ومني.

اهداف: پورتني لاملونه اسرائیلو ته دیهودیانو له لیږدسره هم آهنګ دي، یعنې په فلسطین کې د نفوس شمیر دیهودوپه حق کې ساتل، د«انتفاضه» تحریک دآزادۍ کوښښونه تس نس کول، سربیره پردې دروسي یهودیانو اسرائیلوته یوبل هدف داسرائیل صدراعظم شمیرد جنوري دپنځلسمې نیټې له دې خبرې نه ښکاره دی چې «سرکال په ممکنه توګه له روس نه دیولک یهودیانو راتګ اومیشته کیدل دعظیم اسرائیل لپاره اړتیاده» دغه عظیم اسرائیل دنیل له سیندنه واخله دشام ترپولو پورې دی، د«یروزهلم پوسټ» مجلې په وینا «په اسرائیلو کې دیهودیانو منل دیهودي حکومت دهڅه وال هدف دی» اسرائیل ددغه روسي یهودیانو په مرسته نیول شوې سیمې، چې امریکااوروس په منځني ختیځ کې دامن دمنځته راتګ په خاطر فلسطینیانوته په ورکولو دفلسطیني مملکت دجوړولو هڅه کوي پخپل لاس کې ساتل اوپه بدله کې یې پرهغوی داسرائیلو تسلط غواړي، خواسرائیل ددغو سیمو پریښودلوته تیار نه دی، هغوی دیوه سیمه ایز ځواک په توګه رامنځته کیدل غواړي، دصدراعظم شمیر وینا ده چې «په راتلونکیو پنځو کلونوکې به مونږ له هېواد ومنو اوهرڅه به بدل شوي وي، هرڅیزبه نوي اوځواکمن شوي وي».

خوآیاددغو مصنوعي لارچارو په وسیله فلسطینیان له خپلواکۍ او دیوه آزادهېواد له منځته راتګ نه بې برخې ساتل تراوږدې مودې پورې امکان لري؟ یقیناً چې نه! دنړیوالو اولویدیزو ځواکونو ترټولو زیات تشویش په دې خبره دی چې هسې نه چېرې دفلسطین د آزادۍ تحریک دسوچه اسلامي ګوندونو لاسوته ورنه شي؛ ځکه چې امریکا اوروس دغه تجربه په مستقیمه توګه په ایران او افغانستان کې زغملې ده، چې داسلامي بنیاد پالۍ فکر په مسلمانانو کې څومره مضبوط وي، نوځکه دروسي یهودیانو اسرائیلوته دراتګ اوپه نیول شویو عربي سیموکې دهغوی میشت کولو مخالفت له اسلامي هیوادونوسره

سره لویدیزو هیوادو اوروس اوامریکا هم کیږي، لویدیز المان فرانسې، انګلستان اوله جاپان سره پنځلسولویدیزو هیوادواسرائیلوته ویلي دي، چې په نیول شویو عربي سیموکې دروسي یهودیانو له میشته کولو منع شي، په دې لړکې دیوه قرارداد مسوده دملګروملتو دبشري حقوقو کمیټې ته ورکړای شوې ده، دروس دباندنیو چارو وزیر په مسکوکې اسرائیل سفیرته ویلي دي، چې په نیول شویو عربي سیموکې دروسي یهودانو میشته کول په منځني ختیځ کې دامن دمنځ ته راتلو په لارکې خنډکیدای شي.

د محمد رحیم "خنجر" ژباړه

په تاجکستان کې داسلام دبیا راژوندي کولو غورځنګ

داسلامي تهذیب او تمدن زانګو سره ځنځیرونه شلوي

په تاجکستان کې مسلمانانو دروسي واکمني پرخلاف سرغړونه پیل کړې او روس ددې سیمې د ځوانو مسلمانانو دفعالیتونو دمخنیوي لپاره نور پوځ هم هلته لیږلی دی لکه چې دپوځ او مظاهره چیانو ترمنځ په یوه ټکرکې یو دیرش مسلمانان شهیدان کړای شوي دي. په همدې ډول په څوورځوکې داشمیراوه دیرشوته ورسیداو دامریکا یې مطبوعاتو په حواله داشمیریو ملو. اته دی داوخت وضعه داسې ده چې په دوشنبې ښارکې، دپوځي اقداماتو سره سره هم حالات په کنترول کې نه دي. پخپله دماسکو رادیو دامنلې چې نارامۍ دښار خواوشاته خپرې شوي او پدې ښتوکې ۳۹ روسي پوځیانه زخمیان شوي دي. دتاجکستان دکمونست ګوندمشرله خلکونه وغوښتل چې امنیت مراعات کړي مګر داغوښتنه بې اغیزې پاتې شوه. دغربي حوالوسره سم دګوند مشرله خپلوغړیو نه وغوښتل چې ځان مسلح کړي څو دخپلو چارواکو رنیو دفاع وکړای شي دیوه تصدیق شوي خبرله مخې دتاجکستان مسلمانان دروس اوارمنیا په خلاف شعارونه ورکوي اوله روسي ټانکونوسره مخامخ کیږي او دمحلي کمونیست ګوند دمرکزي کومیټې دودانۍ ساتونکي پوځیانو دلیکو دماتولوکوشش کوي.

تلویزیون په دوشنبه کې داوښکي بهوونکي ګازپورته شوي وریځ لیدلې ده په دې ضمن کې دبخارست راډیوویلې دي چې زیاتیدونکي بې کارۍ او دتاجکي ځوانانو داسلامي جذبې تجدید ددې خونړیو پیښو بنسټیز لاملونه دي داوخت ددوشنبې واکمنو خلکوته ویلې دي چې ځلورلارونه لرې او وسې څو کومه دردوونکې پیښه رامنځته نشي، روسي جمهوررئیس میخاییل ګورباچوف وویل چې دهغو خلکو پرخلاف به چې نژادي فسادونوته لمن وهي سخت اقدام وکړای شي، هغه په یوه ویناکې وویل چې دبې نظمۍ دمخنیوي لپاره دقانون مسوده وړاندې کیږي. هغه وویل چې دروسي ولسونو پرګاندي اودهغوي دحفاظت پرمعامله سوداګري کیږي دیوبل خبرله مخې دآذربایجان پاپولرفرنټ په مسکوکې یوه مظاهره وکړه چې په هغه کې غوښتل شوي وو چې دباکوښار اضطراري حالت دې ختم کړای شي او روسي پوځونه دې بیرته وغوښتل شي.

له ارمینیا او آذربایجان نه وروسته تاجکستان دریم روسي

جمهوریت دی چی عوامو ېکی
د آزادی غورځنګ پیل کړی
دی اوداحقیقت دی چی تر
آذربایجان وروسته په
تاجکستان کی مظاهری دروس
دغلبی اوکمونیزم پرخلاف دی
اوداداسلام داحیا اوتجدید
غورځنګ دی . دتاجکستان
دموجوده غورځنګ په سبب
نړیوال دهغه ځای له ریښتینو
حالاتونه چی دروس دظالمانه
تسلط په سبب پټ پاتی وو، او
اوسپنیزی پردی هغه په تیاره
کی ساتلی وو، خبریږی .

تاریخ شاهددی چی
دمرکزی آسیا دالویه سیمه په
ټوله نړی کی مشهوره وه
اودوریښموپه وساطت یی له
ټولی نړی سره اړیکی درلودی
دتاجکستان په لاره امیر تیمور
حملی کړی وی . اصلاً داسیمه
دخپل اسلامی تهذیب ، تمدن
اوعلم وادب په وجه ډیره
مشهوره وه .

اوداکثروصوفیانو دسکونت
ځای وو،ډیرسترشاعران اوادیبان
هلته پیداشول اودشعر وادب
څراغ یی هلته روښانه کړ .

لکه چی اوس هلته دمولانا
جامی په یادځه مراسم انعقاد
مومی او دفردوسی لپاره
راتلونکی کال ټاکل شوی دی .

پرتاجکستان دروسانو تسلط
په ۱۸۶۷ کال کی پیل شو .
تزار په ۱۸۸۲ کال هلته
رسیدلی و. دهغه دلیل داوچی
خپلمنځیو یی اتفاقیو دملک
شیرازه دړی وړی کړی وه ،
تزار له هغه نه ګټه واخسته
اوهغه اسلامی ملک یی ترخپل
ولکی لاندی راوست . کله چی
په ۱۹۱۷م کال کمونستی
انقلاب ! راغی نوهمغسی یی
ترخپل ولکی لاندی وساته
اوهغه ځمکه چی داسلامی ثقافت
زانګووه دسره انقلاب غیزی ته
ورغله .ددی اثر اورسوخ
نتیجه داشوه چی مسلمانان له
دین نه لری کړای شول .
عربی بیګانه ژبه وګڼل شوه
اوداسلام ستونی خفه کړای
شواو هغه نسلونه چی داسلامی
ارځښتونوساتونکی وو له منځه
یوړل شول .

مګر اوس په تاجکستان کی
نوی نسل داسلام بیا راژوندی
کولو ته ملاتړلی ده . هغوی
دنړی اسلامی غورځنګونه لیدلی
دی . دپاکستان داسلامی
هیواد منځته راتګ ، دایران
اسلامی انقلاب اوترټولو مهمه
دروسی تاراک اویرغل په
وړاندی دافغان مسلمان ملت
پاڅون دهغوی احساسات
راوپارول اودی کی شك نشته
چی په دی جمهوریت کی دینی
اوتهذیبی کوششونه پیل شوی
دی . په تاجکستان کی
داسلام احیا دوه دوری لری .
لومړی دوره دفرهنګی
اوتهذیبی روایاتو ژوندی ساتلو
دوره ده . دادوره هغه وخت
پیل شوه ، چی تاجکی
اوسیدونکو دخپلی پخوانی ژبی
د ساتلو لپاره غږ پورته کړ .
داسی وشول چی روس دوه
ځلی دهغوی دژبی اولیك دود
دبدلولو هڅه وکړه . هدف
داوچی دتاجکستان اوسیدونکی
دخپل اسلامی پانګی نه محروم
شی اواړیکی یی له خپل اسلامی
ماضی سره پریکړل شی، ځکه
دتاجکانو ټول ادب په هغه ژبه
کی خوندی پاتی شوی دی .
تاجکانو په دی اړه لویی لویی
مظاهری وکړی . نوی نسل ته
چی کومه زده کړه ورکول
کیږی په روسی،ژبه دساینسی
علومه زده کړه ده . تاجکی
پوهان هڅه کوی چی ساینسی
علوم خپلی پخوانی ژبی ته
انتقال کړی .

لکه چی دتاجکستان په ملی
شوراکی تاجکی ژبه دملی ژبی
په توګه دمنلو لپاره دقانون
یوه مسوده ترڅیرنی لاندی ده

دیادولو وړده چی نوی
تاجکی نسل سه خپله سیمه کی
په ماضی کی داسلام له نقش نه
ځان خبرول غواړی . لدی نه
څرګندیږی چی په دی ټوله
سیمه کی اسلام
دخپلوشانداراواصولو او انسان
روزونکیو نظریاتو له کبله په
هرزړه کی ځای درلودواوعلماو
اوصوفیانو دانسان دعظمت
لپاره د قدروړخدمتونه کړی
دی . اوداحقیقت دی چی
دتاجکانوټول داستان پخپله له
لاسه ورکړی ماضی هڅه ده له
همدی امله هغوی اوس اسلامی
مراسم بیاراژوندی کړی دی
دادد دی غورځنګ دویمه دوره
ده . ترکمونستی انقلاب !
وروسته روسانو ددی خلکو
داسلام نه دګرځولو لپاره
ډیرزیات ظلمونه وکړل ترڅو
چی څه جوماتونه یی وران کړل
اوڅه نوروته یی کولپونه واچول
اوپه کهسارونو کی یی آذانونه
غلی کړل . دینی مدرسی یی
بندی کړی قاضی اومحکمی
نړی کیسی شوی اوددی ځای
خلك داسلام له مبین دین نه
بیګانه کړای شول. مګر ددی
ټولو ستونزو سره سره علمای
کرامودینی زده کړه چاری
وساتله ددی هدف لپاره یی
سختی وګاللی مګر له ۱۹۱۷ نه
تراوسه پوری یی په مختلفو
لارو اووسایلو دینی تعلیمات
جاری وساتل دادهغو مبلغینو
فیض دی چی ددین سپرغی
یی تراوسه هم په سیمکوکی

لاتازه دی .
شاعران داسلامی فکراونظر سره سم شعرونه وایی اوپه خپلو اروا روزونکو نغمویی داسپرغی تازه وساتلی. ځو کاله دمخه له مذهب سره مینه لرونکوته سزاوی ورکول کیدی اوپه جومات کی عبادت گناه وه اوس په تاشکند اوبخاراکی اسلامی مدرسی جوړی شوی دی اوفارغان یی داسلامی زده کړو په خپرولو بوخت دی . ځوکاله دمخه په دوشنبه کی ځلورجوماتونه و او اوس یی شمیر لسوته رسیدلی دی دېو باوری خبرله مخی اوس هڅه کیږی چی په تاجکستان کی یوه دینی مدرسه جوړه شی څوددی ځای اوسیدونکی داسلامی زده کړو لپاره ازبکستان ته په تګ اړنشی .
دمسلمانانو ددی ذهنی او قلبی تغییراتونه زاړه کمونستان په اندیښنه کی دی اوهغوی دی حقیقت په منلو مجبورشوی دی چی دکمونیزم دژوندا وسیاست نظام زوال منونکی دی . دتاجکستان په ښځوکی هم داتغییرات منځته راغلی دی او دحضرت محمدصلی الله علیه وسلم ذکرپه ډیرعقیدت اومینه سره کوی ، درود شریف په کورونوکی په ډیره مینه سره لوستل کیږی او دادهغه درودشریف اعجازدی چی ویده تاجکستان راویښ شوی دی .
روسی حکومت دمسلمانانو له کورونو نه داسلامی روایاتو دله منځه وړلو ډیری هڅی وکړی اوډیر بندیزونه یی ولګول مګر په هرډول ناکام شول اوددین رڼایی دخلکو له سینو نه لری نه کړای شوه.
اوس دهغه ځای ښځو روسی اوغربی لباس ترک کړی دی اود خپلو زړومل لباسونو اغوستل یی پیل کړی دی . ددی خبری کول ضروردی چی مسلمانانو په پټه توګه ځوجوماتونه جوړکړی دی اوهلته پنځه وخته لمونځ کوی . دا دتاجکانو داسلامی غورځنګ اثردی چی اوس په کمونست ګوند کی شامل کسان هم راځی اولمونځ کوی لدی امله روسی حکومت مجبور شوی

بیا از مشهد ما مشت خونی وام می گیرد
که تارنگین کند هنگامهٔ روز قیامت را

چی مساجد او مدارس آزاد پرېږدی .
اوس دمنځنی آسیا په اسلامی جمهوریتونو کی داسلامی ویښتیا ځپی خپری شوی دی که په رومانیه ، چکوسلواکیا، ختیځ المان او ختیزه اروپاکی پخپله کمونستانو دخپلو نظریاتو جنازه ایستی ده نودمنځنی آسیا مسلمانان به هم حتماً خپل اسلامی تشخص راژوندی کوی . روسی مشران باید پوه شی چی په اسلامی جمهوریتونوکی راپیداشوی ویښتیا په زورسره نه شی غلی کولی داغورځنګ یو فطری غورځنګ دی . دهغوی ټول مزاج اسلامی دی اودنړی تاریخ شاهددی چی په کوم ملك کی اسلامی روایات په زور او جبر دڅه وخت لپاره غلی کولی شی خوله منځه یی نشی وړلی دمسلمانانو په باب علامه اقبال څه ښه ویلی دی :

چیرته چی دایمان خاوندانو
دلمر صورت ګټلی دی
دلته وځی هلته ډوب شوی هلته
وځی دلته ډوب شوی

اوس داوردا سلام دعظمت اورفعت دوردی ځکه په نړی کی غربی نظام اوکمونیزم اونورنظریات ناکام شویدی . نوکه کومه نظریه دانسانیت لارښوونه کولی شی هغه یوازی اویوازی اسلام دی .

دتاجکستان خلکو یوه اوږده موده دکمونیزم ترازمیلو وروسته داسلام داحیا غورځنګ پیل کړی دی چی دانسانی عظمت اوشوکت اوتوحید اورسالت علمبرداردی . او داحقیقی انسانی غورځنګ دی .

قاضي محمدحکيم
په تيرېښي

په اسلام کي حکومتي نظام

دوهم مطلب ـ شوری :

الف : دشوری وجوب :

دشوری مبداء په اسلام کی دحکومتی نظام دمهمو بنسټونو څخه ده چی قرآن کریم اودرسول کریم (ص) سنتوپرهغی باندی صراحت کړیدی اودفقهاء کرامو اجماع ورباندی منعقد شویده . شوری دامت حق دی اوخلیفه باندی دهغی رعایت واجب اولازمی دی دشوری په باب دخلیفه تقصیر اوکوتاهی دهغه دعزل موجب کیږی لکه چی وروسته به پردی مطلب وغږیږو . هغه دلایل چی دشوری په وجوب باندی له قرآن کریم اودرسول (ص) له سیرت اودفقهاو له اقوا لوڅخه ترلاسه کیږی په لاندی ډول دی .

لومړی : له قرآن کریم څخه : پاك خدای فرمائی « وشاورهم فی الامر» ترجمه : « ای پیامبره له خپلو صحابه وسره په مهمو چاروکی مشوره وکړه » چی داامر په څرگنده توگه دشوری پروجوب باندی دلالت کوی اودفقهاو اومفسرینو اقوال دنوموړی آیت په هکله پدی ډول دی .

ابن تیمیه وائی چی ، دامرخاوندد مشوری څخه نشی بی پرواکیدلی ځکه چی پاك خدای خپل پیامبرته پرهغی باندی امرکړیدی ، او په تفسیر طبری کی ددی آیت په هکله داسی یادونه کیږی (پاك خدای خپل پیامبر ته خپلو صحابه وسره په مشوره کولو امروکړ ددی لپاره چی دده امت ته دا وښیی چی هغوی باید پدی هکله پرخپل پیامبر پسی اقتدا وکړی اودمهمو پیښو اوحوادثوپه وخت کی کله چی دوی ته پیښیږی په خپلو منځو کی سره مشوره وکړی) اوپه تفسیر رازی کی د« شاورهم فی الامر» آیت په باب داسی مطلب بیان شویدی « حسن (رح) اوسفیان بن عیینه (رح) فرمایلی دی چی : الله پاك خپل پیامبر ته په مشوره کولو امروکړ ترڅو نورخلك پده پسی مشوره کولو کی اقتدا وکړی اوهغه دیوسنت په توگه دده په امت کی باقی پاتی شی »

دوهم ـ درسول کریم (ص) له سیرت څخه : هغه څه چی ددولت پررئیس باندی دمشوری پروجوب تاکید کوی هغه دپیامبر (ص) عملی سیرت دی هغه (ص) دخپل اوچت درایت اولوئی مرتبی سره سره دنور هرچا په نسبت دخپلو صحابه وسره زیات مشوره کوونکی و . دبدر په روځ ئی دمشرکینو سره دقتال په هکله دخپلو صحابه و سره مشوره وکړه . او داحد دمعرکی دپیل څخه ترمخه ئی دخپلو صحابه وسره مشوره وکړه چی

ایا دمدینې له داخل څخه ددشمن سره وجنګیږي ؟ او که دمقابل لپاره بهرووځي ؟ په همدې ډول دخندق په ورځ یې دانصارو له دو و مشرانو هریو سعدبن معاذ (رض) او سعدبن عبادت (رض) سره مشوره وکړه . هغوی مشوره ورکړه چې دمدینې نه ددښمن دبیرته ګرځیدلو او محاصرې ماتولو په بدل کې دمدینې په یوې برخې خرماوې باندې ددښمن دیوی ډلې سره مصالحه او آشتي پریږدې اوله مدینې څخه خپل دفاع ته پرته له کوم نرمش او ملایمت نه ادامه ورکړی او پیامبر (ص) دهغوی دواړو دامشوره ومنله اووئې فرمایل چې داکارماستاسې انصارو درضایت په خاطرکاوه کله چې تاسې دمدینې نه په دفاع کولو مصمم یاست اودښمن سره دمقابل کولو قوی عزم او ستره حوصله درسره ده دا زما لپاره دخوشالی او ویاړ خبره ده .

پیامبر (ص) دخپلو صحابه و سره تردې حده پورې زیات مشوره کوونکی و چې علماوویل دي : « هیڅوک له خپلو ملګرو سره درسول (ص) په پرتله زیات مشوره کوونکی نه و »

ب : دمشوری پریښودل ددولت درئیس دعزل موجب کیږي : کله چې مشوره دامت حق دی اوددولت پررئیس دهغې رعایت واجب او لازمي دی نوکه هغه دمشوری په باب دپریښوولو ترسرحده پوري دقصور او غفلت څخه کار واخلي دهغه دعزل اوددولت ریاست دعهدې څخه دلرې کیدو موجب کیږي په ګرطبي تفسیر کې داسې راغلي دي : « ابن عطیه (رح) ویلي دي چې شوری دشریعت له قواعدو او مضبوطو احکامو څخه ده څوک چې ددین او پوهې له خاوندانو سره مشوره نه کوي دهغه عزل واجب دی » نو په اسلامي دولت کې دمستبداو خودلایه حاکم باقي پاتې کیدو لپاره هیڅ مجال نشته .

ج : دمشورې داهمیت او ارزښت علت : له تیربحث نه مونږ ته په څرګنده توګه معلومه شوه چې داسلام په حکومتي نظام کې مشوره دزښت زیات اوستر اهمیت لرونکې ده اوددې دلیل او علت ، هم دادی چې مشورهصحي او روغې رائې دپیژندنې یواځینې لاره ځکه چې هر مشوره ورکوونکی خپله رایه دهغې دفائدې اودلیل سره یوځای څرګندوي چې ددغواراو دوړاندې کولو او یوه له بل سره دمقایسې او مناقشې په نتیجه کې په غالبه توګه حق او صواب څرګندیږي . په همدې ډول په مشوره اخیستنه کې پرته له کوم زیاراو زحمت نه دنورو خبیرو او پوهو کسانو دمعلوماتو او هغو تجربو نه ګټه پورته کول دي کومې چه ئې دکلونو کلونو په اوږدو کې په زیات زیاراو قربانیو سره ترلاسه کړي دي په همدې توګه په مشوره کولو کې اولی الامر په داسې امورو باندې داقدام کولو څخه ژغورل کیږي کوم چې امت ته ضرررسوي او دی وربانډی نه پوهیږي دپیښیدلو نه وروسته د ضرر داصلاح هیڅ کومه لاره هم نه وي اونه ذاچې اولی الامر حسن نیت به هغه ضرر رفعه کړی شي .

په همدې ډول په مشوره اخیستنه کې امت ته داخبره ورپه یادول دي چې یواځې همدا امت دی چې دسلطې خاوند دی او بالمقابل ددولت درئیس په ذهن کې داخبره کینول دي چې دی دسلطې او قوت په پیاده کولو کې فقط دامت نه وکیل او نماینده دی . سربیره پردې دمشوري داصل په رعایت کولو کې دامرخاوند دطغیان او سرکشي څخه کوم چې دانساني صفتونو څخه یو صفت ګڼل کیږي جلوګیري او مخنیوی کیږي متعال خدای فرمائي « کلا ان الا نسان لیطغی ان راه استغنی » ترجمه : « حقیقت دادی چې انسان سرکشي کوي کله چې خپل ځان بی نیازه او بی پروا ووینې » .

د : په کوم شي کې شوری جاري کیږي ؟ : دامت سره مشوره کول ددولت په بیلابیلو چاروکې جاري کیږي اوهم په هغو شرعي اجتهادي امورو کې صورت نیسي په کوم کې چې نص موجود نه وي ، یعنې ددولت رئیس به هم ددین اوهم دنیا په چاروکې مشوره کوي جصاص په تفسیر کې داسې مطلب راغلی دی « مشوره په دنیوي چاروکې اوهم ددین په هغو چاروکې چه وحې ورکې نه وي موجود اخیستله کیږي » په دنیوي چاروکې له مشوري غو ښتلو نه مقصد ددولت په مهمو اوسترو چاروکې مشوره ده دمثال په توګه ددښمنانو دمقابل لپاره دپوځونو لیږل دجنګ اعلان ، دلویو قراردادونو او معاهداتو تړل ، او مستحقو کسانو ته په دولت کې دمهمو عهدو او پستونو سپارل او داسې نور .

چه پدې بناء ددولت په واړو او جزئي کارکې مشوره شرط نده ځکه داناممکنه ده او کومه

فائده اوګټه هم پکې نشته اونه کوم حاجت ورته ليدل کيږي . اونه پدې باب کوم شرعي دليل په لاس کې لرو.

● : دشورى خاوندان څوک دي؟ دچاسره بايد مشوره وشي؟

اوس داپوښتنه مطرح کيږي چې مشوره څرنګه بايد سرته ورسيږي؟ آيا ددولت پررئيس باندې دټول امت سره مشوره کول واجب دي اوکه دامت له يوې ډلې يايوڅوافرادو سره ئې؟ دشورى په باب دپيامبر (ص) دسيرت اوسنت څخه چې کوم ټکي په بنيادي توګه ترلاسه کولاى شو هغه داچه ده مبارک (ص) به په هغو چاروکي چې په مباشره توګه دعامو شوي غنيمتونو په باب معلومې کړې لکه چې ددې مسئلې په هکله روايتونو کې راغلي دي چې پيامبر(ص) ددغو غنيمتي مالونو په رابطه خپل نقطه نظر هغوى ته واضح او څرګندکړاوحاضر وکسانو وويل چې « اى رسول الله مونږ راضي اوقانع يو بياپيامبر(ص) وفرمايل چې خپلو نماينده ګانو اومخورو ته مو ووائي چې هغوى همدا خبره مونږ ته راورسوي ترڅو په يقيني توګه دستاسي درضايت اوقناعت څخه پوه اومطمئن شو. بيا زيدبن ثابت (رض) دانصارو (رض) په صفونو کې وګرځيده پوښتنه به ئې ترينه کوله چې آيا دوى قانع شوي دي اوکه اوآزادئي کړې اوکه يه؟

په همدې ډول پيامبر(ص) دحضرت سعدبن معاذ اوحضرت سعدبن عباده سره پدې برخه کې مشوره وکړه چې دمدينې دخرماو دريمه برخه حاصل باندې دغطفان قبيلې سره پدې شرط مصالحه وکړي چې هغوى به دخندق په معرکه کې دمسلمانانوپرخلاف جنګ کولو نه لاس اخلي اوخپلو کورونوته به بيرته ستانه کيږي . هغو دواړو حضراتوپيامبر(ص) ته په ځواب کې وويل : اى رسول الله ! هغه کوم څه چې ته ئې فرمائي که آسماني وحې وي نو بې له ځنډه ئې عمل کړه . اوکه تاسي پدې باب له خدايه مامور شوي نه ياست

هغه څوک چې ددولت رئيس بايد ورسره مشوره وکړي دمشورې دموضوع په پرتله سره فرق کوي اومسايل هم دخپل نوعيت په لحاظ سره ځانګړي ډول معرفت ، حسن رأي اوژورادراک ته اړتيامحسوسوي چې په دې بنا ددولت رئيس به لزوماً دتخصص اومعرفت له خاوندانو سره مشوره کوي .

مسلمانانو دحال اومصلحت پورې اړه پيداکوله نودهغو ټولو سره به ئې مشوره کوله لکه چې داحد په معرکه کې دمشرکينو دمقابلې اوجنګ لپاره له مدينې منورې څخه دوتلو په مسئله کې همداکاروشو چې پيامبر(ص) له ټولو هغو مسلمانانو سره چې مدينه کې موجود وومشوره وکړه اوداسې ئې ورته وفرمايل چې « اشيرواعلى » ترجمه : ماته مشوره راکړئ » په همدې ډول دهوازن دغنيمتونو مسئله وه چې پيامبر(ص) ددې زيات حرص درلود چې دټولو هغو مسلمانانو رائې کوموچې دهوازن په جنګ کې ګډون کړي و دويته دورپه برخه نه؟ چې هغوى ټولو پرته له دينه چې کوم نفرپاتې شي اطمينان ورکړ چې مونږ ټول قانع اوراضي شوي يو» پس نومړې واقعه پرډې خبره صريح دلالت کوي چې دشورى خاوندان ټول هماغه مسلمانان وه کوم چې دشورى موضوع هغوى پورې ربط اواړه پيداکوله .

همداراز کله به رسول (ص) دخپلو ټولو صحابه وسره نه بلکه له هغونه دځينو سره به ئې مشوره کوله لکه چې پيامبر (ص) دبدرادبنديانو په مسئله کې دخپلوځينو صحابه وسره پدې هکله مشوره وکړه چې آيا له هغوى نه فديه واخلي خوبياهم ستاسي خوښه وي پدې صورت کې هم مننه اواطاعت کوو اوکه هغه يواځې رايه وي اوله مونږنه پکې مشوره غواړي . نوزمونږ مشوره داده چې له هغوى سره پرته له توري نه بله معامله نه اختياروو. چې په پاى کې پيامبر (ص) دهغوى په رائې عمل وکړاو دغطفان قبيلې سره ئې دمصالحې موضوع پريښودله

پس دپيامبر (ع) په سنتوکې دغه ثابت سوابق ټول پرډې دلالت کوي چې دشورى کسان اواعضاء به کله دامت لويه برخه وي اوکله به ټول هغه مسلمانان وي چې

مشوری په وخت کی حاضر وی
اودمشوری موضوع وربوری
ارتباط نیسی لکه دهوازنو
دغنیمتونو په مسئله کی . اوکله
به دشوری خاوندان داسی
کسان وی چی قوم دهغوی له
خبری نه ملاتړ اوپیروی کوی
لکه دغطفان دمصالحی په
مسئله کی چی پیامبر(ص)
ددواړو سعدو سره کوم چی
دانصارو مشران او مخور وه
مشوره وکړه . اوکله به
دشوری کسان ځینی اهل رآی
مسلمانان وی لکه چی دبدر
داسیرانو په مسئله کی
پیامبر(ص) یواځی دځو ذی
رائ کسانو سره مشوره وکړه
چی دهغوی په جمله کی
دحضرت ابوبکر صدیق (رض)
اوحضرت عمرفاروق (رض)
نومونه دیادونی وړدی .

ددی سوابقو په رنهاکی
کیدای شی چی ووایو : هغه
څوک چی باید ددولت رئیس
ورسره مشوره وکړی دمشوری
دموضوع په پرتله سره فرق
کوی اومسایل هم دخپل
نوعیت په لحاظ سره ځانګړی
ډول معرفت ، حسن رای اوژور
ادراک ته اړتیا محسوسو ی
چی پدی بنا ددولت رئیس به
لزوماً دتخصص اومعرفت له
خاوندانو سره مشوره کوی .
چی امام قرطبی (رح) په خپل
تفسیرکی زمونږ همدی خبری
ته اشاره کړیده هغه رحمه الله
علیه فرمائی چی «
دامرخاوندانو باندی دعلماو
سره په هغه مسائلوکی مشوره
کول واجب دی په کومو چی
دوی نه پوهیږی اویا ددین له
چارو نه پردوی باندی کومه
چاره مشکله شوی وی اوهم
پردوی واجب ده چی دفوځ له
مشرانو اوقوماندانانو سره
دجنگی مسائلو په ارتباط
مشوره وکړی اوکوم قضایا
اومسائل چی دعمومی مصالحو
پوری اړه پیداکوی پردوی
واجب ده چی دهغی په هکله
دقوم دمخورو اوخبیرو کسانو
څخه مشوره واخلی . په همدی
ډول ددوی واجب بلل کیږی
چی دهغو مسائلو په هکله چی
دهیواد دمصالحو او آبادی
پوری تعلق نیسی وزیرانو ،
نخبه لیکوالانو او تجربه کار
مامورینو سره مشوره وکړی
.... تردی پوری چی هغه
(رح) فرمائی ، علماوویلی دی
که مستشار(کوم چی له هغه نه
مشوره غوښتل شی) په شرعی
احکامو کی و دهغه صفت به
داوی چی عالم او دینداره به
وی . اوکه مستشار په دنیا
وی چارو کی و نودهغه صفت به
داوی چی باید عاقل اوتجربه
کاروی .



داتل مجاهد زوی
دیلاریه خیر خان
مجاهد روزل غواړی

پیوسته به گذشته:

امام ابوالاعلي مودودي (رح)
مترجم: فدامحمد "فایض"

حکومت اسلامي
چگونه ساخته مي شود؟

روش مخصوص تحریك اسلامي:

حاضرین! اکنون مي خواهم باذکرمختصریك بیان تاریخي به شما تشریح کنم که تغییراساسات زندگي اجتماعي وترتیب دوباره آن براي انقلاب اسلامي، چگونه صورت گرفته مي تواند وروش مخصوص (Technque) این تلاشها ومدارزات که توسط آن این امربه سرمنزل مقصود میرسد، چیست؟

اسلام درحقیقت نام تحریکي است که میخواهد تمام عمارت زندگي انساني را براساس نظریه حاکمیت خدا تعمیر کند، این تحریك ازقدیمترین زمانه ها بریك اساس ویك طریقه به پیش مي رود، رهبران آن مردماني بودند که رسل الله (فرستادگان خدا) گفته مي شوند. اگرمیخواهیم تحریك رابه پیش ببریم، لامحال باید ازطرزعمل آن رهبران پیروي کنیم، زیرا بدون آن هیچ طرزالعملي براي این نوع تحریك خاص نه وجوددارد ونه وجودداشته مي تواند، درین سلسله وقتی پي سوانح نقش قدم ... علیهم السلام مي برآییم بایك دقت ژرفي مواجه مي شویم انبیا یي که درازمنه قدیم گذشته اند، راجع به کارآنها معلومات زیادي نمیتوان یافت. درقرآن کریم بعض اشاراتي یافت مي شود، ولي ازآن نقشه مکمل ساخته شده نمي تواند درعهدنامه جدید بایبل (New testa-ment) بعض اقوال غیرمستند سیدنا حضرت عیسي علیه السلام یافت مي شود که ازآن تاحدي روشن مي شود که تحریك اسلامي درمرحله کاملا ابتدایي خود چگونه به پیش میرود، وازکدام مسایل آن سابقه، به پیغر می آید؟

لیکن بعداً مراحلي به حضرت عیسي (ع) پیش نیامد که راجع به آن اشاراتي ازآنجابدست آمده بتواند، درین معامله فقط ازیك جا رهنمایي مکمل وواضح یافت مي شود. وآن زندگي حضرت محمد صلي الله علیه وسلم است، علت رجوع مابه اینسوعقیدت محض نیست بلکه مامجبورهستیم براي معلوم کردن فرازونشیب این راه به آنسو رجوع کنیم درمیان رهبران تحریك اسلامي تنها حضرت محمد صلي الله علیه وسلم رهبري است که درزندگي وي (ص) براي ما از ابتدایي ترین دعوت این تحریك گرفته تاقیام حکومت اسلامي وبعدازقیام این حکومت، شکل، قانون پالیسیهاي داخلي وخارجي وترتیب نظم مملکت مرحله واریاتمام تفصیلات وتفصیلات نهایت مستند یافت مي شود. لهذامن بااین ماخذ نقشه مختصري ازروش کاراین تحریك راخدمت تان عرض مي کنم.

زماني که رسول الله صلي الله به دعوت اسلام مامورشده است نزدشان روشن است که خیلي ازمسایل اخلاقي تمدني، اقتصادي وسیاسي جهان حل طلب است، امپریالیزم رومي وایراني نیز موجود بود، امتیازات طبقاتي نیز وجود داشت نفع برداریهاي ناجایز اقتصادي (Economic Explota-tion) نیز صورت مي گرفت، وبداخلاقي ها نیز انتشاریافته بود، درکشورشان چنان مسایل پیچیده یي موجود نبود که منتظرتدبیریك رهبر بود. تمام ملت به پستي اخلاقي، افلاس، ملوك الطوایفي وخانه جنگي مبتلابود

.ازبحرين گرفته تايمن تمام مناطق ساحلي عرب همراه با ايالت زرخيز عراق تحت سيطره ايران قرارداشت .درشمال حتي تاسرحد حجاز تسلط روم رسيده بود ، خودحجاز مركز بزرگ سرمايه داران يهود گشته بود واعراب را درجال سودخواري خود آورده بودند درمقابل ساحل شرقي، درافريقا حكومت عيسوي حبشه موجودبود .

كه چند سال قبل بالاي مكه تاخته بودند يك گروه هم مذهبان ومتعلقين سياسي واقتصادي آنان دربين حجاز ويمن درنجران موجودبود تمام اين چيز ها وجودداشت ولي رهبري را كه خداوند (ج) براي رهنمايي مقرر كرده بود .

به يكي ازتمام اين مسايل دنيا بلكه به مسايل ميهن خود نيز توجه نفرمود بلكه بسويي دعوت داد كه بدون خدا(ج) تمام الهه ها رابگذاريد وفقط بندگي يك اله راپذيريد .

نظريه .اسلامي كدام اصلاح بالايي دردوركردن ناسپامني فردي وياجتماعي .پيروزشدهنه مي تواند .ازيك طرف خرابي ونابسامانيي دورخواهد شد ولي ازجانب ديگرسربدرخواهد كرد ،فلهذاآغازاصلاح اگرشده مي تواند ،ازچيز ي مي تواندكه ازيك طرف ازذهن انسان هواي خودمختاري را دوركند وبه آن گفته شود.

دردنيايي كه توزندگي ميكني كدام سلطنت بي پادشاهي نيست بلكه درحقيقت بادشاه آن وجود ندارد وپادشاهي آن نه محتاج پذيرفتن توست كه آنرا بپذيري ونه از نفي تونابودشده مي تواند ونه توازحدودسلطنت آن برآمده بجاي

اينجاكدام والي وجود ندارد ولايت همه وهمه براي آن يك اختصاص يافته است ،اينجاكدام مالك وآقايي نيست مالكيت وآقايي كاملاً حق همان يك اينجاقانون سازي وجودندارد .

قانون ازآن وي است كه واوحقداروسزاوارقانون سازي است . اينجاكدام بادشاهي ، رازق ومالكي ، فرمانروايي، ولي و كدام كارساز، فرياد شنوي وفرياد رسي نيست .

پيش كسي كليداقتداروجودندارد ،كسي برتري وفوقيت ندارد ،اززمين تا آسمان همه بندها ست وبنده ها ،رب ومولي فقط يك است فلهذا ازهرغلامي ، اطاعت وپابندي

اسلام درحقيقت نام تحريكي است كه ميخواهد تمام عمارت زندگي انساني را براساس نظريه حاكميت خدا(ج) تعميركند .

دليل آن ، اين نه بود كه بنظر آن قيادت مسايل ديگراهمتي نداشت يادرخورتوجهي نبود بشمامعلوم است كه بعداً بتمام اين مسايل توجه نمودند .ويكايك آنراحل كردند مگر علت اينكه درآغاز ازتمام طرفها روگردانيده به يك طرف توجه نمود اين بود كه ازنقطه نظر تحريك اسلامي ، خرابيها يي كه درزندگي اخلاقي وتمدني انسان پيدامي شود ،علت اساسي همه آن خود را خوداختيار(Inde-pendent) وغيرمسؤول (Iresponsible) ،تصوركردن به عبارت ديگرخودرااله خودساختن است .يابعداين است كه بدون اله العلمين ،دومي راصاحب امرپپذيرد .خواه اين دوم كدام انسان باشد ياغيرانسان تاكه اين چيز درريشه وجوددارد ازروي

ديگري رفته مي تواني درموجوديت اين واقله مستحكم ومضبوط خودمختاري تو بدون يك غلط فهمي وزعم احمقانه كه حتماً نقصان آن بتوعايد خواهد گرديد چيزي ديگري نيست تقاضاي عقل وحقيقت پسندي (Realism) اين است كه مستقيماً پيش اوسرتسليم خم كني وبنده مطيعي گردي .ازجانب ديگراين جانب واقعه نيزبراي آن نمايانده شود كه درتمام اين كاينات فقط يك بادشاه ، يك مالك ويك مختاروجود دارد ، ديگري نه درين جاحق حكمروايي دارد ونه درحقيقت حكم كسي ديگري نافذمي گردد . به اين اساس بدون او(ج) بنده ديگري شو، حكم كسي را مپذير،پيش كسي سرخم مكن اينجاكدام اعليحضرتي نيست اعليضرتي براي آن يك مختص است

انكاروزوغلام ،مطيع وپابند حكم همان يك شوتمام اين اصلاحات ريشه واساسي دارد به اين اساس تمام عمارت سيرت فردي ونظام اجتماعي ازبين برده شده ازسر ،روي يك نقشه ساخته مي شود . وتمام مسايلي كه درزندگي انساني ازآدم تااين دم پيداشده است ، وازحال تاقيامت پيدامي شود براين اساس به طريق جديدي حل مي شود .

محمد صلي الله عليه وسلم دعوت اين اصلاح اساسي را بدون كدام تياري سابقه وبدون كدام فعاليت تمهيدي مستقيماً عرضه داشت .

وي،براي رسيدن به سرمنزل مقصود ،اين دعوت كدام راه تزويرراختيارنكرد كه قبلاً كدام فعاليت سياسي واجتماعي دربين مردم اثري ايجاد شود وبعداً بااستفاده ازين اثر رفته رفته

صلاحيتهاي حاكمانه يي بدست آيد .وبعدازآن باستفاده ازاين صلاحيتها رفته رفته مردم را بكارگرفته تابه اين مقام برسانند تمام اين چيز ها چيزي نيست ،مامي بينيم كه يك شخص آنجا برخاست ، وفوراً اعلان لااله الاالله كردنظرآن براي يك لحظه نيز به چيز كم ازآن نيفتاد .علت آن جرات پيغمبرانه وجوش وجذبه تبليغي نيست اصلاً روش كارتحريك اسلامي اين است اثرونفوذ واقتداري كه ازوسايل ديگري حاصل گردد قطعاً دركاراين اصلاح نميتواند كمك كند مردمي كه بدون لااله الاالله .

ازيخ برمي افگند وعمارتي براساس ديگري ساخته مي شود ،امروز دنيا صداي بلنداشهدان لا اله الاالله مؤذنان شما را بخاطري باسردي مي شنود كه نه آواز دهنده (مؤذن) مي داند كه چه ميگويد ونه شنونده معنا ومقصود آنرا مي داند ولي اگر معلوم شودكه كه هدف اين اعلان اين است واعلان كننده فهميده اعلان مي كند كه من بادشاه وفرمانروايي ندارم ، حكومتي را نه مي پذيرم ،قانوني را قبول ندارم .

حدوداختيارات محكمه يي (Jursdiction) تامن رسيده نميتواند ، حكم كسي نزدم حكم

امروز دنيا صداي بلند اشهدان لااله الاالله مؤذنان شمارا بخاطري باسردي مي شنود كه نه آواز دهنده (مؤذن) مي داند كه چه ميگويد ونه شنونده معنا و مقصود آنرا مي داند

نيست رسم ورواجي راقبول ندارم ،حقوق امتيازي ،حكومت ،تقدي واختيارات كسي را نه مي پذيرم بدون يك الله ازهمه باغي ومنحرف هستم شيامي دانيدكه اين آواز را گاهي هم به خوشي وآرامي تحمل كرده نه مي توانند شماكرياكسي بجنگيد يانجنگيد، دينا خودباشما خواهد جنگيد .

همينكه خداوند(ج) بنده گان خودرا درزمين اش سكونت داد درحاليكه زمين وآنچه كه دركائنات وجود دارد همه وهمه ازاو(ج) بوده واومالك همه چيز است وآنرا به بندگان خوداحسان نموده است ودرحقيقت ازناحيه فقهي امانتي است در دست بشر تا ازآن بهره برداري كند .

پس امكان دارد كه اين امانت درنزد بشربعنوان نائب وياجانشين مالك امانت باشد ، وخواه اين جانشيني ويانيابت ازپروردگارش باشد وخواه ازآقايش باشد .

پس بدين اساس هرفرد ازافراد بشر درآنچه كه خداوند (ج) درين كائنات درتسخير بشرقرارداده ، وبشر را برآن مسلط ساخته است جانشين ويانائب خدا(ج) درزمين شمرده مي شود ، وانسان درهمه تصرفات خود درحدود اين نيابت و جانشين مقيد است .

بناء معني خلافت بشر درزمين ازنگاه فقهي ولغت فرقي فاهش نميداشته باشد وچنان نتيجه گيري مي كنيم كه موقعيت جانشينان درزمين همان موقعيت خليفه ويا نائب است ،خلافت ونيابت ازخداوند (ج) مي كنند وآن خلافت درحدود كه خداوند ج مخلوقاتش رادرتسخير بشر قرارداده وبرملك خودمسلط ساخته است ، مي باشد وبشررا اختيارداده تاازآن بهره برداري وانتفاع نمائيد .

لازم به يادآوريست كه مسخربودن كائنات براي بشر وتسلط بشر برملك خدا (ج) به اين معني نبوده كه همه مسخر بشربوده ودرتحت تسلط بشر قراردارد وازدائره قدرت وسلطه خداوند (ج) بيرون مي باشد .بلكه اين مسخر بودن ازدايره

تسلط وقدرت خداوند (ج) هيچ چيزي رانمي كاهد ، مثلاً بشرزمين را قلبه مي كند وتخم را مي پاشد ،مگر سبز شدن وبه ثمررسيدن آنرااز پروردگرمتعال آرزو مي كند ، وآنچه را قلبه مي كند وتخم مي پاشد ،آنهمه ازعنايات الهي بوده كه به آنها درين دينا ارزاني داشته است ، زيرا خداوند (ج) بري شان عقل عطاكرد وعلم داد ، پس آنها ازنعمت الهي بهره برداري ومنفعت جوي مي كند ،آنها درحقيقت هيچ سلطه وقدرتي ندارند مگر سلطه وقدرتي است كه خداوند متعال براي شان عنايت نموده است . ادامه دارد .

عوض الدين صديقي

افغانستان په تیره عیسوي میاشت کې

دوری ۱۲ داپریل ۱ : د شورنادزی » دروسیې دبهرنیو چاروو زیر امریکاته دری ورځنی سفروکړاوهلته ئې امریکائې مقاماتو سره دنورو مسایلو سربیره دافغانستان پرمسئله هم خبرې وکړې ددوی دخبروجزئیات نه دی .

افشاشوی خوویل کیږی چې دوی دافغانستان دراتلونکي په باب سره خبری کړی .

دوری ۱۳ داپریل ۲ : دمجاهدینو دری ډلو کوم چې دموذن ، وقاداومولوی نصرالله منصور په مشری کارکوی دعبوری حکومت داوړاندیز چې حکومت کې دبرخې اخیستنې په صورت کې به وزارتونه ورکړشي ردکړ، ددوی یوه ویندوی وویل : وزارتونه ستونزی نشي حل کوی باید اساسي کاروشي، عبوری حکومت «وقاد» ته دجمهوری ریاست دښلاکار ، «موذن » ته دصدراعظم دښلاکار او«منصور» ته دسرحداتووزارت وړاندیز کړی و .

دوری ۱٤ داپریل ۳ : دپاکستان معتبروورځپانودمهاجرینو دبیرته ستنیدو اودصدرالدین آغاخان دوړاندیز په باب چې سرکال دی مهاجرین آزادوسیموته بیرته ستانه شي سروی کړی اوپه ترڅ کې تولو په ګډه داخبر خپورکړی چې مهاجرین (۸۰) فیصده په دی نظر دی چې ترڅو په افغانستان کې اسلامي حکومت نه وی ټینګ شوی بیرته به ستانه نشو .

دوری ۱٦ داپریل ۵ : مولوی «خالص » دعبوری حکومت دکورنیوچارو وزیر په جلال آباد کې تریوی اوږدې سفروروسته پښاورته راستون شو هغه دافغان میډیا یوه خبریال سره په څرګه کړ وویل : امریکا هسې مجاهدینوسره دمرستې بندولو په خاطر دا بهانه موندلې چې مهاجرین دهیروینوکارکوی ، هغه زیاته کړه : دادمسلمانانو فرض دی چې دنامشروع شیانو مخه به نیسي .

دوری ۱٦ داپریل ۵ : استادربانی دعبوری حکومت دبیا آبادولو وزیر دیوه مطبوعاتي کنفرانس په ترڅ کې دنړی ځخه وغوښتل چې دمهاجرینو سره مرستې ته دوام ورکړی ؟ ده وویل : شمالي ولایات دسختې قحطي سره مخامخ دی اوکابل رژیم اوس هم هلته بمبارد کوی اوخلک نشي کولی کرونده وکړی .

دوری ۱۷ داپریل ٦ : دهرات ولایت دپښتون زرغون په ولسوالۍ کې هغه وخت (۱۰۰) تنو څخه زیات کسان ووژل شول چې ګوډاګې رژیم په اصطلاح دمجاهدینو یوه تسلیم شوی ګروپ لپاره غونډه جوړه کړی وه اوپری ډزی وشوی ، په وژل شوکسانو کې جلال «رزمنده» دملی امنیت مرستیال هم شامل دی ، پردی سربیره« خالقیار» دهرات والي سره دزیاتو لوړرتبه مامورینو ټپیان شوی دی .

دوری ۱۵ داپریل ٤ : دروسیې دبهرنیو چارو وزیر شورنادزی دامریکا دبهرنیو چارولو وزیر بیکر سره په واشنګټن کې ولیدل اودافغانستان پرمسئله ئې خبری وکړی ، دروسانو یوه ویندوی دخبروترخلاصیدو وروسته خبریالانوته وویل؛ په ځینوبرخوکې داختلافاتو سره سره پردی توافق وشو چې دافغانستان مسئلی دحل لپاره یوی عبوری دوری ته ضرورت

شته همدارنگه « بیکر» دخبروترخلاصیدوروسته خبریالانو ته وویل : دامسئله دانتخاباتو له لاری حل کیدای شی .

دوری ۱۷ داپریل ٦ : دروسیی دبهرنیو چاروورازت خصوصی دیپلمات «کوزیریف » دروسیی خبری آژانس سره په مرکه کی وویل : روسیه دافغانستان مسئل دحل په خاطر دملگروملتواوامریکا سره اړیکی ساتلی او په دی ترځ کی دامریکا اوروسیی دبهرنیو چارو وزیرانو لیدنه ډیره مهمه وه ، هغه وویل : باید دواړه خواوی ددی هل ځل وکړی چی دملگروملتو ترسرپرستی لاندی انتخابات وشی.

دوری ۱۸ داپریل ۷ : دغلام اسحق خان ترصدارت لاندی دافغانستان مسئل په اره ، بینظیربوتو ، اسلم بیگ ، دټولو قواوقوماندانانو ، دبهرنیو چارو وزارت ښلاکارانو دپارلمان په خونه کی غونډه وکړه دغونډی کل جزئیات نه دی معلوم ، خوویل کیږی هغوی فیصله کړی چی دمهاجرینو دبیرته تگ په لاره کی به بهرنی فشارونه منواوترهغی به له مهاجرینو سره مرسته کوو ترڅو چی دبیرته تگ حالات ورته مساعد شی .

دوری ۱۹ داپریل ۸ : دیاسرعرفات خاص استازی« ابوخالد» دکابل دگوډاگی رژیم له مشر«نجیب » سره ولیدل هغه دعرفات پیغام نجیب ته ورساوه چی پکی درژیم پرضددپوځ دپاځون دناکامولو دهلوځلو ستاینه شوی وه ، همدارنگه عرفات دنجیب سره وعده کړی چی دملی روغی جوړی په پروگرام کی به ورسره مرسته کوی .

دوری ۲۳ داپریل ۱۲ : دکابل پرښاربانادی دمجاهدینو لری ویشتونکی توغندیولگیدل چی دهغی په ترځ کی دخواجه رواش په هوائی ډگر کی درژیم (۱۰) تنه پوځیان ووژلی شول بهرنیو آژانسو ویلی چی راکټونه تهول دهوائی ډگر په شااوخواکی لگیدلی اورژیم ته ئی زیات تلفات وراړولی .

دوری ۲۳ داپریل ۱۲ : جلال الدین «حقانی» دپکتیا ولایت نامتو قوماندان دلومړی ځل لپاره ۸ ساعته درژیم سره اوربندوکړ، اوربند دمړود تبادلی په خاطر وشو ویل کیږی مجاهدینو درژیم دیوه پیلوت مړی چی الوتکه ئی راغورځول شوی وه ، گوډاگی رژیم ته په تاکلی ځای کی وسپاره اورژیم دمجاهدینو دځوتنو شهیدانو مړی مجاهدینوته وسپارل .

دوری ۲٤ داپریل ۱۳ : باوری سرچینو رپوټ ورکړ چی دکابل ښاردترغی په فرقه کی د«تنی » دطرفدارانو اوخادستانو ترمنځ نښته وشوه چی په ترځ کی دشلو تنو څخه زیات کسان ووژلی شول ، نښته هغه وخت پیل شوه چی دپوځیانو یوټولگی د شکردری سیمی خواته سوق کیده .

دوری ۲٦ ـ داپریل ۱۵ : ورورحکمتیار دحزب اسلامی امیر « ابوخالد» دعرفات خاص استازی دلیدو له پاره ونه مانه ، « ابوخالد» دنجیب پیغام دځان سره درلود، هغه تردی وروسته تهران ته سفروکړترڅوهلته دمجاهدینوله مشرانوسره وگوری .

دوری ۲٦ داپریل ۱۵ : باوری سرچینو رپوت ورکړ چی دمهاجرینو لپاره دملگرو ملتو کمیشنر دافغانی مهاجرینو دستنیدولپاره ترتیبات نیولی ا خپل ځینی ټولی ئیي د افغانستان داخل ته لیږلي ترڅو سروی وکړي ، همدارنگه دوی په پیښورکی دخوراکی موادو یوه ذخیره جوړه کړی چی له دی ځایه به ئی داخل ته انتقالوی ، ویل کیږی دوی په نظر کی لري چی په سرکی دزراعت بیادښوو نځیو اوورپسی دروغتونو کارپرمخ بوځي .

دوری ۲۷ داپریل ۱٦ : ورورحکمتیار دحزب اسلامی امیر په اسلام آبادکی دپاکستان له جمهور رئیس اسحق خان سره ولیدل ، که څه هم چی ددوی دلیدنی په باب څه تفصیلات نه دی خپاره شوی خوویل کیږی چی دوی دجهاد پرروانو حالاتو اودمهاجرینو دبیرته ستنیدو پرمسئله خبری کړی دی .

دوری ۲۷ داپریل ۱٦ : استاد برهان الدین ربانی دعبوری حکومت دبیاآبادولووزیر د« افغان نیوزایجنسی » سره په مرکه کی وویل : ظاهرشاه دافغانستان مسئل په حل کی هیځ نقش نشي لوبولی .

دوری ۲۷ داپریل ۱٦ : محمدنبی محمدی دعبوری حکومت ددفاع وزیر دیوه مطبوعاتی کنفرانس په ترځ کی وویل : موږدسیاسی حل طرفداریوو، خوپه دی لاره کی به دنجیب رژیم سره خبروته حاضر نشو ځکه چی هغه دافغانانو قاتل دی .

دوری ۲۹ داپریل ۱۸ : پاکستان دروسیی له خوا کابل رژیم ته "۲۹" سکډ توغندیو دورکولو پرمسئله خپله

اندیښنه څرګنده کړې اوویلي چې دا په دسیاسي حل پروګرامي ته تاوان ورسوي ، ویل کیږي چې پاکستان په روسیې کې خپل سفیر عبدالستارخان له دې مسئل خبرکړی ترڅو له روسي مقاماتو سره پرې خبرې وکړي .

دوری ۲۹ داپریل ۱۸ : دسعودي عربستان مشر فهدبن عبدالعزیز دپاکستان له صدراعظمې بینظیربوټوسره ولیدل اودافغانستان مسئلې پرروانو حالاتو اوراتلونکي حکومت پاندې خبرې وکړې ، بینظیر بوټو دعمرې لپاره سعودي عربستان ته تللې وه .

دوری ۲۹ داپریل ۱۸ : دکابل ګوداګي رژیم دلومړي ځل لپاره ملګروملتوته دورانیو رپوټ وړاندې کړی چې داددوی لومړی اعتراف دی چې پرورانیوئي کوي په رپوټ کې ویل شوي چې دودانیو ۵۳ برخه له مینځه تلې او ۱۸ فیصده زیانمنه شوې . دورانیو اکثره برخه دپاکستان سرحدي سیمې دي چې اکثره خلك ئې مهاجرشوي .

دوری ۳۰ داپریل ۱۹ : دعبوری حکومت دبیا آبادولو وزیر « رباني » اودستری محکمې مشر «ګیلاني » دپاکستان دجمهوررئیس سره ولیدل ، که څه هم چې دهغوی دخبرو جزئیات نه دي معلوم شوي خوویل کیږي چې دوی دصدرالدین آغاخان پرورانديز اودانتخاباتو پرمسئله سره خبرې کړي .

دوری ۳۰ داپریل ۱۹: باوری سرچینو رپوټ ورکړ چې دملګروملتواستازوپه افغانستان کې دانتخاباتو دترسره کولو لپاره غیررسمي لیدنې پیل کړي ویل کیږي چې دملګروملتو درپوټ په اساس کوم چې داسلام آباد، ماسکو اومجاهدینو دنظریو په اساس ترتیب شوی په افغانستان کې به دانتخاباتو دترسره کولولپاره د«نامیبیا» او«نکاراګوا» انتخابات دنمونې په ډول په نظرکې ونیول شي .

دوری ۳۱ داپریل ۲۰ : پرکابل باندې دمجاهدینو لرې ویشتونکي توغندي لګیدلي چې دهغې له امله ددښمن زیات شمیرافراد وژل شوي ویل کیږي داتوغندي ټول دهوائي ډګر په شاوخواکي لګیدلي .

دغوائي ۱ داپریل ۲۱: باوری سرچینو رپوټ ورکړی چې دروسي بندیانو دتبادلي اوخلاصون لپاره کارونه ګړندي شوي نیویارك ټایمز په دې باب لیکلي چې په همدې خاطر تیره ورځ دروسانو یوه هیئت چې دبندیانو دخلاصون هڅې کوي دورور حکمتیار سره ولیدل ، خودانه دي معلوم چې هغوی څه نتیجې ته رسیدلي ؟

دغوایي ۳ داپریل ۲۳ : دکابل پرښارباندې دمجاهدینو لرې ویشتونکي توغندي ولګیدل چې دهغوی له امله ددښمن ۲۰ تنه پوځیان وژل شوي ، داراکټونه اکثره پرهوائي ډګرکي لګیدلي ، هوائي ډګر دڅو ورځو راهیسي دمجاهدینو دتوغندیوتربرید لاندې دي .

دغوائي ٤ داپریل ٢٤ : دکابل ښار دپلچرخي په سیمه کې دکابل رژیم دمهماتو یوې ډیپو اور واخیست چې دهغه له امله زیات شمیر کسان وژل شوي او د ۵۰ څخه زیات نقلیه وسایط له مینځه تللي ، ددې چاودنې علت نه دی معلوم چې له داخله منفجره شوی که دمجاهدینو راکټ پرې لګیدلی ، خو اغلب ګمان پردې دی چې له داخله منفجره شوی وي ، ځکه چې ګوډاګي رژیم په دې تور (۸۰) څخه زیات ملکي اونظامي کسان نیولي دي .

دغوائي ۵ داپریل ۲۵ : دکابل دګوډاګي رژیم دبهرنیو چارو وزیر «وکیل » په نیویارك کې خبریالانوته وویل : دسلو څخه زیاتو هغو افغانانو ته چې امریکاته مهاجرشوي بلنه ورکړ شوې چې په هغې لویې جرګې کې چې پراتلونکي کې کابل کښې جوړیږي ګډون وکړي . په دې لویې جرګې کې ظاهرشاه ته هم دګډون بلنه ورکړ شوې ، هغه وویل : دادعوت نامې ددوی په وسیله توزیع شوي .

دغوائي ٤ داپریل ٢٦ : دکابل پرښار کې ددښمن پرنظامي مرکزونو دمجاهدینو لرې ویشتونکي توغندي ولګیدل چې دهغوی له امله زیات شمیر کسان وژل شوي اودښمن ته زیات مالي تاوانونه وراوښتي .

دغوائي ۷ داپریل ۲۷: دکابل ګوډاګي رژیم دشور دکودتا ۷ دارګ په « ستوري ماڼۍ » کې دیوی پنځوس کسنیزی غونډې په جوړولو سره ولمانځله اوپه دې ونشوتوانیدلي چې دنورو کلونو په ډول مارشونه وکړي/ اوداورځ جشن ونیسي ، همدارنګه مجاهدینو په دې ورځ دهیواد په ټولو برخو کې ددښمن پرپرتو پوستو عملیات ګړندي کړل .

دغوائي ۷ داپریل ۲۷ : په ناصرباغ کې مهاجرینو.

پاتې په (۹۸) مخ کې

دمارکسیزم پیژندنه اوڅیرنه

س ، سکني

مارکسیزم مدعي دی چې د«جامع مجموعي» او«سیستم جوړوني » له رامنځته کیدوسره پوره مخالف دی . اوفلسفه دعلم دودی تابع کوي ، اوتحول یې یوازې د«علم» او«انقلابي عمل» په تحول پورې تړلې گڼي. خوله دی ټولوسره سره په واقع کې یې یوبشپړسیستم رامنځته کړی ، چې دخپلو احکامود جزمیت له مخې سکولاستیك ښوونځي ته ورته دی . نوځکه کولای شو چې زموږ په عصرکې له یوراز«مارکسیستي نیوسکولاستیك » څخه خبره وکړو. ددې سیستم اړوپیچتیا(نقض) به ترسکولاستیك زوال څخه هم غوراسترنتایج له ځانه سره ولري .

دمارکسیزم له نظره ؛ دنړۍ سیر، هغه طبیعت دی اوکه بشري تاریخ ، دجبراوضرورت تابع دی ، اودهغه وروستي حالات دپخوانیو انگیزواوهڅو دحضوراواغیز نتیجه ده . پردی اساس مارکسیزم مدعي دی چې ټولنیز جبري نظامونه کشف کړي ، اوددې تحول راتلونکې تکامل یې اټکل کړیدی ′.

مارکس په نونسمه پیړۍ کې دانگلستان دټولنې په تحلیل اودپانگوالواوخواریکښو دووپاټکو ترمنځ دپوخلاکیدونکي تناقض (انتاگونیزم) ته په پاملرنې سره (هسې تحلیل چې په هره توگه پریوه اړخیزاود ولاړاوزښت زیات ټولنیزعوامل ترسیوری لاندی کوي ، اویایې غلې کوي .) یوې داسې نتیجې ته رسیدلی چې دانځور(توصیف) دربښتینوالي په صورت کې یې یوازې دهغه مهال دانگلیسي ټولنې په باب صادقیدای شي . ان دامریکا متحده ایالات ، فرانسه ، المان ، اتریش اوترهغوزیات دایټالیې، اسپانیې اوروسې ټولنې ددغه توصیف بشپړمصداقونه نه وو. دژوندانه بهیر پرمارکس اوانگلزاشنایې، پرواقعیتودهغه دمنبطقولوپه هڅه کې پرشاتگونه اویاد داسې نورو احکامو مننه ، چې پخپله به یې هیڅ نه گڼل، تحمیل کړیدی . لکه دانگلستان دیرو پرمختللیوپانگوالو هیوادودتهرجن (خونړی) انقلاب دلاری په باب خرخشه، اوپه دی هیوادوکې دامن ناك (مسالمت آمیزه) انقلاب دامکان ، اویالکه دابشینو(په روسیې کې دکلیوالي واحدونو) په وړاندی دسوسیالیزم دلومړني زړي (هستې) په توگه دروس دنارودنیکودنظریومننه اوپرشاتگ ، اوله گردپانگوالي نظام څخه دځان تیرونې دامکان یعنې دناپانگوالي رشدلاری غوره کول، داسې یوه

نکته چې پاخانوف ، چې
دروس غوره مارکسیست یې
گڼي، هغه نه منله .
مارکسیزم په انگلستان کې
داقتصادي تحلیلونو اوپه فرانسه
کې دانقلابي تجاربو په تصمیم
اوتریوی اندازی په المان
اوایتالیې کې دتاریخي
مادیگرایي اوتاریخي
جبرپراساس دآزادي دبیرغ په
نامه خپله تئوري دنړۍ اولسوته
وړاندې کړه . په داسې حال
کې چې هغه مهال زیاتره
بشریت (لکه دچین ، هند،
دسهیلي اوتوري افریقااولاتین
امریکا اونوروګړیو) لاتراوسه
ترصنعتي دمخه زماني اوبهرنۍ
برلاسي لاندې ژوندکاوه ،
اودنورو دودونو اوفرهنگ
څښتن اونوروغواړنو اوروحیاتو
درلودونکي وو.
آیادلومړني نړیوال »
بین الملل اول) اودویمني
نړیوال « جوړیدل دکوم پیغام
حامل و، پرته له دې ادعاچې
دمارکسیزم ایدیالوژۍ
جهانشموله نسخه اواکسیرکل
دی ؟!
مارکسیزم دتاریخي
کوټلیو(جزمي) «قوانینو»
پراعلامولو اودانسان دتاریخي
برخلیك په قانوني اداره کې
ددې قوانینو دتأثیرپه
اعتقادسره، دبشرد آزادانه
ارادې له نقش څخه (ددې
قوانینوله چوکاټ اودهغو له
متابعت پرته) عملاً منکریږي .
اوبیا وروسته دیوه نظام/
(کمونیزم) اویوې طلقي
(پرولیتاریا) دبرلاسي له پاره
ددې قوانینو دودې دلوړپه
توضیح اوورسره دزبیښناك کگر
پاټکي اوپانگوالې نظام په ردولو
اوهغه ته په ردوبدو ویلو سره
زیارباسي چې دپرولتیاریا اراده
دخپلې فلسفي تابع کاندي . اوپه
دې توگه ځان دراتلونکي ټولنې
رهبراوپه څپسان سمندرکې
دتاریخ دکښتۍ ماڼوگې وښیي.
دمسایلو دطرحې دابنیوه،
دهغوکسانودویده کولو خاصیت
لري چې پروعدو، ځان غولونو
اودده په نخرو په سترگو پټولو
زړه بایلي.
اوپه تیره داچې دالیوال
یامحروم پیرونکي (مشتریان)
دخپل نیاز اوشوق په هیجان
کې کله هم دبل لاري
پرتشخیص نه قادریږي .
ځینې حقایق چې په نسبي
توگه واقعي دي، په مارکسیزم
کې د«مطلقوواقعیتو» په نامه
اوبشپړاوکامل « دپرولیتاریا
پاټکي پرشعار» بدلیږي . اوپه
دې توگه «انقلابي » خاصیت
خپلوي . ددې ټولو
تیریدونکیو حقایقو په التقاطي
راغونډوني اوپرمطلقواوابدي
حقایقوویي په بدلانه سره ،
مارکسیستي سکولاستیك
دتیرتاریخ په توضیح
اودراتلونکي هغه پرپیشبینۍ
بدلوي ، اوپه نتیجه کې هغه ته
دخیالبافي اواسطوره جوړونې
خاصیت وربښي .
« پرولیتاریا» چې مارکس
اوانگلز په «مانیفست» اوخپلو
نورو آثاروکې دصنعتي تمدن
وارث اودپانگوال جانشین
اودآینده امید گڼي، هم د
اوسني عصرپه سوسیالیستي
انقلابو اوهم دسوسیالیستي نوي
نظام په جوړښت کې ، لکه
عمل یې چې ښیي، هسې خپل
غوځ نقش چې مارکسیزم پې
وعده ورکوله، نه دی ترسره
کړی یایې نه دی پریښې چې
ترسره یې کړي . نن دعلم
اوفن دپراختیااودمعاصرتاریخ
دټولو تحولاتوپه اثر، پرولیتاریا
دبیلابیلوکړنو(عملکردونو)
درلودونکي مفهوم دی .
دنونسمي پیړۍ اودشلمې
هغې دلومړني نیمایي
دپرولیتاریایوه پله « خیرن
کمیسي » پر«سپین کمیسي »
طبقې بدل شوي اودصنعت
اوفن اوتکنولوژۍ
اودمیکانیزیسیون جریان
اودتولیداتو اتوماتیدویي عملاً له
«مستقل» او«مولد» نقش راکم
کړي ، په صنعت کې دی ، که
په خدماتو، که په زراعتي
تولید، که په فن اوفن آوری (
(تکنولوژی) اوکه په اداري
چارو اورهبري کې ، دې
ټولوځایوته « فني پایې»
لارمیندلی، اوپه نتیجه کې په
گرده ټولنه کې د«کارگران »
یا« کارکوونکیو» تعدادزیات
شوی .
اوداکار دمولدې اومحرومې
طبقې په توگه
دپرولیتردکلاسیکو مختصاتو
دتضعیف سبب شویدی .
ددین، وطن اوملت غوندی
حساسومسائلو سره دمارکسیزم
منفي برخورد په غرب کې
دنونسمي پیړۍ دمسلط انقلابي
چاپیریال تراغیزلاندې ترسره
شوېدی. یعنی کله چې
دمسیحیت دکلیسا رهبري (که
هغه کاتولیك دی او که
پروتستان ، انگلیگان اوحتی
ارتدوکس) دخپل هیوادله رژیم
سره دهمکارۍ په سبب دخلکو
په نظرکې بې اعتباره شوې وه
، اودوطن اوملت مفهوم له
حاکمه سیاست سره گډوله
شوی اوخپله جاذبه یې له لاسه
ورکوله .
مارکسیزم (دفویرباخ
اواگوست کونت په انسان
پرستې پسې) غوښتل طبیعي
علوم اوپر«پرولیتاریا» اعتقاد

اودهغه انقلاب دخدای (ج) دین او وطن دریښه لرونکی عقیدی جانشین کاندی، مارکسیزم دهستی پیژندنی په مساله کی دواجب الوجود منکرشو، اوهستی یی یوازی پرممکنوموجوداتو (مادی اومحسوس) پوری منحصرکړ، اوهغه یی دعلمیت زیرنده وګانه

دنونسمی پیړی په نیمایی کی ، په بالکان کی دملی مسالی په پورته کیدویعنی دصربیانو، مجاریانو، لهستانیانو، چکیانو، سلوواکیانو، بلغاریانو اویونانیانوته روښانه شوه چی د«ملی خپلواکی» مسأله دخلکوله غورځنګو جداچارنده . وروسته هم په مستعمراتوکی ملی مسأله دمعاصراستعماری ضدجنبش پرمهم خط بدله شوه .

مارکسیزم له مذهب اوملی استقلال څخه په جداکیدو اوداته ایزم اوانترناسیونالیزم په مطرح کولوسره له واقعی جنبش څخه فاصله ونیوه . په حقیقت کی دمارکسیزم له ځان تیرونو څخه یوهم دخالص غربی لیدوجوددی . په تیره بیادننني دریمی نړی دهیوادوپه باب . دپرولیتاریا اوبورژوازی ترمنځ دتضاد د مطلقو لو په سیوری کی ټول دردناك بشری مسایل تقریباً هیرشول . داستعمارعمل اوضدانسانی لوټ یی چی هغه مهال دانګلستان ، امریکا، فرانسی، روسیی او همداراز ایتالیی اوالمان کی کیده . دمارکس اوانګلز په نظر، دستم ځپلیواولسو پرلوټ اوستم سربیره ضمناً پر«وحشی شرق» (!) د«صنعتی غرب» دبرلاسی جریان و! مارکس اوانګلزپه واقع کی دصنعتی غرب په مرکز اوپه پرولیتاریا پوری دټولواولسو جذبیدل ماهیتاً یومترقی کارګانه . هغوی دصنعتی تحول په تقدس اودپرولیتاریا دنقش په تحلیل کی دومره اغراق وکړچی دمتوسطو قشرونو(وړوکی بورژوازی) لکه دکسبګرو اوکرګروحساس اومثبت نقش ته توجه ونکړه ، اوپه اصطلاح غوښتل یی داټول قشرونه دننی صنعت په «دیګ» کی ویلی او«پرولیتاریزه» کړی .

په دی توګه ، مارکسیزم دتاریخ دتوضیح له پاره داحکامو په تنظیم اوددی احکامو له منځ څخه داروپیچتیااونه ګډون په له منځه وړوسره ، د«فکر» له پاره یوداسی چوکاټ جوړکړچی فکریی په یوی تخیلی اوله واقعیت نه په لری مجراکی وځغلاوه . ددی چارچوب دپیروی په اثردانسان عمل هغه ځای ته راکښل شو چی دهغه اوواقعیت اودانسان دفطرت ترمنځ یوه کنده رامنځته شوه ؛ مثلاً کله چی استالین دمیلیونو وګړیو په عین امحا اوتذلیل کی له «سوسیالیستی دیموکراسی» اود«انسان دحقوقو» ددفاع خبره کوله ؛ پراساس پیل شوی اوتنظیم شویده .

که دهمدی تئوری څوځانګړی برخی یی له تاریخ اوټولنی سره ارتباط ولری ، ډیری نوری مهمی برخی یی، ډیرلری ځای ، دتحکم ، دارادی تحمیل اود، وهم راګ ته رسیږی ، چی« بی طبقی کمونیستی ټولنه» نومیږی ر . لینن «دمارکس اوانګلز په ویرنه کی غور» نومی خپل اثرکی زیاروایست چی دهغوی ځینی مهم ثقصونه لری کاندی نوپه یوه ځانګړی تألیف کی یی دامپریالیزم دنقش په ړاګه کولوسره دهغوی نقش په ړاګه کړ، اوپه نتیجه کی یی په مستعمره اونیمه مستعمره هیوادوکی دخپل هدف په لورد«ستم ځپلیو اولسو» راجلبولو توجه وکړ . همداراز لینن دکرګرو نقش (البته یوازی دهغه ډیربیوزلی قشریی) وځلاوه ، اوهغه یی دکارګری طبقی ډیرنږدی متحد ونوماوه . لینن دحزب اوانقلابی ایدیولوژی نقش هم برجسته کړ، اوانقلابی تئوری اوانقلابی حزب یی دانقلابی غورځنګ حتمی شرط وګانه اوددی نظریو په تنظیم کی یی دمارکس اوانګلز ځینی ناڅرګندی شیندلی خبری دخپل استدلال پایی کړی .

پرهمدی معناده چی ستالین وایی: لینن پرمارکسیزم هیڅ نوی ټکی زیات نکړ. برعکس لینن په روسیی کی دآبشینانودنقش په باب دمارکس اوانګلز په مقابل کی مقاومت وکړاوهغه یی په روسیی کی دپانګوالی په تکامل کی داقتصادی تحقیق پراساس ردکړ. په واقع کی ددی نظرمننه دیرنارودنیکانو دایدیولوژیك بری شرط و، چی له مارکس اوانګلزسره دموافقت په اتکا ، اوپه خپله ګټه یی، دپلخانوف اولینن له نظرسره کلك مخالفت وښود . په دی توګه « لیننیزم » کله له کینی اوکله له ښی اړخ څخه دمارکسیزم په احکامو کی ګڼ اصلاحات رامنځته کوی .

نودا ادعاسمه نده چی لیننزم پرمارکسیزم هیڅ کوم نوی شی نه دی ورزیات کړی .

لینن په انقلاب کی

دبریالیتوب اوقدرت دترلاسه کولو آوپرځپلو پخوانیو متحدانو لکه «منشویکانو» او«انقلابی سوسیالیستانو» (اس ، آریانو) دبرلاسی له پاره بیځی نورعملی اوسیاسی اسلوبونه ، پرته له هغوی چی دکمونیستانو په نیزدود اومتداول دی ، په کارواچول . ده په واقع کی په پراگماتیزم (یعنی په پټ اودسیسه ناك عمل سره توسل) اوناروديزم پربنیوی (یعنی په تروروتوسل) اودماکیاولیزم په سیوی (یعنی دهرهغه کاررواوالی چی «هدف» ته خدمت وکړی) توسل ، د شوروی(!) اوسنی نظام خلق کړ . دامتمرکز ، بیوروکرات ، اوپردولتی مالکیت مبتنی نظام دی چی» خلك» او«پرولیتاریا» پکی په واقع کی نقش نلری ، اونظام یوازی دهغوی په نامه اوځواك متکی دی ، بی له دی چی هغوی ته کوم پاداش ورکاندی . دامتمرکز نظام په نسبتاً کمه موده کی په صنعتی کولو اودیوه معتبرعلمی اونظامی ځواك پرایجادولو بریالی شو . ددی مادی بریځوړترځنگ ، څه دلینن په دوران کی («چکا» په لاس دبلشویزم دټولو مخالفینو په فیزیکی له منځه وړو ، اوڅه دستالین په دوره کی په شوروی، اودشرقی اروپاپه هیوادوکی په شلمه پیړی کی د ۳۰ او ۴۰ کلو په تصفیوکی) نظـــام دداســـــی بورنوونکیوناتاروموتکب شو چی په تاریخ کی یی لزساری 'لیدل کیږی . په واقع کی ، لیننیزم دمارکسیزم داحکاموعملی اجراده . اوڅه چی دمارکسیزم په تئوری کی پټ و ، ددی تئوری په پرله پسی اجراکی راڅرگندشول . سوسیسال دیموکراتان چلی دهغو داجراغوښتونکی نه وو ، دپانگوالی ټولنی لم ړلگیو یی پرپیوی بدل شول ، اوپه څرگنده یی له مارکسیزمه لاس واخیست ، اودپانگوالی په ناتاروکی برخه وال شول .

ددی کتاب («دمارکسیزم پیژندنه اوڅیرنه ») نوم په خپله دهغه د مضمون پیژندوی دی . مولف په دی کتاب کی زیار ایستلی چی مارکسیزم لکه څرنگه چی دی په خپله دمارکسیزم ، انگلز اولینن دبیان پراساس وپیژنی ، اوبیا وروسته اساسی اوعملی مارکسیستی احکام ترنقداوڅیړنی لاندی ونیسی ، اوپه دی باب خپل انتقادی نظریات په ډاگه کړی .

دمارکسیزم نظری اساسی عیب ، لکه چی وویل شول ، تحجر ، دنرمښت نه درلودل اوپه هره بیه چی وی متحجروقالبوته دواقعیت ایلول دی .

دمارکسیزم عملی اساسی عیب دماکیاولیزم اوپراگماتیزم ترحده له اصولی اومنلیوتعهداتو تیښته ده . په دی توگه دتئوری اوپراتیك اونظراو عمل ترمنځ یوه بیلوونکی دره ده ، چی څه چی مارکسیزم په تئوری کی وایی اورسمی تبلیغات یی تکراروی ، دورځنیو عملی منافعو له مخی دهیرهیه تاڅ کی ایښودل کیږی . دسوسیالیزم ددوام اوبریالو رازله تئوریکو تعهداتوڅنی تیسته اود«عمل» او«مصلحت» پراخ دلبارته تگ دی .

خوخبره داده چی دتئوری له جزمی احکاموسره هماغه درسمی وفاداری اعلان په اخیره کی عمل دډیوالی په لورولی ، اوتناقضات رامنځته کوی .

دنړدی شپرسوه کلو په اوږدوکی چی دامریکا اواروپایی ټولنی یوی برخی دتکنولوژی اوتجربی علومو په قدرت ، دزورگویی دبنیوی اوعملگرایانه چالبازیو په توسل ، دمیلیاردو دتیلادپیسو اومالی چاروډسترگتړنی (شعبدی) پراتکا ، اوجنگی وسایلو دغره په لاپولو سره تصوروکړ چی دخدای(ج) سیالی یی کړی ؛ خونن ترپرخوازیات روښانه کیږی چی غولیدلی دی نه خودډالرماهرانه دیپلوماسی اونه هم دمارکس اولینن څیرکی اومهارت دتکاثر اومال ټولونی (زراندوزی) دعواقبو اودانسان دغرورله پاره چاره ... مسنجولای شوی . بلکی دانحطاط اوپسات په کنده کی دلوړیدیزتمدن تنزل لازیات شویدی . یونوی تمدن ، داسی تمدن چی پرخدای(ج) اوتقوا پرتکیی ، دخلکو اوعدالت لارپه مخکی ونیسی اوقدرت اوقدرت اوثروت سرکښه آس ته کیزه واچوی ، لازم دی . دانه یوازی په طبقه اوټولنه چی په تمدن کی هم انقلاب دی .

پرمارکسیزم اودهغه پرعمده مفکرینو ؛ مارکس ، انگلز اولینن دانتقاد کولو لازمه نه یوازی ددغومفکرینو اودهغوی دموثر وپیروانو څخه اطلاع ده ، چی د کمونیستی جنبش درشداوله مربوط انقلابو اواحزابوڅخه یی اطلاع لرل هم پکاردی . ورسره دفلسفی دتاریخ دمعاصروغربی فیلسوفانواودپانگوالی اوسوسیالیزم داقتصادله علم

څخه هم دقیقه اطلاع په کارده . څرنګه چې په پارسي کې ددې رازانتقادمنابع په کافي اندازه نشته ، نوله روسي او الماني ژبو (چې دمارکس) انګلز اولینن دکتابونومتن پرې کسل شوي ، پوهیدانه اوهمداراز انګلیسي اوفرانسوي (دپیچلوفلسفو ددرک ترحده ورسره آشنایي) هم لازمه ده . سربیره پردې دانتقادسمه شیوه دانتقادورمکتب بې غرضه درک اودهغه سهي اومنصفانه څیړنه ده ، چې البته داکار دپلوې اوله خپلو معتقداتوڅخه ددفاع مانع هم نه دی . زیارایستل شوي چې داشرایط څومره چې ممکن دي ، په دې کتاب کې تامین شي.

دلویدیځ فلسفه دداسې مقولو اواصطلاحاتو درلودونکې ده ، چې ځینې پخوانی فلسفي یعنې دیونان اوروم اویادمنځنیوپیړیو دسکولاستیک فلسفي زیږنده دي . اوځینې نوري له وروستیو تحولاتو ، له څوارلسمي میلادي پیړۍ څخه ترننه پورې ، سره برابرغ شوي اودودشویدي . داټول اصطلاحات هم له لغوي لحاظه اوهم دفرهنګي بارپه لحاظ داسلامي فلسفي له مصطلحاتو سره دقیق انطباق نلري ، اویایې انطباق نسبي دی .

نوسره ورته کول ، مقابله اومقایسه یې(سره له دې چې په دووپیړیوکې ددواړوفرهنګو ترمنځ اړیکې ترسره شوي هم دي) یوتدریجي کاردی .

هغه «منظم» او«پراخ » سیستمونه چې دهرسوال له پاره ځواب (؟) تیارلري اوټول لغتونه اومقولات دشویو تعریفو اوفورمولو مطابق وړاندې کوي ، چاري ناچارخپل معتقدین «فکرنه کول » یا« نقادانه فکرنه کولو » اوپه نتیجه کې ژوند هیرولوته چې دهری مقول ریښه ده ، مجبوروي . دابنسټ ارنده دتعصب اوانجمادخطر ، دخوځست له دعووسره سره پورته بیایي ، اوپه عمل کې زیانمنوونکې دي .

په داسې حال کې چې دمارکس ، انګلز اولینن په نیز له پوهې سره مینه اوهم دحاکم سیستم اوقدرت پرضد دمبارزې اونقادي شوق لیده شي . مګر الحاد اوپه بشرکې پرخدای(ج) دایمان اومذهب اوهم دخصوصي مالکیت اوفردي ابتکار اوآزادي پرعظیم تاثیریې سترګې پټول ددې سبب شوي چې دهغوی زده کړه« وګړنې »، ددې کلیمې په اصیله معنا سره ، نشي . اوپه عمل اوجامعه کې دعدالت اومحبت او وروروړۍ رامنځته کوونکې نشي . دحاکمه ټولیو دزورکیرې پرضد دروښانه هدف درلودل ، اودې لوړهدف ته درسیدو پرله پسې او اغیزمنه هڅه یوازې هغه وخت ممکنه ده چې دخلکو دپراخو پرګنو اودایمان اوعدل دلوړواخلاقو اوله هغوسره دانصاف متره ملګرې وي ، اوکه نه دا«مبارزه» دخلکو دمنلیو عقاید وله ردولو اودجبراوتحمیل له روش سره یوځای شي ، مخالفونتأیجوته رسیږي ، ! له یوه ظلم پربل دي منتج کیږي .

داسلام ګران پیغمبر(ص) وایي: « ربنا ارناالاشیاء کماهی» (خدایا! ماته شیونه لکه څرنګه چې دي راوښیه) یعنې دځیزونو اوسکارندوبې غرضه او بې مطابه ، دروح له حجاب پرته ، بې دذهني یادښت اودمخنې قضاوته ، دپسوللو اویایې بدرنګه کولو له نیت پرته ، دنقص اومعیوبوارخوله ښکاره کوني اوورسره دکمال اوغوره اړخوله پټولو پرته » کتل . دایوداسې نعمت دی چې یوازې دخدای (ج) په رضا دانسان په صادقانه همت په لاس راځي . دپیچلو او ګنجلک مارکسیستي بینش دڅیړنې په شروع کې دې نبوي حدیث ته توجه ضرورده .

څکه موږ له یوې داسې ګرانې مرکبي پدیدې سره چې سهي یې دغلت اوڅیړیږي دشر ترځنګ دی مخ یو . (نوربیا

محمدامان "فارغي"

داستان تزار

بشنوازمن داستان زاررا
وحشي درنده خونخوار را
بشنوازمن تاکنم پیشت بیان
قصه این اغلظ کفا را
شوروی آن دشمن نوع بشر
آن جنایت پیشه غدار را
آنکه معزول است ازسمع وبصر
خورده برسمع وبصرمسمار را
ازازل قفل ست برپای دلش
تاابد دارد سرانکار را
منکرحق٭پیروباطل بود
بنگریداین پستي افکاررا
آنکه اصلابوده ازقطب شمال
داشت زاصحاب الشمال آثاررا
آتش حرصش بدل شد شعله ور
پخت درسرفکراستعماررا
بهراین مامول تولیدات کرد
بیشتر ازهرچه جنگ افزاررا
راکت وهاوان میگ وچي وچي
ساخت آخر بمب آتشباررا
رفته رفته قوتي آمدبدست
آن شریر مایه آزار را
پس بنای شوروبدمستي نهاد
چون خری کاو بگسلدافساررا
باهمه همساپگان تغییر داد
طرز برخورد وراه رفتار را
خواست بااعمال قدرت تاکند
برهمه تحمیل استثمار را
ازسمرقند وبخارا آذری
ارمنستان خاک معدنساررا
هم زلتوانیه ولیتوویا
پیش سازد عده اقمار را
کردچشمي سرخ برافغانستان
تابدزددثروت سرشار را
خواست تاازنفت وگازاین وطن
گرم سازد درجهان بازار را
بربریت کردآن بی بندوبار
تابه بحرهند بندد باررا
برفرازمسند قدرتت نشاند
خاین وسردسته فجار را
فردکاجي بی نجیب ناخلف
این خدانشناس بدکردار را
کزپي امیال طاغوتي خویش
گشته حاضر عهده این کاررا
آن سفیه سفله ترازسافلین
قتل کرده مردم بسیاررا
ازحساب قتل وکشتارش مپرس
کس نیارد کرد این آماررا
لیک این کشورنه آن باشد که گه
ازکسي پذیرفته باشد بار را
این نه پنداری چکوسلواکیاست
کاوپذیرد جمله ننگ وعار را
این بل افغان بود آن مردمي
کاوندیده هیچ برخورداررا
قوم افغان سردهد اما نه تن
ننگ استخفاف واستحقاررا
شدپولادین بودکهسارما
کي کسي پیموده این کهساررا
جمله آن کشورکشایان جهان
مانده اینجا برزمین افزار را
سرزمیني کزشجاعت اندرو
صعوه برشاهین زندمنقاررا
بره اش ازگرگ میگیرد خراج
گربه اش بلعیده باشد مار را
این ابرمردان تاریخ کهن
کي برند این بارپرادباررا
الغرض چون پادرین کشورنهاد
خورد برسرمشت ضربت باررا
ارتش سرخ آنکه بادش روسیه
سرخ دیدم برتنش ابزاررا
آنکه مي پنداشت ازفرط غرور
افتخاری غارت وکشتار را
درمصاف شیرمردان دلیر
بردرید آن پرده پنداررا
زیرضرب چکمه مردان گرد
دادازکف صله ودستاررا
برد آخر تحفه پیش میرخود
روی پرخون وتن افگار را
برجبین داغ شکست وافتضاح
دریمین پیکان ماشینداررا
ای جهان ای مردمان باخرد
خوب بشناسید این مکاررا
این ابرقدرت چو برگاغذیست
کارندارد جرات پیکار را
درنبرد بزدلان شیرقویست
چون به بیند شیرجوید غاررا
ای نسیم صبح رو از من بگو
آن اولوالایدی والابصاررا
کای مسلمانزادگان برده بار
تاکجا خواهید برداین باررا
برخلاف کفر عصیان سرکنید
ریشه کن سازید استکبار را
درطریق دین حق اجبارنیست
سرنگون سازید این جباررا
ازبک وتاجیک وآذر غیرتي
بشکنیداین واژگون دیواررا
زین کثافتها جهان مردارشد
پاک روبید ازجهان مرداررا
لعنتي برگوراستالین فرست
ایکه میخواني تواین اشعاررا
تف بروی لینن شیطان صفت
مرگبادا گربه چف سالارا را
فارغي ازخانه ات ایزدشرر
این شرر سوزد همه اشراررا

په ختيزه اروپاکي دبدلونواغيزي

ژباړن استاذ شيرعلي "مبشر"

۱۸٤۸ع كـــال تـــه داوښتونونو(انقلابونو) كال ويل كيــږي ، او اوس د۱۹۸۹ع كـال اخـرى بـرخـى تـه هـم دانقلابونو كال ويل كيږي ځكه چې پدغه وخت كې هم په شپږوهيوادوكى پداسې توګه انقلاب تـر سـره شـوچې بيله وينوتوييدواوبربادى رامنځ ته اوپرمخ ولاړ. داچې اوس ظالم خپل انجام ته ورسيد اويابې عزته شو، بيوزلوخلكو ته آزادى په برخه شوى ، نومسلمانانو ته په هرځاى كې داپوښتنه راپيدا شـوى چـې دوى تـه بـه هـم آزادى په برخه شي ؟

اوس دهـرمسلمـان پـرژبـه همداپوښتنه ده خوځرګندځواب يې ندى په برخه شوى ، كوم خلك چې لـه دى كـړاوځخـه خبـروهـم يـې داروپـا اوسنـى وضعه ترغـور لانـدى نيولى ، له يـاده ويستـل يـې ورتـه نـدى پكـار، پـه آروپـا كـې چـې كـوم حالات روان دى هغه تقريباً له ځلويښتو كلونو راپديخوا پيـل شوى نوكوم خلك چې دمنځني ختيځ وضعه اوحـالات دختيـزى اروپا سره پرتله كوى هغوى ته ددى خبرى په يادول ضرورى دى چې دمنځني ختيځ كړكيچ اتيا(۸۰) كاله مخكينى خبره ده ، نومسلمانانوته به ددى خبرى له ياده ايستل سمه نه وى چې په تيرو ځلويښتوكلونو د(روس اوامريكا) ترمنځ كوم اختلافات وو دهغـى سـره سـره بيـا هـم دواړه ستراستعمارى ځواكونه په يـوه خبـره متفـق شـول اوهغـه داچـى دمسلمانانوپـه منځ كې دتولى اسلامى نـړى د سترګـو اغزى رياست جوړكړى چې نن ورځ داررياست داسرائيلوپه نوم يادېږى .

مسلمـانـان تـردى حـده كمزورى دى چې دغه دسترګو اغزى دزرغـونيدو اورامنـځ تـه كيدومخـه يـې ونـه نيـولـه يـو بـرتـانـوى (انګـريـزى) اخبـار انـدى پينـدت ليكـل چـى : كنه چيـرى پـه يـو هيـوادكـى اول جمهـوريـت راځـي نـو لـه هيوادڅخه بهر ستروځواكونو ته دهغـى داستحكـام مسئـوليـت متوجه كيږى . مطلب داچې ستالين اوخروسچوف پوليسى حكومت قايم ساتل واوديوى ډلى حكـومـت و چـى امـريكـى خپـل دوسـت ګڼلـو. هغـه تـه ددى اجـــازه وه چـــى خپلوبنـدديانـواوهغـوى تـه دسـزاوركـولـو لپـاره بنديخـانى جوړى كړى واى .

په عراق كى دصدام حسين دساتونكى پوځ تربيه دختيز المـان دپـوځـي ښـوونكـو لخواترسره كيږى اوهم دعراق دسخـت مخـالـف اودشمـن (دسوريى جمهور رئيس حافظ الاسد) شـامـى پـوځ تـه هـم دختيزالمان دپوځـى ښـوونكـو لخواتربيه وركول كيږى . ددى وجـه ښكـاره ده اوهغـه داچـى داعـــرب آمـــر چـــى د۱۹۷۰او۱۹۸۰ پـه لسيـزوكـى اقتدارته رسيدلى دخپلو اولنيو واكمنانو څخه زيات مستحكم اوپـه خپلو خلكوېـي پـه خلاص مت ظلمونه وكړل . كه څه هم ددى حكـومتـونـواستحكـام بـى دبهرنيـو حكـومتـونو لـه كـومـك

څخه ناشوني و، خودهغو واکمنانو داسي کلکه پوځي ساتنه کیږي چي تردي دمخه داسي نه و.

په عراق کي د ختیز المان یو پوځي روزونکي وویل چي :

که، چیري کوم بندي زندان ته ورننوځي اوژوندي وي نوپداسي توګه له بندیخاني څخه بهرکیدای شي چي هغه ته خپل نوم هم په یادنه وي . که څه هم لویدیزوهیوادوپه عمل بنهه څه ندي کړي خودختیزي اروپاله آزادي نه وروسته داخبره ثابته شوي چي داټول هرڅه دګورباچوف اوبش په خوښه تر سره شویدي .

په مالتا کي چي کومه سرمشریزه غونډه شوی پکي په څرګندډول ویل شوي چي! وضعه باید له واك څخه ونه وځي ګورباچوف ته معلومه وه چي وضعه اوجریانات دهغه له واکه وتلي دي نوله همدي امله یي دحالاتو له عهدي څخه دوتلو پخاطر جارچ بش ته ټول واك ورکړ، خارج بش ددي کارپه بدل کي هغه ته په نورو سیمو کي دخپل خوښي سرته رسولو اجازه ورکړه چي پکي منځني آسیا ، قزاقستان ، افغانستان اودبالتیك جمهوریتونه شامل دي او ددي سره سره یي په مالدیو یااویوکرائین کي دروس دخپل خوښي دسرته رسولو په برخه کي موافقه وکړه. پدي کي هیڅ شك نشته

په مالتاکي چې کومه سرمشریزه غونډه شوې پکي په څرګند دول ویل شوي چې وضعه باید له واکه څخه ونه وځي ګورباچوف ته معلومه وه چې وضعه اوجریانات دهغه له واکه وتلي دي .

چي دګورباچوف اوبش ترمنځ شوو خبرواترو کي موافقه وشوه چي دوی دواړه له دي څخه خبر اوپوهیږي چي دسختو حالاتو سره لاس په ګریوان دي نودذي مشکلاتو له امله مجبور ووچي په غولونکي ډول په ختیزه اروپا ، اونوره نړی کي داسي وضعه رامنځ ته کړي چي په خپلواهدافو کي پرمخ ولاړشي ځکه چي دنړیوال سترجنګ نه وروسته دوضعي اوحالاتوله عهدي نه وتل داهمیت وړو. اوکه روس دوضعي اوحالاتو سره لاس په ګریوان شوی وای نوامریکا به هم همدغسي مجبوره وه ځکه دامریکي اوروسي استعماري نظامونه یوله بله سره پیوستون لري چي یوبی له بل نه پرته نشي چلیدلای .

دامریکي دباندنیو چاروددیوپخوانی وزیر جان فاستیرډالس لخوا کمونستان پدی ویره کي اچول شوی و چي : ددریمي نړی زیات هیوادونه دامریکي ترسیوری لاندی په ژوند تیرولو مجبورشویدی ، رښتیا چي له جنګ نه وروسته تګلاره ورو ورو دمخاالفتولو ښکار شوه ، خوکله چي لس کاله دمخه په ایران کي اسلامي انقلاب کامیاب شونو دواړه سترځواکونو (روس ـ امریکا) یوځل بیا یوبل ته داسي نژدې شول لکه چي تردي دمخه داسرائیلو په رامنځ ته

کولو دواړه یودبل سره یوموټی اومتحدشوی وو، او ددي هڅه یي کوله څوددوی ددي اقدام په وړاندي کوم پاڅون پیل نشي خوځرنګه چي داښکیلاکي نظام له پیل څخه دمحوی اونابودي پرپوله ولاړو، نو نوریي ژوند ناشونی و، اومرینه یي پیل شوه چي ۱۹۸۹ ع کال یي ډیره ښه څرګندوی دی اوپه ډاګه یي کړه چي اوسني حالت پخپل آرحالت نشي پاته کیدای .

په ختیزه اروپا کي بدلونونو ثابته کړه چي دکمونستي نظام وروستي بقایاوی هم لدی بدلونونوڅخه بی اغیزی نشي پاته کیدلای . دډیرودلایلوپربناویل کیږی چي په ختیزه اروپاکي رامنځ ته شوی تبدیل لدی څخه زیاتی چي امریکي ته په ایران کي درامنځ ته شوی بدلون پراساس ورپیښه شوی وه داهمیت وړنه دی وایی چي په اروپا یي وګروکي داصلاحیت موجوددی چي خپل مشرتوب سمبالولای شي خوپه منځني ختیځ کي داصلاحیت ډیرکم دی ، ځکه هلته مشر« لیډر» یادمرګ ښندی ته غورځول کیږی ، یازنداني کیږی اویااخپل هیواد پریښودلومجبوریږی .

داروپا په لویه وچه (براعظم) کي هغه اشخاص چي دامریکا پرګنیزی وژونکي تګلاری (پالیسی)دشك په نظرګوری پوهیږی چي : دامریکي دانسل وژنه به یوه ورځ نه یوه ورځ داروپا په برخه کي هم رامنځ ته شي .

هغه وخت چي په مصرکي جمال ناصردواکمني ته ورسید نودمنځني ختیځ په هیوادونو

کی وژنه او لوټ پیل و چی پوهان اوعالمان به پیادمرګ کندی ته غورځول کیدل اوپایه دځان ساتنی پخاطر له هیوادځخه وتښتیدل دداسی وضعی په رامنځ ته کیدوسره لاپسی ګډوډی زیاته شوه .

ستروځواکوپه‌پیله چی د حالاتو دکنترول لپاره یوځه کول پکاردی، خودستروځواکوپه ورانـدی د دواړو المانودیوکیدومسئله ډیره مهمه ده اوپه دی هکله دانګلستان صدراعظمی میرمن تاچر داحتیاط ځخه د کاراخیستوپه برخه کی خبری کړیدی .

پرالمان باندی دځلور ستروزورګیرځواکونه له تیرودیرشو کلونو راهیسی پدی مسئله دخبرو اترو اومفاهمی لپاره تیارشوی ندی خواوس هغو هریودامحسوسه کړی ده چی هغوی پربرلین باندی په قانونی توګه خپل حاکمیت ساتل اوتراوسه دسولی دنامه کوم لیک باندی لاسلیک ندی شوی . هغوی پدی مسئل باندی دغوراو فکرکولو پخاطرخپله شریکه غونډه راوغوښتله اوپریکړه یی وکړه چی ځه کول غواړی .

دحالاتو له کابووتللوروسته یی یوه اعلامیه خوره کړی وه چی پکی المانیانوته داسی خطاب شوی و: هغه یو ماتی خوړلی قوم دی اودهغوی لپاره ګونګه ژبه (مجهوله پالیسی) استعمالیږی چی تردی دمخه یوی بل ډول هم دامسئله ځیړل وه بڼ ته اخطارورکړشوی وچی پخپلو پولو (سرحدونو) کی دننه اوسی.

یونانسوی لوړرتبه افسرویل دی چی : دستروځواکونو دغونډی هدف داوچی المانیان پدی وپوهوی چی دبرلین واک دچاسره دی یاپه بله وینا خورته ویښی چی که ځه هم له ٤٤ کلوراهیسی جنګ بندی شوی خوجګړه پای ته نده رسیدلی .

یوبرتانوی سیاست پوه په ۱۸۹۰ع کال کی ویلی ووچی را تلونکی جنګ به بیله کوم فکراوسنجش له بالکان ځخه پیل شی دهغه داخبره اوس په ثبوت ورسیده ځکه چی ارچ دیوک فریندند سراجیو ووژل شو.

داوخت ۱۹۱۲ع کال وچی په دوه میاشتو کی دننه ۹۰٪

مشکلات د کورنیو په بناء پیداشوی دی .

دځایونو اوپولو دمعلومولو له امله زیاتی جګړی کیږی . کوم هیوادونه اوریاستونه چی دفرانسی له انقلاب نه وروسته په اروپاکی منځ ته راغلی هغه دکلورنیو پرېنسپټ [illegible] له جوړشوی چی پدی توګه دااوسنی حالت دهغی زیږنده ده. کله چی بیانوی زمانه پیل شوه نووضعه لاپسی مخ په خرابیدوشوه اواروپایی نړی دهغی پرخلاف پورته شوه .

البته دتیرو ځلویښتوکلوراهیسی په اروپاکی دااوسنی وضعه نه وه ځکه اروپایی هیوادونه پدی پوهیدلی

ځینی مسلمانان لدی اوسنی وضعی ځخه غلطه نتیجه ګیری کوی چی ګوندی اروپایانو دنوی تاریخ له یاده ویستلی اوځلویښت کاله وروسته هغوی غواړی یوځل بیاپخپله زړه لاره قدمونه واخلی .

نیمایی نړی ته دجګړی تاوورسید .

دبالکانی سیموته هیڅکله استحکام نه وپه برخه شوی په خاص ډول کله چی عثمانی حکومت په شاتګ وکړ نوویل کیدل چه چی بالکان داروپا لپاره دغمونو اوخپګان پیټی دی هغوی باید اروپایان پخپله ولکه کی وساتی لکه ځنګه چی عثمانی سلطنت په خپل وخت کی دغه متضاد عناصر په خپل واک او ولکه کی ساتل وو. ددی یوه وجه داوه چی هلته ډیری جګړی کیدی اولامل یی داوچی په اروپا کی دخاوری په پرتله دنفوسو شمیرزیات دی دابراعظم دآسیادبراعظم دیوی (جزیره نما) اندازه ده • چی هلته دپولو(سرحدو)

دی چی له تیرشوی سترنړیوال جنګ ځخه ځه په لاس راغلی دی مطلب داچی ځه یی ترلاسه نکړل . هغوی اوس داپریکړه کړی ده چی دجنګ پرځای به خپلی مسئل اوکړکیچونه ستروځواکونو ته سپاری اوستروځواکونو به دهغوی باندینی تګلاره جوړوی چی نن سبا په همدغه پالیسی باندی عمل کیږی اودااوسنی وضعه چی ځنګه ده همداسی به وی .

ځینی مسلمانان له دی اوسنی وضعی ځخه غلطه نتیجه ګیری کوی چی ګوندی اروپایانو دنوی تاریخ نتایج له یاده ویستل اوځلویښت کاله وروسته هغوی غواړی یوځل بیا پخپله زړه لاره قدمونه واخل . دوی (ځینی مسلمانان)

پدې برخه کې ډېر تېروتنې اوغلط شوي دي . داسې ليدل کېږي چې اروپايي ترجمانانو د دې باور پيداکول پيل کړي دي چې ختيزحکومتونه هم د دوی پربل پاندې په تللو مجبوردي ، مدځلاري اوپانگوال سلوك به خپلوي اوجمهوريت به غوره کوي ، رښتيا هم چې نوموړې خبره په باورسره په نظرراځي اودا ويره ده چې ختيز حکومتونه به فاشيستي لاره خپله کړي .

له چکوسلواکيا پرته په بل کوم هېوادکې زيات بدلون ندی راغلی چې د هغې په لومړيو بيانو کې د جمهوريت اوجمهوري ارځښتونو پيروالی دی . په هنگري کې لومړی فاشست حکومت جوړشو . په رومانيه کې مطلق العنانه پاچاهي وه خو پای ته ورسيده اوپرځای يې فاشست حکومت رامنځ ته شو .

خود پولينډ تاريخ دا دی چې هلته ناا‌هل ، بدسلوکي اوامريت پنجې ښخې کړې دي .

که چېرې د دې پېښوپه تاريخي پس منظر رڼا واچول شي اود بلغاريا اوسنی وضعی ته وکتل شي معلومه ده چې هلته سياست حکومت کوي .

دانگلستان صدراعظمه ميرمن تاچر اودهغې انډيوالان اوسني بدلونونه د ويرې اوپاراچونې په نوم يادوي خوپه زړونو کې پرې خوښ دي له همدې امله شپاړس (١٦) ميلونه وطن پاله المانيان چې د زوراوفشارپه وجه د لويديزالمان سره يوځای کېږي نوخوك به داوويل شي چې لويديز المان د خپل رسوخ اووقار پربنا وکولای شول چې

ختيز المان يې له ځانه سره يوځای کړ .

لويديز المان لگيادی هڅې کوي چې پدې لاره کې له نورو وسيلو څخه هم کاروا‌خلي . د رښتيا هم چې متحدالمان د څلورم المان د سلطنت بنسټ جوړيدای شي ، په خپله سيمه کې به پوستتر طاقت وي اوډېرزربه وي چې پرته له ختيزه اروپا برلاسي ومومي اوډېراختيا کړي يې ترتوري بحيرې (بحيره اسود) پورې ورسيږي اودابه بيا هغه المان وي چې د ١٩٣٩ع کال د مخه و .

پاتي د زوي جنازه

خپل اولادته مې د حلالې روزۍ د گټلو په خاطر کارکولو ته ملاتړلې ، د لوونو وخت و ، په همدې خاطرله کوره راووتم ، خوخلکو به چې ماته کاته اولوته ، نو به يې راته ويل ، کاکاجي لوگري مونه لگي ، ستادې کورودان وي ، چې پرماخوارکې موزړه وسيزه .

په لوکولومې پيل وکړ ، له څوستريو ريبدلو وروسته به مې ملاته سميده ، خپل رزاق ښتن ته مې توبې ايستل پيل کړل اوپه دنيا ـ آخرت کې به مې د خپل ژوندانه د سمون غوښتنه ترې کوله ، کله به د څلورپنځو ستريو له ريبدلو وروسته فکروکړ ، چې څه که خيروي ديو څو ورځنو

د کورمصرف خو به وگټم ، تو له ورځ راپاندې په همدې فکرونوکې تېره شوه .

د پولې خواته مې دده لگول وه په فکرونو کې تلل وم ، د يوسف جان څېره مې سترگوسترگو کې کېده ، پدې کې راپاندې آواز وشو ، حبيب کاکا څه کوې ؟ کورته نه ځې ؟ ماورته وويل نه کورکې به څه وکړم ، چې خپل اولادته يوڅه وگټم داراته ښه ده ، زه کورنلرم ، کورخودهغه چاوي ، چې څه پکې وي ، خدای (ج) دې څوك راکې نه وژني ، باوروکړه چې د کفن پيسې هم نلرم ، بس وروره ژوندد دې تيريږي چاغلی وخوړې اوچاخاوري ايري وخوړې ، سړې غل کبيناست له سترگويي اوښکي راروانې شوې ، په سلگيويي پيل وکړ ، مافکرکاوه چې زماپربې وسې اوناتوانې ژاړي ، پوښتنه مې ترې وکړه ، وروره! ولې ژاړې زماد غريبي ژوند مزه درنکړه اوکه څنگه ؟ هغه غل شو ، بيامې ترې وپوښتل ، ولې ژاړې ، هغه راته په ځواب کې ئې وويل ، دلوړې هديرې نه دې جوړې شوې ، تامخکې وويل چې په کورکې د کفن پيسې نه لرم ، نوما ته ژړاراغله ، نواوس درته وايم چې لو پريږده ، راځه چې يوسف جان شهيدشوی دی ، جنازه يې تيياره ده ، د دې غږ په اوريدو سره مې ملاکږه شوه ، بيامې پوالې ته تکيه وکړه له خولې مې اوتري اوتري چيغې ووتې ، په اخرکې مې حوصله پرځای شوه اوپه زړه کې مې تيره شوه ، خدايه (ج) ستارضاده لوگري ښه يم چې کمونست نه يم .

بقیه حقایقی پیرامون ...

درشریعت اسلام فرقی میان شب وروز هانیست وهمه نزد خدایك سان اند ونشانه ای از مواهب خداوندی ، واگر شبی ویا روزی به احترام یاد می شود، بخاطر وقوع حادثه ای است که درآن هنگام رخ داده است و تاثیری که همان حادثه بجاگذاشته است ، زیرا بعضی حادثات تاثیرات بس عمیق وجاودانی درحیات بشر داشته میباشد که امت ها ازآن درآینده ها بعنوان یك حادثه تاریخی وعبرت آور یاد آوری میکنند . بدون شك نزول قرآن اثربزرگ وعمیقی درروح وروان ومعادلات جاری مسلمانان وغیرمسلمانان داشته است . نزول قرآن نعمت بزرگی بودکه بشریت گمراه رابه جاده نور وهدایت تسویه کرد . بهمین نسبت است که خداوندمتعال نسبت نزول قرآن راشب قدر گفته ومرتبه آنرا بهترازهزارماه خوانده است ! شبی که درآن مقدرات معین می شود واز ارزش خاصی برخوردار است . هرچند درباب زمان شب قدر نصوص زیادی هست ولی آنچه مسلم اینست که این شب نامعین است .

چنانچه امام بغوی میگوید که خداوند این شب را برای امت اسلام به این خاطر مبهم گذارد تادرتمام شب های رمضان ازطمع درك آن به پرستش سبحانه وتعالی مشغول باشند .

منابع ومآخذ :
۱ـ قرآن مجید (تفسیرکابل)
۲ـ الاتقان فی علوم القرآن
۳ـ تاریخ قرآن

پاتې افغانستان په تیره ...

دامریکاپاتو یوه موسسه چې ظاهراً د«گوندو» سره دمرستې په نوم جوړه شوې وه اوپه اصل کې ئې خپل پلید پروگرامونه پرمخ بیول چورکړه اودهغې سامان ئې تالاو الاکړ، دکیمپ یوه غړي وویل دې موسسې بیخي فساد خپاراوه اومونږ څوځلي پاکستاني مقامات ورځني خبرکړي و و چې آخر مبجورشو دا کار مووکړ، په دې تور پاکستاني مقاماتو ځيني کسان نیولي دي .

دغوائي ۸ داپریل ۲۸ : دکابل دگوداگي رژیم دبهرنیو چارو وزیر وکیل دملگروملتو دمشرکوئیارسره ولیدل اودافغانستان دمسئلې پرروانو حالاتو ئې ورسره خبرې وکړې همدارنگه

وکیل دعراق ، مصر ، اوزمبابیو له بهرنیو چارو وزیرانو سره هم لیدلي ، گوداگي رژیم غواړي په اسلامي کنفرانس کې دافغانستان چوکي بیرته لاس ته راوړي .

بقیه مفاهیم دین و ...

بحث معلوم شد که درنتیجه اختلافات شرایع اختلاف دین رونما نمیگردد بلکه بازهم دین یکی میباشد ولواینکه راه های عمل به آن شریعتها مختلف باشنگ . چنانکه میدانم پیش از حضرت محمد(ص) پیغمبران مختلف باشرایع متفاوت ازجانب خداوند(ج) فرستاده شده اند وهرکدام از پیغمبران علیهم الصلواه والسلام به امتان خویش همان شریعت را تبلیغ کرده اند که ازجانب خداوندجل جلاله برایشان وظیفه سپرده شده بود وپیروان آنها با آن همه تفاوتها یی که درشرائع ایشان موجودبود خالق جهان را بندگی نموده اند ومسلمان بوده اند ؛ بخاطراینکه ازدین حق پیروی کرده اند . درقرآن عظیم الشان که آخرین کتاب سماوی است درمورد متقیان چنین هدایت آمده است : « والذین یومنون بما انزل الیك وماانزل من قبلك » یعنی کسانیکه ایمان آورده اندباآنچه بتونازل شده وبآنچه که قبل ازتونازل شد .

ولی به مجرد مبعوث شدن حضرت محمد(ص) به صفت آخرین پیغمبران خداوند(ج)به بنده گان خویش فرمان دادکه حالا سنت های گذشته رامنسوخ ساختیم درآینده کسیکه میخواهد مسلمان باشد باید طوری عمل کند که حالامابوسیله آخرین پیغمبرخود هدایت میدهیم پس از بعثت حضرت محمدصلی الله علیه وسلم بنده حق ندارد طبق روشها وسنتهای سابق عمل کنند زیرا اگرحالا بنده مقررات جدید یعنی مقررات شریعت محمدی (ص) رانمی پذیرد ومطابق به مقررات سابق رفتارمیکنند اززمره بنده گان مسلمان وراستین خارج شده وبه اصطلاح دینی کافرشده است .

بقیه حکومت سه قدرتي

درنتیجه نهنگ باوجود قدرت وجسامت بزرگ مغز خودرا بکلی ازدست داده فاقد قدرت سرعت عمل تصمیم گیری وتفکر مستقل گردید که درنتیجه آن فیصله ای راصادروعمل کرده می توانست

تمام این مسایل سیستم رابه لبه سقوط کشاند حتی اردو عملاً قابلیت واستعداد جنگی خودرا ازدست داد. حزب ازاین تجربه تلخ چنین نتیجه گرفت که باید درسیستم فعالیت مغز اردو مداخله نکند، حتی اگر این مغز ازکار کردن براساس خط حزب دست بکشد. حزب وکاچي بي ترجیح دادند که تنها به کنترول ونظارتجسم نهنگ توجه کنند نه به کنترول مغز آن ونه به گوشهای شنواوچشمان تیز ونافذ آن.

پاتي دظفرغوند ...

پیل څخه تقریباً دولس کاله تیرشوی په دادومره موده کي زموږ دجهادغږدنړی ټولو ملتونوته رسیدلی اوزموږ دجهاد حقانیت اومشروعیت ټولو نړیوالو ته څرگندي ټولی دنیاته څرگنده ده چی روس دټولو سیاسی اواخلاقی موازینو په ماتولوسره پرافغانستان بلوسه وکړه اودافغانستان مسلمان ولس دخپلو ټولو دینی اومعنوی نوامیسو او زمکنی بشپړتیانه ددفاع په خاطر دسره پوځ مقابل ته چمتوشو روس ماتی ته اړشو اودسیاسی اونظامی وجاهت بوت یی دافغان مسلمان ولس په لاس دړی وړی شو، دنړی ټول محکوم ولسونه دافغان جهاد نه په الهام اخستلو سره تیاری ته آماده شول اودادی واړه وار دسره سنکیلاك څنځیرونو په شلیدودی نودنړی ټول آزادی خوښی ولسونه له افغان جهادنه ملاتړ کوی. پهاتی شول استعماری هیوادونه هغوی خوتل داهڅه کړی چی واړه ولسونه تر ستونی تیرکړی، آزادی غوښتونکی غورځنگونه وټکوی، په سیاسی غونډوکی یی مخالفت وکړی اوپدی توگه دخپلو استعماری گټو دبقا چانس ترلاسه کړی خوزه دنړی داوسنیوسیاسی جریاناتو په رڼاکی داویلای شم چی استعمارچیان نوردآزادی غوښتنی دغورځنگونو مخه نشی نیولای روس چی دخپل ټول پوځی ځواك په استعمالو لوسره زموږ دجهاد دېری مخه ونشوه نیولای نوامریکا اودهغه اندیوالان خوییی هیڅکله هم نشی نیولای.

نجیب دگورباچوف انگي

اونجیب شاه غوندی انگیزو عنوانول تش ددی له پاره دی چی موږ دنړیوالوپه سترگوکی سپك وښیی، اوورسره له دی لاری مواسلامی انقلاب وټکوی.

انگی هم چی داوضعه گوری، پوداسی پوزگانته غوره کوی، ته به وایی چی رښتیانی وجودلری. په داسی حال کی چی انگی خوییو موهوم او خیالی موجودوی، په واقع کی څه حیثیت اووجودنلری. بلکی شتون یی دبل مرهون منت وی. یعنی دنجیب دموجودیت له پاره ضروربايد یوگورباچوف موجودوی.« انگی انگی مل دی څوك دی؟، گورباچوف».

مورته وصیت

که ګولي مي وي په شا باندي خوړلي
مورې ! پې دي راونه ښني سېځلي
یاپه صف کي له غازیانوشولم پاتي
بیا په مخ لاړي را توکړه څو ځوځلي
داسلام دښمن چي نیست ، تارومار نکړم
راته ونه وائي زوي موري ښاغلي
دالحاد ښفربه ټول شي له جهانه
دتوحید جبهي چي پوښي خیالولي
دهدف باغ چي خړوب په وینو نشي
وبه نه نیسي میوه ،خوږه غښتلي
هیڅ قدرت دزماني به مي مات نکړي
په رسۍ د حبل الله مي ملاتړلي
پري تازه چي بیا د "بدر " خاطري شي
نذارانه به تري کړم غوښي دزړه خپلي
څه رضا چي دخالق وي هغه کیږي
داراو ویره مي له خیال ځني وتلي
" ابراهیم " (ع) باندي پي اورګل وګلزارکړ
پرښتي ئي حفاظت لره راتللي
بس همدومره ما " قاطن " لره کافي ده
شهیدانو ، شهادت کي ده موندلي

PROPERTY OF ACKU


دافغانستان د ډېرې داوادي له پاره
د زبرځواکو نوی اقدام
د فرنټير پوسټ په مننه
ZAHIR.

یادشهید بزرگوار ضیاألدین " پیلوت " سرقوماندان قیام
نظامی سال ۱۳۵۲ حزب اسلامی افغانستان گرامي باد

چاپ مطبعه حزب اسلامي افغانستان